اسلام

او د اسلام نقش
د فرد او جامعې په جوړولو کښې

د ګل پاچا الفت

Ketabton.com

مرتب او مهتمم: عزیزالرحمن الفت
د چاپ او ترجمې حق په مهتمم پورې اړه لري
د حوت ۱۰-کال ۱۳۵۶ هجري ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

عنوان:	مخ:
تقریظ (عزیز الرحمن الفت)	الف-ها
مقدمه	۱_۲
محمد (ص)	۲
اسلام ته خفی دعوت	۲
د اسلام اظهار	۳_۲
بلال	۳
یاسر، عمار بن یاسر او سمیه د یاسر ښځه	۴
خباب	۴
صهیب	۴
عامر بن فهیره	۴
لبیبه	۴
اسلام	۸_۵
اسلامی جامعه جوړول	۱۰_۸
طبقاتی جامعه د اسلام په نظر کښې	۱۳_۱۰
مساوات	۱۵_۱۳
مشوره	۱۶_۱۵
عدالت	۱۷_۱۶
فردی آزادی	۱۹_۱۷
امر په معروف او نهی له منکر څخه	۲۰_۱۹
د ظلم مخنیوی	۲۱_۲۰
مرسته او تعاون	۲۶_۲۱
فرد جوړول	۲۷_۲۶
مالکیت او مالی سیاست په اسلام کښې	۳۲_۲۷
د اسلامی اخلاقو غایه او اغیزه	۴۰_۳۲
جود او سخا	۴۱_۴۰
زید بن حارثه	۴۲
اسامة بن زید	۴۳_۴۲
حضرت ابوبکر صدیق (رض)	۴۳
حضرت عمر (رض)	۴۵_۴۴
حضرت علی کرم الله وجهه	۴۶_۴۵
عمر بن عبد العزیز	۴۷
ابو عبیده بن جراح	۴۸
خالد بن ولید	۴۸
امام ابو حنیفه	۴۹_۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان:	مخ:
یونس ابن عبید	۴۹
ابوبلال	۴۹-۵۱
اسلامی تصوف	۵۱-۵۳
شریعت او حقیقت	۵۴-۵۷
دصوفیانو مقامونه او احوال	۵۷-۵۸
قادریه	۵۸
رفاعیه	۵۸-۵۹
احمدیه	۵۹
دسوقیه	۵۹
اکبریه	۵۹
شاذلیه	۵۹
مولویه	۵۹
نقشبندیه	۶۰
چشتیه	۶۰
دتصوف دري مدرسې	۶۰
لومړۍ مدرسه	۶۰
رابعة العدویة	۶۰
ددي مدرسې ځینې غړي	۶۱
ابراهیم بن ادهم	۶۱
سفیان ثوری	۶۱
ذوالنوان المصری	۶۱
ابوالقاسم جنید	۶۱-۶۲
اتحاد او حلول	۶۲-۶۳
دوهمه مدرسه (کشف ومعرفت)	۶۳-۶۵
دریمه مدرسه (وحدة الوجود)	۶۵-۶۶
محی الدین ابن عربی	۶۶-۶۷
مولانا جلال الدین	۶۸
دتصوف په باب ځینې آیتونه او حدیثونه	۶۸-۷۰
متکلمین او علم کلام	۷۱-۷۲
وعد او وعید	۷۲
احباط	۷۳
شفاعت	۷۳
دپیغمبرانو عصمت	۷۴
معجزه او نبوت	۷۴-۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقریظ

دپلار له مرګه وروسته ملګرو راته وویل چه پس لدې ته باید دهغه په هرنا چاپ شوی اثرباندې چه وروسته تردې راوځې یوڅه ولیکې.

دهمدې مطلب دپاره مې دخپل پلار دغه اثرچه اسلام او داسلام نقش دفرداو جامعې په جوړولو کښې نومیږي څو ځلې ولوست او په نتیجه کښې دا راته معلومه شوه چه ماغوندې یوه سړي ته چه په دین باندې اساسي مطالعه نه لري پدغسې یوه کتاب باندې چه مؤلف ئې شل کاله ددیني علومو په تحصیل او څلویښت کاله ئې پدې لاره کښې په څیړنو او مطالعو تیرکړی وي، څه لیکل اسانه کارندی.

په حقیقت کښې همدا کتاب زما داسلامي مطالعې شروع او آغازګڼل کیږی. بیا هم دغه څو کرښې دیوه متجسس او دهغه دپیرو په حیث چه دځوی ولی ډیره ټینګه مینه او جذبه ئې هم ملګرې ده لیکم.

څلویښت کاله پخوا کله چه مرحوم الفت صاحب په عربي ژبه کښې دصرف، نحوې، منطق، بدیع بیان، معاني ، فقه، وصول الفقه، تفسیر او دحدیث کتابونه ولوستل او په ځان ئې دا اعتماد حاصل شو چه دمطالعې له لارې دنالوستلو کتابونو تدریس هم کولی شي، درس لوستل ئې پریښوده او دفامیل دمعیشت دتامین دپاره ئې ماموریت ته مخه وکړه.

دالفت صاحب دهغې زمانې دیني لوست او تحصیل پنځوس کاله وروسته نتیجه ورکړه او څو تکمیل یانا تکمیل واړه اوغټې دیني کتابونه ورنه جوړ شوه چه یوئې همدغه کتاب دی. په دې ترتیب داخبره صحیح شوه چه الفت صاحب له ملائی نه شاعری او لیکوالی ته، له هغه نه سیاست او پارلمان ته اوله دغه ځای نه دډیرو تجربو او علمي ذخیرو سره بیرته غائي اونهائي حقیقت ته او پدې لاره کښې خدمت ته رجوع وکړه.

داکتاب دمرحوم الفت صاحب دژوندانه دوروستیو شپووروستی اثردی چه دکلونو کلونو مطالعو او تجربو نه پس، او دخدای دکور دزیارت له اداکولونه وروسته (د ۱۳۵۳ هجری کال شروع) ئې دهغه په لیکوپیل وکړ او دخپل ژوند دوروسته سلګیو دپای ته رسیدو سره ئې پای ته ورساوه(دقوس آخره ۱۳۵٦) .

پدې اساس عالم الغیب خدای ددې کتاب هست او ژوند دالفت صاحب له نیست او مرګ سره له اذله یوله بله تړلی او ملګری کړی و.

داکتاب که څه هم دمتن له حیثه تکمیل و مګر نور کارئې پاتې و.

مؤلف پخپل قلم دکتاب په ځینو برخو باندی ځینې علامې ایښی وې اوله ځینو برخونه ئې سره خطونه تاوکړی و یا دا چه ځینې کرښی ئې یوځل محوه کړی او بیائې بیرته پدغو محوه شوو خطونو دصحت علامې لګولې وې. ځینې داسې عبارات هم پدې کتاب کښې شته چه صرف په نښه شوی او نه معلومیږي چه دڅه دپاره؟

دکتاب ډیرې پاڼې پاکنویس شوی هم نه وې او په مشکل سره لوستل کیدې. دکتاب سره دماخذونو فهرست هم نه و موجود او دهغه علت به شاید دا وی چون کتاب اصلاً تحلیلی لیکل شو ی او دخپل فکر او نظرنه ورکښې کار اخیستل شوی نو ځکه کتاب ما خذونه نلری یا ممکن وروسته به دا کار شوی وای.

دغه دلایل دا خبره واضحه کوي چه دشکل په لحاظ دکتاب څه کارپاتې و او مؤلف غوښتل چه پدې کتاب باندې بیا غور او فکر وکړي مګر اجل نور مهلت ورنکړ.

دتجدید نظرپه وخت کښې شاید دکتاب ځینې مطالب وړاندې وروسته شوی هم وای.

قدرت له یوې خوا غوښتل چه دغه اثر دالفت صاحب دفکر او نظر محصول وي دده په تحلیلي فکر او نظر ولیکل شي مګرله بلې خوائې داهم اراده وه چه د تجدید نظردپاره ورته وخت او فرصت ورنکړي او دغه ضرورت بې ضرورته وګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مادکتاب په تدوین او نقلولوکښې ځانته دهیڅ راز مداخلې، تصرف یا لاس وهنې حق ورنکړ او یواځې مې داصلي نسخې له مخې نه یوبل نقل تهیه کړ.
علاوه ددې کتاب دآیتونوله تطبیق نه دقرآن پاک سره ما دهغه اعراب هم دقرآن داعرا بو سره برابر کړه ځکه چه دکتاب ایتونه اصلا اعراب ګذاری شوی نه و، مادکتاب دآیتونو حروف هم په قرآنی تورو او حروفو واړول.
داکتاب پدې لاندې مطالبو باندې بحث او ځیړنه کوي:

١- اسلام.
٢- صالح عمل.
٣- اسلام او ایمان.
٤- داسلامی جامعه جوړول.
٥- طبقاتی جامعه داسلام په نظرکښې.
٦- امرپه معروف اونهی له منکرڅخه.
٧- دظلم مخنیوی.
٨- مرسته او تعاون.
٩- دفرد جوړول.
١٠- مالکیت اومالی سیاست په اسلام کښې.
١١- داسلامی اخلاقو غایه او اغیزه.
١٢- جود او سخا.
١٣- اسلامي تصوف.
١٤- شریعت اوحقیقت یا تشریع او تحقیق.
١٥- دصوفیانو مقامونه او احوال.
١٦- دتصوف طریقې.
١٧- دتصوف مدرسې.
١٨- دتصوف په باب ځینې آیتونه او حدیثونه.
١٩- متکلمین او علم کلام.
٢٠- اجتهاد.

ددغو مطالبونه چه هر مطلب پدې کتاب کښې ځیړل شویدی هغه آیتونه او احادیث هم ورسره یوځای بیان شویدی چه دهمدې مطلب یاموضوع داثبات دپاره لازم او ضرورۍ. وروسته بیا ددغو مطالبو دعملي جنبې دښه روښانه کولو اوترسیمولو دپاره دحضرت محمد (ص) دیارانو، اصحابو او نوروواقعی پیروانو په لنډې پیژندنې سربیره دهغوی دهر یوه دژوندانه شخصي او اجتماعي اعمال، احوال او کردارهم دهغوی دحیات په مختلفو مراحلو کښې ځیړل شوی دی ترڅو پدې ترتیب دهرې موضوع او هر مطلب دنظراو عمل ترمنځ کامل توافق، تطابق او هم اهنګی ښه څرګنده شي او دا مطلب ډیرښه افاده شي چه اسلام بې عمله ایمان یابی ایمانه عمل نه خوښوی، ځکه چه داسلام په صدر کښې هغه څه چه داسلام پیغمبرحضرت محمد(ص) اونورویارانوئې ویلی هغه ئې هماغسې په ځانونو باندې تطبیق کړیدي.
داکتاب چه ډیر ساده، سلیس، روان اوعام فهمه لیکل شوی ترټولوزیات دعامو خلکو دپاره ګټورثابتیږي او هغه محروم عوام ددین په اصلي ماهیت او واقعیت ښه خبروي کوم چه تر اوسه له هرڅه نه محروم اوبې خبره ساتل شوی ؤ حتی دخپل دین دمزیت نه هم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کښې تر اوسه چه د اسلام په باب په پښتو ژبه کښې څه ليکل شوی اکثراً په فرايضو او واجباتو يا د دين د ارکانو په باب دي او د صالحه اعمالو په برخه کښې د مسلمانانو اجتماعي وجايبو او مکليفتونو باندې څه ندی ليکل شوي.
ځيني کتابونه داسې هم دي چه د آياتو او احاديثو ترجمه ئې دومره مغلقه او پيچيده وي چه د جامعې ډير لږ خلک يا يوا ځي خواص ئې په مطلب ښه پوهيدی شي او عام خلک ورنه بې برخې پاتې دي. له دينه د عامو خلکو بيخبري او ناخبري شايد چه ډير دلايل او عوامل ولري مګر يو علت به ئې همدغه د ترجمو موضوع هم وي.
داسې کتابونه هم شته چه ديوې واقعې يا يوه مطلب په افاده او بيان کښې د هغې واقعې په عملي روش يا تاريخي جنبې باندې چه د اسلام په صدر کښې هم پيښ شوی وي او د حضرت محمد (ص) او د هغه د يارانو او اصحابو عملي تجويز يا تصميم هم په هغه مورد کښې معلوم او مشهور وي څه نه وائي او جريان مجهول پريږدي.
دا کتاب علاوه تردې چه د خپل متن د هرې موضوع د پاره د تحليل او تحقيق شکل لري پورتني مطالب ئې هم ټول په نظر کښې نيولی دی او لدې لحاظه ويل کيدی شي چه ممکن دا به په پښتو ژبه کښې اولين اثر او کتاب وي چه د دې هيواد عام خلکو ته وړاندې کيږي ترڅو چه له يوې خوا د دوی فکري او ذهني سطحې د لوړولو او ارتقا سره مرسته وکړي او له بلې خوا د اجتماعی وجايبو او تکاليفو يا د صالحه اعمالو په سلسله کښې عامو خلکو ته يو لړ ډير عمده ټکي او مطالب په لاس ورکړي او په دې وسيله دوی په خپلو اجتماعی او انسانی روابطو کښې خپلو هغو دينی وجايبو او مکلفيتونو ته ښه متوجه او ملتفت شي چه تر اوسه ورته نه و متوجه شوي او يائې نه و پيژندلي.
همدغه د مسلمانانو اجتماعی وظايف او مکلفيتونه دي چه په ټودې او جامعې ئې اثر پريوزي او تعلق ورسره نيسي او دغه مکلفيتونه دي چه مسلمانان اجتماعی خدماتو ته چمتو کوي او د خدای له مخلوق سره ئې مينې او همدردی ته راکاږي، اجتماع ته شکل او صورت ورکوي او تنظيم پکښې راولي.
نوځکه دغه موضوع د دغسې خاص اهميت په اثرددې کتاب د بحث او څيړنې اساسي محور تشکيلوی.
د هغو آياتو په اتکاء او استناد چه پدې کتاب کښې بيان شوي دي هغه څوک چه په اجتماعی وجايبو او تکاليفو کښې مقصروي تش زهد او محض عبادت ئې له الهی عذاب او عتاب نه نشي ژغورلی. يوه مسلمان ا و د اسلامي ټولنې افرادو ته لازم او واجب دي چه خپل اجتماعي وظايف، تکاليف او مکلفيتونه چه د صالحه اعمالو عمده رکن دی او د اسلام د دين ټول اجتماعي اساسات ور باندې ولاړ دي د فرايضو او واجباتو سره يوځای څنګ په څنګ او په مساوي او موازي توګه پرمخ بوځي، يوا ځې مونځ د ديندارۍ دليل او عامل ونه ګڼي، ځکه چه پاک خدای د خپل هر بنده سره د هغه د اجتماعی روابطو او مکلفيتونو په اساس هغسې معامله، محاسبه او عمل کوي.
کوم بل عمده نقش چه دا کتاب ئې لري دا دی چه هغه فکر او نظر چه وائي دين بايد د ژوندانه په سياسي، اقتصادي، اداري او اجتماعي چارو کښې مداخله ونکړي او يوا ځې د عبادت په چوکاټ کښې په مساجدو او کتابونو کښې محبوس او محصور پاتې شي، په اساسي او قاطعه توګه ترديدوي او دا ثابتوی چه د اسلام دين پخپل نهاد او تهداب کښې د مسلمانانو په ټولو اجتماعي روابطو او د هغوی د ژوندانه په ټولو امورو او ساحو باندې کامل تسلط او نفوذ لري او يوا ځې په عباداتو پورې مربوط او منحصرنه پاتې کيږي د اسلام دين چه د بشر د سعادت تضمين کوي طبعاً بايد د هغوی د ژوندانه په ټولو امورو باندې کنترول ولري.
دا کتاب په ډير ښه ترتيب او ښه صورت سره د ډيرو تاريخي پيښو او واقعيتونو په بيانولو او د ښو مثالونو په څرګندولو سره دا ثابتوي چه اسلام د خپلو پيروانو د اداري او سياسي تنظيم او سمون د پاره ډير سودمند او جامع مقررات لري، تقوی او اهليت هغه دوه عمده پرنسيپونه دي چه او لاً د اسلام له خوا د اداري د پاره وضع شويدي او دا کتاب پدغه لړ کښې د هغې اسلامي جامعې خصوصيات، شکل، اساسات، ماهيت، اقتصادي او حقوقي سيستمونه داسې تشريح کوي چه په هر وخت او هر عصر کښې د خپلو پيروانو د دغو ضرورتونو او احتياجاتو د اساساتو او کلياتو ډير ښه جوابګوی وي، چه پخپله مؤلف هم ورته پخپل مختصر و الفاظو کښې داسې اشاره کړيده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

((هغه سیاسی جامعه چه اسلام د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له وخته د حضرت عمر (رض) دوهم خلیفه ترشهادته، او وروسته ترهغه هم کله کله دنیاته وړاندي کړه یوه داسې جامعه وه چه سیاسي قدرت پکښې بې کبره او بې غروره دډیر صالح خدمتګار په حیث استعمال شو او عدالت وتقوی، مساوات، مشوره، حریت، قناعت او په نفس حاکمیت ئې هغه ښکاره خصوصیتونه او ممیزات وچه نظیرئې بیا چاونه لید.))

دسیاسي، اجتماعي او اقتصادي دیموکراسۍ په واقعي مفهوم او ددغه اصل دریښو اونیلوپه وده او انکشاف باندي پوهیدل چه څنګه، څه وخت او په څه ترتیب مینځ ته راغله داکتاب ډیره ښه رڼا اچوي او دغه پدیده د نورو پیغمبرانو او په تیره بیا د اسلام د پیغمبر او اسلامي دوري د نهضت مولود او محصول ګڼي او لدغه رهګذره کله چه داکتاب داسلامي صدر د جامعی اساسات څیړي او مطالعه کوي ددغي جامعي د جوړونکو یعني افرادو شخصیت، نظر، عمل او روش ته ګوري چه دغه جامعه له څنګه او کوم افرادونه جوړه شوې وه او بیا کله چه ددغي جامعي د افرادو شخصیتونه مطالعه کوي هلته په جامعي باندي نظر اچوی او د جامعي ماهیت او ساختماني شکل او حالت څیړي.

یعني د جامعي څیره او عکس دهغي د افرادو په څیرو کښې ګوري او د افرادو څیري او عکسونه ئې په جامعي کښې مطالعه کوي. طبعاً کله چه دا دواړه خواوي یو دبل ممثل، معرف او ممد وي د جامعي او جوړونکو ماهیت او خاصیت یو شي طبیعي ده چه ښه افراد، ښه جامعه جوړوي او ښه جامعه ښه افراد روزي او مینځ ته ئې راولي بیانو دغه شرایط خود په خوده او په اتوماتیکي ډول دهغي حقیقي او واقعي دیموکراسۍ دپاره ښه زمینه آماده کوي چه د اسلام د صدر جامعه ئې بهترین مثال و.

دافرادو او جامعي ترمینځ همه جانبه موازنه او توازن برقرارول او وساتل او ددواړو خواو دحقوقو، منافعو او آزادیو ترمینځ دتوازن رعایت او حمایه، دهغوی دهریوه دمنافعو ترمینځ د تصادم مخنیوی او په نتیجه کښې ددواړو خواو دقوت، قدرت او صلاحیتونو ترمینځ داسې حدود او سرحد ټاکل چه یوه خوا هم هغه قوت او طاقت ونلري چه بله خوا وخوري یائې نابود او ختم کړی د اسلامي جامعي دبارزو خصوصیاتو او مشخصاتو عمده او بارزصفت دی چه پدې کتاب کښې ئې ډیره ښه څیړنه شویده. دکتاتوره جامعه چه فرد او فردیت په کلي توګه محوه کړی یا فردی دکتاتوري چه دکتاتور لکه لویه هیولا او بلاوی خلک خپل مخلوق وګڼي او جامعه ورته، هیڅ قیمت او ارزښت ونه لری دواړه داسلام له نظره منفوردي.

دغلام او غلامۍ دسیستم کلي اضمحلال، الغاء او دهغه ریښې شنډول چه د اسلام تر راتلو دمخه ئې لکه هیولي دډیرو انسانانو په سرنوشت باندي لوبې کولې د اسلام د پیغمبر او په دنیاکښې د اجتماعي عدالت دبرقرارولو د یواځني قهرمان حضرت محمد(ص) او دهغه دیارانو په سیستماتیکي حرکت او عملی اقداماتو له مینځه ویوړل شوا و دغه تاریخي او انقلابی افتخار هم د اسلام د اجتماعي عدالت دتامین په برکت دی چه برجسته مثالونه ئې پدې کتاب کښې ډیرې په ښه صورت راټول او څیړل شویدي.

په اقتصادی لحاظ داسلام اقتصادی سیستم او روش ډیر قاطع او مشخص دی او صریح احکام لري، اسلامی عدالت او مساوات دانه خوښوی چه په یوې اسلامي ټولني کښې یوئې نادار او پریشانه او بل ئې دقارونی جایدادونو مالک او خاوند وي.

که د اسلام اقتصادي سیستم په یوه جمله کښې خلاصه کیدی شي نو ویلی شو چه له شتمنونه اخیستل او په ناداروئې ویشل د اسلام اقتصادي پالیسي ده او دغه ویش هم باید داسې وي چه د نادار حیثیت او انساني کرامت ته هیڅ راز صدمه ونه رسوي.

فاحشه سرمایه او غنا په اسلام کښې دسرکشۍ، فتنې، فساد، ظلم، کبر او تکبر تومنه او منبع ښودله شویده چه دهر راز بیعدالتیو سبب ګرځي.

له فساد سره مبارزه، له ظلم سره مقابله، له بیعدالتۍ سره مجادله دحق حمایه او دعدالت قایمول اسلامی امر او تعلیم دی نو ځکه داسلام دین ملاکي، سرمایه داري، خاني او سرداري نه خوښوي او په ښه نظر ورته نه ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه چه د پیغمبرانو د اوامرو په مقابل کښې سرکشي، تمرد او نافرماني همدغو خلکو کړیده، تحول او نوی دین دوی نه دی منلی او د ارتجاع حامیان او دزاړه حال طرفداران هم دوی پاتې شویدي.

فاحشه سرمایه او شتمنی پخپل اصل کښې د ظلم، ظالمانو او نورو بیعدالتیو په مقابل کښې خپل خاوند او مالک زبون، جبون، ترسو او بزدله کوي او د مجادلې او مبارزې جرئت، احساس، توان او شهامت ورنه اخلي او اسلام نه غواړي چه پیروان ئې زبون او جبون وي او د حق او عدالت په برقرارولو کښې د ظلم او ظالم له مقابلې نه وویرېږي یا وډار شي.

نو ځکه اسلام سرمائې او شتمنۍ ته ښه نظر نلري. البته هغه سرمایه دار چه خپله سرمایه د جامعې د خیر او د خلکو د ګټې دپاره په کار اچوي په اسلام کښې ډیر غټ حیثیت او مقام لري او په دغه ډله کښې نه حسابیږی.

اسلام نه یوائې فاحشه غنا او سرمایه چه د انسانیت دښمن دی بد ګڼی بلکه هرهغه شی چه له یوه انسان نه د هغه انسانیت اخلی نه خوښوي او داپدې چه اسلام اصلاً انسان ساز او انسانیت پروره دین دی.

غیرملي، غیر دیموکراتیک، غیرولسي مسلکونه او نظامونه چه د ځان بقا او دوام غواړي په یوې ټولنې کښې همیشه په سردار، ملاک، خان او سرمایه دار اتکا کوي، همدوی د خپلو اجراأتو د پرمخ بیولو دپاره جذبوي ځکه چه عقیدوي او مفکوروي نژدیوالی او اشتراک دوی یوله بله سره تړي او ملګری کوی داپدې چه دغه راز خلک په ټولنې کښې د تخریب، فتنې او فساد په خپرولو کښې خاص مهارت لری او غیرملی او غیر ولسي مسلکونه یا نظامونه خو په ټولنې کښې غیر د فساد له خپرولو نه بله سرمایه ګذاري اصلاً نه منلی شي او نه ئې کولی شي.

بیاهم همدا د اسلام دین دی چه هدف او مقصد ئې د اجتماعی عدالت تامین، د مساواتو براقراری او د واقعي دیموکراسۍ تعمیم دی نو ځکه ئې د فتنې، فساد او ظلم د له منیځه وړلو دپاره له خپله آغازه د دغو ظالمانو، سردارانو او سرکشو خلکو د مخالف قطب یعنې د تودې په اکثریت لکه نادارو، مظلومو، محتاجو، مسکینو او غریبو خلکو اتکا کړیده او د خپلو اجراأتو او اهدافو د پر مخ بیولو دپاره ئې هم دوی له ځانه سره شریک او ملګری کړی دی.

د حضرت محمد (ص) او د هغه دیارانو او اصحابو حیرانوونکی کارنامې، اجراآت، اقدامات او تعیینات پدغه مورد کښې هم د اسلام د دغه اقتصادي سیستم د تعقیب ښکاره ثبوت دی.

دا روش دغه حقیقت ثابتوي چه د اسلام د صدر جامعې د اجتماعي عدالت، کاملې برابرۍ او دیموکراسۍ دپاره خپل اداري او اقتصادي سیستمونه دواړه یوله بل سره هم آهنګ کړی وا و دیوه هدف د تامین دپاره ئې یوځای پرمخ بیول.

د حضرت محمد(ص) په مبارکو لاسونو باندې د حضرت بي بي خدیجې، حضرت عثمان او د اسلام د نورو ډیروو اقعي پیروانو د ثروت او دارایۍ د توزیع کولو طرز همدغو نادارو او بیوزلو ته داپه ټینګه ثابتوی چه یوائې او یوائې همدا د اسلام دین او هغه هم د حضرت محمد(ص) او د هغه دیارانو او اصحابو د وخت اسلام و چه رفتارئې د ګفتار او کردار سره یو وچه هغه په ډیر وسیع معنیٰ عبارت و د یوې سالمې او آزادې جامعی له جوړولو څخه.

عزیزالرحمن الفت

دحوت ۱۰- کال ۱۳۵٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

مقدمه

چاچه په بشري تاريخ کښې بې تعصبه صحيح تحقيق کړی او د منصف نظر خاوند دی دا مني چه پيغمبران، مصلحان او اخلاقي رهبران د بشريت لارښوونکي دي چه دانسان په تهذيب او اصلاح کښې ستره برخه لري او دجوامعو په ښه کولو او سمولو کښې ئې کار او زيار ډېر قدر وړ دی. دوی ددې دپاره چه نيکي په بدۍ او حق په باطلو غلبه ومومي، کړاوونه ګاللي، اورونو ته غورځول شوي، په کاڼو ويشتل شوي، په سولۍ خېژول شوي او رټل شويدي. ددوي په تعليم او تربيت ډيرنه سړي سړي شويدي او قومونه دانسانيت په سمه لار منزل مقصود ته رسيدلي دي.

هر دين په خپل وخت کښې دتکامل او ترقۍ په لور کاملا يو مفيد حرکت و چه بشريت ئې وړاندې بيولی او فرهنګ ته ئې لوی خدمت کړيدی، دفرد جوړښت او دټولنې ټولښت دلويو اديانو ميوه ده چه اسلام دغه ميوه نوره هم خوږه کړيده.

په دې کښې شک نشته چه دفرد او جامعې ښه والی او سموالی يو په بل پورې کلک تړون لري.

افراد جامعه جوړوي او جامعه دافرادو په جوړولو کښې مؤثر نقش لري. دفرد درشد او تکامل دپاره ښه جامعه په کار ده او ښه جامعه دښو اشخاصو په لاس جوړيږي. که دفرد او جامعې ترمنځ توازن ونه ساتل شي نو بيا يو په بل تيري کوي او خوري ئې.

په يوه ټولنه کې که فرد او فرديت ته زياته اعتنا وشي او فردي آزادي له خپله حده تجاوز وکړي نو بيا ځينې افراد دخپلو خاصو استعدادونو يا د مساعدو شرايطو او حالاتو په وجه ډير پياوړي کيږي او په نورو افرادو تسلط پيدا کوي چه په دغه صورت کښې دانساني استعمار او استثمار مسئله منځ ته راځي او طبقاتي تضادونه طغيان کوي. که بالعکس فرد بيخي بې اهميته وګڼل شي او دټولنې دقربانۍ ګډوری شي نو بيا دجامعې دروند سيوری په افرادو لويږي او استعدادونه ئې وده نشي کولی. دفرد او جامعې په معامله کښې افراط او تفريط دواړه ډير خطرناک دي او ددغې موازنې ساتنه ډيرزيات دقت غواړي. که ددې تلې هره پله درنه شي اجتماعي عدالت له منځه ځي او ظلم منځ ته راځي.

اسلام دفرد او جامعې په جوړولو کښې داجتماعي نظام په حيث هم دفرد شخصيت او حيثيت محترم ګڼلی، هم ئې دجامعې خير او مصلحت په نظر کښې نيولی دی، هم ئې يو قوي او ستر جماعت يعنې اسلامې امت جوړکړی چه عرب او عجم، تور او سپين، بډای او فقير ته ئې مساوي حقوق ورکړی او اجتماعي عدالت ئې له هرخه پورته او لوړ ګڼلی دی، هم ئې دشخصيت او استعداد رشد او تکامل ته زمينه مساعده کړې چه افراد دقابليت په صورت کښې نبوغ او قهرمانۍ ته ورسيږي او فرديت تجلي وکړي.

دفرد او جامعې جوړول د دواړو دپخلاکولو او ملګري کولو په معنی هم په اسلامي نظام کښې په ډير دقت له نظر لاندې دي. هغه متوسط حد چه په دغه مورد کښې اسلام موندلی دفرد او جامعې متضادې ګټې خوندي کوي او يو له بله ئې مربوطوي.

اسلام د فرديت له روزلو سره په افرادو کښې اجتماعي شعور او احساس دومره قوي کړی چه فرد دجامعې په خدمت کښې دسر او مال قربانۍ ته چمتو شو او په خپله اراده ئې عمومي خير او مصلحت په شخصي ګټو مقدم وګاڼه او شخصيت ئې دخلکو په خدمت کښې وموند.

د اسلام دبرياليتوب راز په همدې کښې دی چه په خپلو پيروانو ئې د ايثار او قربانۍ رښتيانۍ جذبه او ټينګه اراده پيدا کړه چه د اجبار ځای اختيار ونيوه.

په اسلام کښې دجامعې دخير او مصلحت دپاره دسر او مال قربانول يو لوړ هدف وګرځيد او تقدس ئې وموند چه په روحي او نفسياتي لحاظ څه بايلل څه ګټل وګڼل شوه او په ذهن او شعور کښې ډير لوی اساسي او حسي بدلون راغی او دقربانۍ افتخار دافرادو نصيب شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیرې اسلام فرد ته د مالکیت حق نه وای ورکړی څه به ئې قربان کړې وُ ؟
که فرد په فداکاری مجبور وای او دده اراده پکښې دخیله نه وای دایثار او فداکاری معنی به څه وه؟
د بې ارادو افرادو حرکت او عمل به هم ماشینې و او د فکرکولو ضرورت به نه و موجود.
پخوا اترد ې چه د اسلام فعال او خلاق نقش دفرد او جامعې په جوړولو کښې په دواړو معناؤ و څیړو نه به داوې چه د اختصار په ډول د اسلام په حقیقت او ماهیت ځان پوه کړو او پخوا اترد ې چه د اسلام ماهیت او حقیقت ځانته معلوم کړو بهتره ده چه د اسلام او د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دنبوت اورسالت مطالعه له آغازه شروع کړو.

مُحمد صلی الله علیه وسلم

٥٧٠_٦٣٢م

کله چه د وحې ورځې رانژدې شوې محمد (ص) له خلوت سره مینه پیدا کړه ځکه به د حرا غارته ورته او په شپو شپو به ئې هلته عبادت کاوه او آسمانی خوبونه به ئې لیدل. دده رښتیانې خوبونه دوحی مقدمات وچه دچا په قول ئې شپږ میاشتې دوام وکړ.
دعمر څلویښت کاله ئې چه پوره شوه حضرت جبریل ورته د روژې په (١٧) د دوشنبې په ورځ دنبوت پیغام راووړ دغه وخت دقمری کال په حساب دده عمر څلویښت کاله ، شپږ میاشتې او اته ورځې وې او دعیسوي میلاد (٦١٠) داګست شپږمه وه چه دی دحرا په غار کښې و او د (اِقرَاْ) امر ورته وشوه چه دوحی آغازؤ.
چا چه لومړی په ده ایمان راوړ په ښځو کښې بي بي خدیجه، په هلکانو کښې لس کلن (علي) او په آزادو سړیو کښې په احرار ورجالو کښې (٣٧) کلن (ابوبکر) ، په موالیو کښې (زیدبن حارثه) په مریانو کښې (بلال بن رباح) حبشی و.

اسلام ته خفی دعوت:

وروسته تر هغه چه (یآَاَیُهاالْمُدَثِر) سورت نازل شو محمد (ص) په غیر علنې ډول اسلام ته دخلکو بلنه شروع کړه او دهغه خفي دعوت درې کاله دوام وکړ، په دغه موده کښې به مسلمانانو مونځونه له مشرکانو نه په پټه کول. یوه ورځ یوه مشرک ولیده چې (سعدبن ابی وقاص) په یوه پټ ځای کښې لمونځ کوي ځکه ئې دده دغه کار وغانده او سعد دهغه سره په شخړه اخته شو او مشرک ئې زخمې کړ، دا لومړی وینه وه چه په اسلام تویې شوه.
په همدغه وخت کښې رسول الله (ص) او څو تنه اصحاب دارالارقم ته ننوتل او هلته به ئې لمونځ او عبادت کاوه. دارالارقم دصفا دغونډۍ په بیخ کښې دارقم ابن ابی ارقم کور وچه په اسلام کښې له سابقونو څخه دی.
یو شمیر صحابه چه د حضرت ابوبکر په بلنه مسلمانان شوې ؤ داوو: عثمان ابن عفان، زبیربن عوام، عبدالرحمن بن عوف، سعدبن ابی وقاص او طلحه بن عبیدالله.

داسلام اظهار:

دخفي دعوت درې کاله چه پوره شوه په (٦١٣) عیسوی کښې الله پاک رسول الله (ص) ته امر وکړ چه خلک په ښکاره دین ته راوبوله (فاصدع بما تُوءمرُوَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ – الحجر آیت ٩٤) یعنی ښکاره کړه هغه څه چه پرې مامورکیږې او له مشرکالو څخه مخ واړوه.
داهم ورته وویل شوه:(وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ – الشعراء آیت ٢١٤) وویروه خپله ډیره نژدې قبیله.
داسلام ښکاره دعوت چه شروع شو او پیغمبر خپل رسالت علنې کړ دقریشو مشران: عتبه او شیبه د ربیعه زامن، ابوالبختري دهشام زوی، اسود ابن المطلب، ولید ابن مغیره، ابوجهل بن هشام ، عاص بن وایل سهمی، نبیه او منبه دحجاج زامن او داسې نور ابوطالب د حضرت محمد (ص) تره ته ورغلل او ورته وئې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاوراره زمونږ خدايان وکنځل، زمونږ دين ته ئي بدوويل، زمونږ پلرونه ئي ګمراهان وبلل، ته به يا هغه منع کوې او يا به ئي مونږ ته پريږدې او لاس به ترې اخلې، زمونږ دين ستا دين هم دى او تاهم د هغه دين ندى قبول کړى. ابوطالب له هغوى سره په ښه ژبه خبرې وکړې او رخصت ئي کړه دى پخپله رسول الله (ص) ته ورغى او د هغوى د غه خبرې ئي ورته وکړې، د خداى رسول (ص) له خپل دعوت نه لاس وانه خيست او خپل رسالت ته ئي دوام ورکړ.

قريش بيا ابوطالب ته ورغلل او داځل ئي ورسره په تنده لهجه خبرې وکړې خو بيا هم څه نتيجه ترې حاصله نشوه دريم ځل بيا دغه راز مفاهمه تکرار شوه مګر اولوالعزم پيغمبر خپل رسالت په هيڅ صورت پرينښود. بالاخره قريشو پخپله رسول الله (ص) ته رجوع وکړه او ورته ئي وويل که له دغه کاره لاس واخلې هرڅومره مال چه غواړې دربه ئي کړو چه له ټولو نه زيات مالدار شې، که د قريشو قيادت او سيادت دې خوښ وي ټول به دې اطاعت ته غاړه کيږدو او امرونه به دې منو، که مريض ئي او څه صحي عارضه درته پيښه وي طبيبان به درته راوغواړو او علاج به دې وکړو. رسول الله (ص) ورته په ځواب کښې وويل: که څوک مې په يوه لاس کښې لمر او په بل لاس کښې سپوږمۍ کيږدې قبول به ئي نکړم او له خپل رسالت نه به لاس وانخلم.

کله چه قريش پخپلو ټولو کوششونو کښې ناکامه شوه نو د حضرت محمد (ص) او دده د اصحابو ځورولو او ازارولو اراده ئي وکړه او خصوصاً هغه مومنان چه ضعيفان او بې مرستې و لکه موالي او غلامان چه قومي ملاتړئي نه درلود او له نوروځايو راغلي و له سختو شکنجو او عذابونو لاندې ونيول شوه چه له اسلامه واوړي او د حضرت محمد (ص) پيروي پريږدې مګر اسلام او حضرت محمد (ص) دخپلو پيروانو په روح او ضمير کښې دومره عميق نفوذ کړى وچه ددين په لار کښې ئي د سر او مال قربانول ابدي ژوند ګاڼه او له ډيرو شديدو فشارونو لاندې ئي خپل ايمان ټينګ ساته.

په دغسې وخت کښې چه مومنان ډير لږ او په ډير ضعيف حالت کښې و د حضرت محمد (ص) علني تبليغ او ښکاره اسلام مسلمانان له ډير مشکل امتحان سره مخامخ کړل.

هغه نقش چه اسلام ئي دافرادو او اشخاصو په روحى تقويه او معنوي جوړښت کښې لري په همدغه لومړى مشکله مرحله کښې خپله معجزه ښيي او دا ثابتوى چه اسلام د ډيرو ضعيفو کسانو روحيه او سجيه څومره پياوړې کړه او له څنګه خلکو نه ئي څنګه خلک جوړ کړه؟

د مثال په ډول د دغو څوتنو مقاومت او ټينګ عزم دخاصې يادونې وړدى.

بلال:

حضرت بلال د حبشي رباح زوى چه مور او پلار ئي اسيران نيول شوي و او دى د اميه بن خلف غلام پاتې شو د اسلام په دين مشرف شو او په همدغه وجه به اميه دى لوڅ لغړ په سره غرمه کښې په سروشګو کښې خښ کړاو درنه تيږه به ئي په سينه ورته کيښوده چه د کفر کلمه پرې ووايې اولات ومنات او عزى په خدايي ومنې مګر بلال به په همدغه حال کښې احد احد ويل او خپله عقيده ئي نه پټوله.

چاچه د مکې معظمې د سره اورې سره غرمه ليدلې وي هغه پوهيدلى شي چه د دغه عذاب تحمل څومره مشکل دى او په دغسې حال کښې د وحدانيت اواز او چتول څنګه ايمان غواړي؟

يوه ورځ چه دغه حال ابوبکر وليد نو اميه ته ئي وويل له خدايه نه ډاريږې چه دغه مسکين دغسې په عذابوې. اميه ورته وويل: تافاسد کړيدى ته ئي خلاص کړه. ابوبکر وويل: زه يو غلام لرم چه ستا په دين دى هغه به تاته درکړم ته دى ماته راکړه. اميه داخبره ومنله او بلال ئي حضرت ابوبکر ته ورکړ، ابوبکر هغه سمدلاسه ازاد کړ او له دغسې عذابونو نه ئي نجات ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاسر، عماربن یاسر او سمیه د یاسر ښځه:

هغه وخت چه رسول الله (ص) په دارالارم قم کښې و او د مسلمانانو شمیر لا خلوېښتو تنو ته نه و رسیدلی چه عمار، یاسر او سمیه مسلمانان شوه او بني مخزومو په همدغه سبب عمار او دده پلار او مور په ټکنده غرمه کښې ابطح ته بیول او سرې شګې به ئې پرې راړولې چه دغه دین پرېږدي او بېرته پخواني دین ته واوړي. رسول الله (ص) چه دوی په دغه حال ولیدل نو ورته ئې وویل:

(صَبراً آلَ یَاسَر فَاِنَّ مَوعِدَکُمُ الجَنَّةُ) صبر کوی ځای موجنت دی. دالنده وینا چه دیوه پیغمبردخولې وه دومره موثره وه چه یاسر په دغه سخت عذاب کښې مړشو او خپل ژوند ئې دعقیدې په لاره کښې قربان کړ.

سمیه هم په همدغه حال کښې صابره پاتې شوه او چه ابوجهل ورته بد رد وویل، دې هم بالمثل سخت ځواب ورکړ او ابوجهل په ډیرې بیرحمۍ په فحبیع او وحشیانه ډول ووژله. په اسلام کښې لومړۍ شهیده همدغه سمیه دعمار مور ده چه د ابوجهل په لاس په جارحه آله په قتل ورسیده. سمیه په دغسې حال کښې هم له ابوجهل غوندې ظالم او قسي القلب سړی نه ونه ویریده او ځواب ئې وروګرځاوه.

خباب:

وائي چه دی شپږم سړی و چه په اسلام مشرف شو او دقریشوله لاسه په هغوسروشګوکښې ښخیده چه جوار به پکښې وریته کیدل مګر خباب په هیڅ صورت چاله خپلې عقیدې وانه ړاوه او په خوله ئې هم دکفر کلمه رانغله که څه هم دده په شا به په اورسرې کړې تیږې هم ایښودل کیدې.

صهیب:

دسنان رومی ځوی صهیب چه دی او عمار بن یاسر په یوه ورځ مسلمانان شوی ؤ او دمسلمانانو شمیر لا خلوېښتو ته نه و رسیدلی دقریشو له لاسه ئې ډیر عذابونه اوکړاوونه ولیدل او دهجرت اراده ئې وکړه قریشو دی پدې شرط پرېښود چه خپل مال ئې ټول قریشوته پرېښود او دی ترینه یوسر او دوه غوږه لاړ.

عامر بن فهیره:

رسول الله (ص) لا دارالارقم ته ننوتلی نه و چه عامر بن فهیره اسلام راووړ. دی هم دضعیفانو له جملې څخه و او له ډیروستونزو او کړاوونو سره مخامخ شو مګر مقاومت ئې له لاسه ورنکړ او بې ایمانه نشو. حضرت ابوبکر دی هم وپیره او ازاد ئې کړ.

لبیبه:

دبنی مومل مینځه هغه وخت مسلمانه شوه چه عمربن خطاب لا په اسلام مشرف شوی نه و. عمر د اسلام په وجه لبیبه په راز راز عذابونو کړوله مګر عمرغوندې یوه قوي شخص ونکړی شوه چه دلبیبې په ایمان غلبه ومومي او د اسلام جذبه ئې مړه کاندې. دا هم حضرت ابوبکر وپیرله او ازاده ئې کړه.

دا و دایمان دقوت یو څو مثاله چه دشرک اوکفر په مقابل کښې ئې ثبات اومقاومت د اسلامي تاریخ له مفاخرو څخه ګڼلی شو.

اوس چه د اسلام لومړنی حال څه نه څه معلوم شو په اسلام به یو اجمالی نظر واچوو او وبه ګورو چه دغه دین له خپلو پیروانو څه غوارې او څه ترې جوړوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام

د اسلام سپیڅلی دین په دوو ټکو کښې خلاصه کولی شو:
ایمان او صالح عمل.

په قرآن کریم کښې چه هرځای ایمان یاد شویدی صالح عمل (وَعَمِلُوا الصَّالِحَات) ورسره جوخت ملګری دی. یعني بې عمله ایمان اوبې ایمانه عمل ئې ندی پکار.
ایمان دهغې عقیدی نوم دی چه سړی دیوه خدای خدائي، دمحمد(ص) پیغمبري دزړه په صدق ومني، قرآن کریم او دالله تعالی (ج) نورکتابونه، ملکې اوپیغمبران په حقه وګڼي، خیر او شر د خدای له لوري مقدر وبولي او پس له مرګه بیا ژوند ته امیدوار وي.
صالح عمل دوه ډوله دی: یو هغه فرایض او واجبات دي چه مومنان ئې دعبادت په توګه سرته رسوي یعنی کلمه ویل، مونځ کول، روژه نیول، زکوة ورکول، حج اداکول او داسې نور واجبات.
بل هغه اجتماعي وظایف او مکلفیتونه دي چه په اجتماع او جامعې پورې تعلق لري او په نورونې اثر پریوزي. په تعبدي فرایضو کښې هم زکات ورکول علاوه په دې چه مالي عبادت دی اجتماعي منظور پکښې ډیر قوي دی چه نورو ته ئې خیر او ګټه رسیږي.
دجمع، جمعې او اخترونو مونځونه او حج هم اجتماعي جنبه لري، دصالحو اعمالو ډیره درنه او مهمه برخه هغه وجایب اوتکالیف دي چه اجتماعي ژوند او دجامعې نیکمرغي تامینوي.
اسلام که له یوې خوا دمومن اومسلمان تعلق له خدای سره ټینګوي له بلې خوائې دجامعې دمفید اوصالح غړی په حیث دجامعې اجتماعي خدماتو ته چمتوکوي او دخدای له مخلوق سره ئې مینه او همدردي پیداکوي.
که څوک په اجتماعي وجایبو اوتکالیفو کښې مقصروي تش زهد اومحض عبادت ئې له الهي عذاب او عتاب څخه نشي ژغورلی.
په قرآن کریم کښې داسورت: (أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ فَذَلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ وَلَا يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ الَّذِينَ هُمْ يُرَاؤُونَ وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ)
په ډیر صراحت مونځ کوونکي پوهوي چه یوازې مونځ ددینداری دلیل نه دی بلکه له دغه مهم عبادت سره دیتیم او مسکین مرسته او لاس نیوی هم ددین مهم رکن دی که څوک داکارنه کوي اومحض عبادت او مونځ کوي هغ په حقیقت کښې ریا کار اوله لمانځه څخه غافل دی چه دین ئې په صدق نه دی منلی او دافسوس وړدی.
په دې آیتونو کښې الله تعالی دخطاب په ډول خپل رسول (ص) ته وایي:
آیالیدلي دې دي هغه څوک چه ددین تکذیب کوي او دجزا ورځ دروغ ګڼي داهغه څوک دی چه یتیم رټي او دمسکین په مړولو کښې له تحریص او بیړې نه کارنه اخلي، دهغو مونځ کوونکو په حال افسوس چه له خپل لمانځه څخه غافل دي او ماعون منع کوي.
ماعون هغه ورځني کارآمد شیان دي چه خلک ئې معمولاً یوله بله په عاریت غواړي لکه: کتوه، دیګی، تبر، لور، تار، ستن او داسې نور.
په اسلام کښې مومن دمومن ورور ګڼل شوی او (اِنَّمَا المؤمِنُونَ اِخوَةٌ) قرآنی تړون دی چه مومنان ئې د ایمان په حبل المتین ټینګ تړلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا وروري محض دخولي خبره نده او عملي ثبوت غواړي چه بايد په زړه کښې ځای ولري او په لاس او پښو ئې عملاً اثبات وشي.
رسول الله (ص) مومن او مسلمان داسې معرفي کوي:
(لَا يُؤمِنُ اَحَدُكُم حَتّیٰ يُحِبَّ لِاَخِيهِ ما يُحِبُّ لِنَفسِهِ-عن انس رواه البخاری) يعني ستاسو هيڅ يو (کامل)مومن کيدی نشي څو چه د خپل ورور د پاره محبوب ونه ګڼي هغه چه د ځان د پاره محبوب ګڼي يعني هغه څه چه په ځان ئې لوروي بايد په بل مومن ئې هم ولوروي. داهم د رسول الله (ص) حديث دی:(اَلمُؤمِنُ اَخُو المُؤمِنِ لَا يَظلِمُهُ وَلَا يَخذُلُهُ وَلَا يَسلِمُهُ)مومن د مومن ورور دی چه نه پرې ظلم کوي نه ئې يوا ځې پريږدي او نه ئې ظلم ته سپاري. په يوه بل حديث کښې راغلي دي:(اَلمُؤمِنُ لِلمُؤمِنِ كَالبُنيَانِ يَشُدُّ بَعضُهُ بَعضَاء-عن ابی موسیٰ رواه البخاري) مومن د مومن د پاره لکه بناء داسې ده چه بعضې ئې بعضې ټينګوي.
د مسلمان په باب رسول الله(ص) ويلي دي:(اَلمُسلِمُ مَن سَلِمَ المُسلِمُونَ مِن لِسَانِهِ وَيَدِهِ-بخاري) مسلمان هغه دی چه مسلمان ئې له ژبې او لاس څخه په امان وي.
اسلام ديوه مسلمان تش طاعت او عبادت ته نه ګوري بلکه په اجتماع کښې ئې ګوري چه له نورو سره څه سلوک او څه راز رويه لري.
وايي چه يوه شاهد د حضرت عمر (رض) په مخکښې شاهدي اداکړه او هغه دغه شاهد ته وويل داسې څوک راته راوله چه تا پيژني. شاهد يو سړی راووست چه د شاهد ښه ستاينه ئې وکړه عمر (رض) ستايونکی ته وويل ته ئې نژدې ګاونډی (همسايه) ئې چه مدخل او مخرج ئې درته معلوم وي؟ستايونکي وويل: نه ! عمر (رض) وويل: په سفر کښې ئې ملګری شوی يې چه اخلاقي مکارم ئې درته څرګند شوي وي؟ هغه وويل: نه ! عمر (رض) بيا وويل: د درهم او دينار معامله دې ورسره کړيده چه پرهيزګاري او تقویٰ ئې درته ښکاره شوې وي؟ هغه بيا د نه ځواب ورکړ.
دا ځل حضرت عمر (رض) ورته وويل: ګمان کوم چه په مسجد کښې دې په لمانځه ولاړ ليدلی چه د قرآن په لوستلو ئې همهمه او زمزمه کړيده او خپل سرئې ټيټ کړی او جګ کړی دی. ستايونکی وويل: هو ! عمر هغه ته وويل: ځه لاړشه ته ئې نه پيژنې او شاهد ته ئې وويل: لاړشه بل څوک راوله چه تا پيژني.
له دې ماجرا څخه ډيره ښه معلوميږي چه اسلامي نظر يو مسلمان يوازې په مسجد کښې نه ګوري په کور کښې، په سفر کښې او په معامله کښې ئې هم ګوري او شهادت ئې هغه وخت قبلوي چه عملاً ئې اجتماع ته ښه امتحان ورکړې وي. هغه څه چه اسلام ئې په پوره مومن او مسلمان کښې غواړي او خوښه وي ئې په دې آيتونو کښې ئې بيان په ښه شان شوی دی:
(لَّيْسَ الْبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَـكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِوَالْمَلآئِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّآئِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُواْ وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاء والضَّرَّاء وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَـئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَـئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ البقره آ:۱۷۷) نيک عمل يوازې دا نه دی چه خپل مخونه د مشرق او مغرب خوا ته واړوئ. لويه نيکي د هغه چا نيکي ده چه په خدای او د قيامت په ورځ، په ملکو، په کتابونو او په پيغمبرانو ايمان راوړي او مال ورکوي سره له دې چه ورته ګران وي خپلوانو ته يتيمانو ته محتاجو ته، مسافرو او سوالګروته اولګوي ئې د غاړو په ازادولو کښې او مونځ کوي. زکات ورکوي او پخپل عهد وفا کوي کله چه عهد وکړي(او خاص ګرزوو) صبر کوونکی په سختيو، کړاوونو او په جنګ کښې. داډله هماغه کسان دي چه صادقان دي په دين کښې او هم دوی دي متقيان. په دې آيت کښې پس له ايمانه اول مال ورکول خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو، پرديسيانو، سوالګروته او دغلامانو دازادولو دپاره نيک کار ګڼل شوی او پس له هغه مونځ او زکات.
دلته د زکات ذکر دا ښيي چه يوازې د زکات ورکړه کافي نه ده بايد سربيره په زکات نور مال هم په خيريه چارو کښې د حاجت خاوندانو ته ورکړشي. وفا په عهد او په شدايدو کښې صبر او ثبات هم د اصلي نيکۍ مهمه برخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رښتیاني ایمان او اسلام له خدای او رسول او له في سبیل الله جهاد سره داسې ټینګه مینه غواړي چه نورې مینې ئې په مقابل کښې د وجود اظهار ونکړی شي ځکه الله تعالی فرمائی:

(قُلْ إِن كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ اللّهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُواْ حَتَّى يَأْتِيَ اللّهُ بِأَمْرِهِ التوبه آ:۲۴) ووایه ! (ای محمده) که دي ستاسو پلرونه، ستاسو زامن، ستاسو ورونه، ستاسو میرمنې، ستاسو خپلوان او هغه مالونه چه پیدا کړي مو دي او هغه تجارت چه د بازار له سړیدو څخه ئې په ویره کښې یاست او هغه استوګنځي چه خوښ مو دي له پاک الله له رسول الله او له في سبیل الله جهاد څخه زیات محبوب، نو بیا د خدای عذاب ته سترګې په لاره اوسئ. په دې آیت کښې هغه ټول شیان چه انسان ورسره ډیره مینه لري او په هر چا له هرڅه نه ګران دي یاد شویدي او بیا ویل شوي که د دغو ټولو په مقابل کښې د خدای، د رسول او في سبیل الله جهاد پله درنه نوي د الهي عذاب مستحق یاست او د غه راز ایمان هغه ایمان نه دی چه د فلاح موجب ګرزي.

تش په ژبه ایمان څه ایمان نه دی بلکه ایمان یوه راسخه عقیده ده چه له زړه سره نه شکیدونکی تعلق لري.

قرآن پخپله د ایمان په باب وائي: (قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا وَلَكِن قُولُوا أَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ –الحجرات آ:۱۴) بادیه نشینو عربوو ویل چه ایمان مو راوړی. ووایه (ورته) ایمان مو نه دی راوړی لیکن ووائئ منقاد شوي یو حال دا چه ایمان مو زړونو ته نه دی ننوتی.

هغه ایمان چه زړونو ئې مزه لیدلې ده له هرڅه نه خوږدی او د غه ایمان هرڅه کولی شي. ایمان باید کامل وي ناقص او نیمګړی ایمان څه ګټه نلري. الله تعالی فرمايي:

(أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ فَمَا جَزَاء مَن يَفْعَلُ ذَلِكَ مِنكُمْ إِلاَّ خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَى أَشَدِّ الْعَذَابِ البقره آ:۸۵) آیا ایمان راوړئ د کتاب په یوه برخه او په بله برخه کافر کیږئ څوک چه له تاسو څخه د غسې کوي د هغه جزا نه ده مګر رسوایي ده د دنیا په ژوند کښې او د قیامت په ورځ به سخت ترین عذاب ته ورګرزول کیږي. دا ځکه چه ایمان تجزیه نه قبلوي او د خدای کتاب داسې نه دی چه څوک به ترینه څه اخلي او څه به ردوي. د خدای امر همدغه دی چه وايي:

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ ادْخُلُواْ فِي السِّلْمِ كَآفَّةً –البقره آ:۲۰۸) ای مومنانو ننوزئ په ټول اسلام کښې. ننوتل دا نه دي چه سړی یوه پښه له دروازې نه دننه کړي او نور د باندې ولاړ وي.

اسلام ډېر احکام لري د اسلام شرعي احکام چه د خدای له لوري نازل شویدي عملي تطبیق غواړي او تعمیل ئې حتمی دی.

په اسلامی هیوادونو کښې که اسلامي شریعت جاري نه وي او د خدای د احکامو خلاف فیصلې او اجراآت کیږي د غسې نظام ته اسلامي نظام نشو ویلی.

په اسلام کښې د خدای له حکمه مخالف حکم د چلیدو نه دی، اصلي حکومت د خدای حکومت دی د اسلام زما مداران د خدای د احکامو چلوونکي او تطبیقوونکي دي. الله پاک خپل پیغمبر ته وايي: (فَاحْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ –المایده آ:۴۸) نو حکم وکړه د دوی تر منځ په هغه څه چه خدای نازل کړیدي، په بل آیت کښې وائي: (وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ فَأُوْلَـئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ– المایده آ:۴۴) او هر څوک چه حکم ونکړي د هغه څه موافق چه خدای نازل کړیدی نو د غه ګروه همدوی دي کافران.

اسلام له مومن او مسلمان څخه شجاعت او بهادري غواړي چه بې د خدای له ویرې بله ویره باید په زړه کښې ونلري او بې زړه سړی کامل مسلمان کیدی نشي د خدای په اوامرو او مناهیو کښې دا امر او نهی هم شته چه وايي: (فَلاَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تَخْشَوُالناس وَاخْشَوْنِ، فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ –المايده آ:۳ او ۴۴) نو مه ډاريږئ له خلکو نه او وډارشئ له ماڅخه يوازې له خدای څخه ډاريدل او له خلکو څخه نه ويريدل د اسلامی احکامو په تعميل کښې ډير زيات دخل لري.

دمثال په ډول دعدالت قايمول هغه ګران کاردی چه کله داشخاصو او کله ديوه قوم ددښمنۍ باعث ګرزي او يو ډارن ويرندونکی سړی نشي کولی چه په دغسي مواردو کښې عدالت وچلوي. په دغسي مورد کښې هغه څوک چه له خلکو ډاريږي يا له خدايه نه ډاريږي په دواړو حالو کښې دعدالت له قيام څخه ډده کوي او څوک چه هم له خلکو ډاريږي او هم له خدايه نه ډاريږي هغه خو هيڅکله ددغه کارجوګه نه وي. په قرآن کريم کښې چه د عدل کولو او دبی عدالتۍ دمخنيوي په باب ډير تاکيد شوی دا هم ويل شوي دي:(وَلاَ يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلاَّ تَعْدِلُواْ اعْدِلُواْ هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى المائده آ:۸) اوباعث دې نکړي تاسي دقوم دښمني په دې چه انصاف ونکړئ، عدل وکړئ، عدل زيات نږدې دی تقوی ته. په يوه بل آيت کښې وايي: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُونُواْ قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاء لِلّهِ وَلَوْ عَلَى أَنفُسِكُمْ أَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالأَقْرَبِينَ إِن يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقَيرًا فَاللّهُ أَوْلَى بِهِمَا فَلاَ تَتَّبِعُواْ الْهَوَى أَن تَعْدِلُواْ-النساء آ:۱۳۵) ای مومنانو اوسئ استوار په انصاف، شهادت ورکوونکي دخدای د پاره که څه هم ستاسو په ضرروي يا ستاسي دمورو پلار او خپلوانو په ضرروي، غني وي که فقير خدای په دوی زيات مهربان دی، پيروي مه کوئ دنفسي هوا په عدالت کښې.

عدالت قايمول طبعاً له ظلم سره مقابله او مجادله غواړي او مومن ته دا اجازه نه ورکوي چه په خپله مظلوم واقع شي يا بل مسلمان دمظلوميت په حال کښې ويني اوبې تفاوته پاتې شي. رسول الله(ص) وايي:(اِنَ اَعظَمَ الجهَادِ عندَ اللهِ كَلَمَةٌ عَدلٍ عندَ اِمَامٍ جَابِرٍ ابوداؤد-ترمذي) لوی جهاد دخدای په نزد دعدل کلمه ده د ظالم امام په مخکښې. داسلام تول واجبات بيانول او اسلامی تربيه او اخلاق په تفصيل سره ښودل په دغه مختصر بحث کښې نه ځايږي. دلته همدومره يادونه بس ده چه اسلام دمسلمانانو په ژوندانه، په اقتصادي، اجتماعي او سياسي لحاظ حاکميت لري چه دغه حاکميت په تشريعي برخه کښې دقانون په حيث کامل تطبيق غواړي. له بلی خوا اسلام دتهذيب النفس او روحي تزکيې په لحاظ په ثقافت او کلتور کښې ژورې ريښې لري چه دفرد او جامعې په جوړښت کښې ئې اخلاقي او تربيوي اغيزې څرګندې دي.

اوس چه داسلام ماهيت او حقيقت په کلي او اجمال ډول څه نه څه وښودل شو نو وبه ګورو چه اسلام څنګه جامعه جوړه کړه؟ او څنګه افراد ئې جوړ کړه؟ په دغو دواړو برخو کښې د اسلام حقيقت نورهم ښه څرګنديږي او د اسلام پيژندني په باب ښه مرسته کوي.

اسلامی جامعه جوړول

کله چه حضرت محمد مصطفی(ص) په مکه مکرمه کښې خپل رسالت داسلام په تبليغ شروع کاوه عرب په مختلفو قبايلو او عشايرو ويشل شوي و او مختلف عقايد ئې درلوده يعنی له قبيلوي تعصبونو او دښمنيو سره ئې په افکارو او معتقداتو کښې هم تشتت او اختلافونه موجود و.

ځيني په دې عقيده وچه نه خدای شته او نه پس له مرګه ژوند. ژوند همدغه دی چه په دنيا کښې دی او مرګ ددهر او زمانې کاردی. قرآن کريم ددغو کسانو دغه عقيده په دې ډول بيانوي:

(وَقَالُوا مَا هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَا إِلَّا الدَّهْرُ–الجاثية آ:۲۴) ځيني نور دخدای په وجود قايل وو مګر پس له مرګه ژوند ته نه وو قايل. نور خلک دبتانو بندګان و او هري قبيلې دځان دپاره بيل بت په خدائي منلی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ود) دکلب دقبیلي (سواع)دهذیل (یغوث)دمذحج اویمنی قبایلو (نسر)دذی الکلاع (یعوق) دهمدان (لات) دثقیف (عزی) دقریشو اوبنی کنانه (منات) د اوس او خزرج دقبیلو خدایان و. اوتر دغوټولو بتانو لوی بت (هبل) و.
سربیره په دې ځیني خلک یهودیت ته، ځیني نصرانیت ته قایل و ، چا دملکو بندګي کوله او چا د پیریانو.
اخلاق اوعادات په ډیر منحط حال کښې و ، ښځوته په انساني ارزښت نه وقایل، لوڼې به ئې ژوندۍ ښخولې، غلامان دحیواناتو په څیر ګڼل کیده، فحشاء، ربا ، ظلم او ناروا څه حدود نه درلوده قبیلوي افتخار ، نسبي غرور او خرافات پرستۍ په اذهانو تسلط درلود.
په دغسې حال کښې له دغسې شرایطولاندې چه نه نظم و اونه آئین نه یوملي حکومت و ، نه سیاسي او اجتماعي سازمانونه، له دغسې خلکو نه یوامت جوړول څه اسانه او ارزانه کار نه و.
داسلامي جامعې اساس په مدینهٔ منوره کښې کیښودل شو اودغه جامعه له مهاجرو او انصارو څخه جوړه شوه یعنې یوجزء خواران اوفقیران اوبل جزئې شتمن اوبډایان وچه په آغاز کښې ئې طبقاتې تضاد موجود و خودغه تضاد داسلام تحت الشعاع واقع شواومینه په هرڅه غالبه شوه.
دمکې مسلمانانو داسلام دپاره خپل کورونه اومالونه په مکه کښې پریښودل، له خپلوډیرونږدې عزیزانو څخه جلاشوه او مدینې ته دبیوزلو پردیسیانو په حیث راغله. انصارودوی ته داسلامی جذبې په تقاضاپه ډیره مینه کورونه او ځایونه ورکړه اوپه دوی باندې ئې پیرزوینه ډیره زیاته وه.
مهاجرین فقیران و اومدینې ته دپردیسیانو په حیث راغله، انصارچه دمدینې اصلي اوسیدونکي اوشتمن خلک و ، دوی ته ئې پخپلوکورونو کښې ځای ورکړاو خپله شتمني ئې ورسره شریکه کړه حتی چه دانصارویوه تن یوه مهاجرته وویل: زه دوه میرمنې لرم هره یوه چه ستاخوښه شي هغه به طلاقه کړم چه ته ئې په نکاح واخلې.
دمهاجرینو هغه فداکاري چه داسلام ددین دپاره ئې خپل هرڅه دمکې قریشوته پریښوده او دوی یوسراو دوه غوږه مدینې ته راغله او دانصارو دغه ایثارچه د اسلام په جذبه ئې مهاجرینو سره هر راز مادي اومعنوي مرستې وکړې په بل عبارت دشتمنو اونیستمنو دغه راز ائتلاف او دیوې جامعې تشکیل دنن ورځې داقتصادي ګټو اوطبقاتي تضادپه منطق نه برابریږي.
داجامعه په اسلامي اخوت اومشترکه عقیده بنا وه او د (انما المؤمنون اخوة) په اساس رسول الله (ص) دمهاجرو اوانصارو ترمنځ د ورورولۍ تړونونه قایم کړه. په دې ورورولۍ کښې عرب او عجم ، غلام اوبادار ، تور اوسپین فرق نه درلود اودمنافعو تصادم پکښې څه درزنشو اچولی.
دانصارو ایثارپه قرآن کریم کښې داسې ستایل شویدی.
(يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ ولايَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِّمَّا أُوتُوا وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ الحشر آ:۹)یعنې دوی محبوب او عزیزګڼې هغه چه دوی ته هجرت کوي او څه چه مهاجروته ورکول کیږي انصار پخپلوزړونوکښې څه حسد نه حس کوي، له ځانه نورمقدم او غوره ګڼي که څه هم دوی پخپله محتاج او اړ وي.
دا آیت هغه حال بیانوی چه ډیرمالونه د (فئي)په صورت یعنې بې جنګه د رسول الله (ص) لاس ته ورغله او هغه ئې ټول په مهاجرو وویشل او دانصار دوو تنوته پکښې برخه ورکړه شوه چه هغوی څه نلرل او نور ټول انصار بې برخې پاتې شوه.
دغه ویشنه په دې لحاظ وه چه دمهاجرو او انصارو ترمنځ څه نه څه مالي موازنه اوتسویه مراعات شي مګر بیائې هم انصاروکښې څه رخه پیدا نکړه او دمهاجروحق ئې مقدم وګاڼه.
هغه مثالي جامعه چه اسلام دحضرت محمد (ص) له وخته دحضرت عمر (رض) دوهم خلیفه ترشهادته او وروسته تر هغه هم کله کله دنیا ته وړاندې کړه یوه داسې جامعه وه چه سیاسي قدرت پکښې بې کبره اوبې غروره دډیرصالح خدمتګارپه حیث استعمال شو او عدالت، تقوی، مساوات، حریت، قناعت اوپه نفس حاکمیت ئې هغه ښکاره خصوصیتونه او ممیزات وچه نظیرئې بیا چاونه لید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلامي جامعې په جوړولو کښې جهاني او عالمي نظر دخيل و او د محيط و ماحول له سطحې نه ئې مقام ډير او چت و. په داسې حال کښې چه عربو قبيلوي ژوند درلود او ملي قدرت لا نه و متشکل شوی حضرت محمد(ص) د قرآن په لاربښوونه د قوميت او وطنيت له ساحې نه بهر خپل رسالت د ټولو خلکو او عالميانو د پاره وګڼه او په عربو پورې محصور پاتې نشو. د قرآن کريم د اآيتونه:

(وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ- سوره انبيا آ:۱۰۷) (وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا –سبا آ:۲۸)

(وَأَرْسَلْنَاكَ لِلنَّاسِ رَسُولاً وَكَفَى بِاللّهِ شَهِيدًا -النساء آ:۷۹) دا مطلب په صراحت ثابتوي چه اسلام د دين په حيث او د يوه اجتماعي نظام په حيث ډير وسيع نظر درلود او تعلق ئې له بشريت سره وځکه د مومنين يا مسلمين په ځای د (عالمين) کلمه او د (ناس) کلمه استعمال شوه او (کَافَّةً لِلنَاسِ) وويل شوه په همدغه اساس ئې په مطلق ډول بني آدم د کرامت خاوند وګڼه او د (وَلَقَدْ کَرَّمنَابَنِي آدَمَ)اعلاميه ئې خپره کړه چه په هغه زمانه او په هغسې محيط کښې ئې توقع نشوه کيدی.

په دغه اسلامي جامعه کښې هغه مقام او منزلت چه زيد بن حارثه، اسامة بن زيد ، بلال حبشي، صهيب رومي، سلمان فارسي او نورو عجمو او مواليو درلود ، د دې مترقي عصر په غربی او شرقی ديموکراسۍ کښې ئې مثال نشو موندلی.مونږ وينو اوګورو چه يو زر او څوسوه کاله وروسته په امريکا غوندې هيواد کښې تورپوستکي په څه نظر کتل کيږي.

په نبوي احاديثو کښې د بشر دوستۍ او بشرپالنې درسونه ډير موندلی شو چه هلته د مومنانو يا مسلمانانو په ځای (ناس) ويل شويدی چه په خلک ئې ترجمه کولی شو.

مثلا:(خَيرُ النَّاسِ مَن يَّنفَعُ النَّاسَ) خلک په دې پوهوي چه په خلکو کښې بهتر هغه څوک دی چه خلکو ته ئې خير او ګټه رسيږي. په بل حديث شريف کښې راغلي دي:(اَلنَّاسُ عَيَالُ اللهِ وَاَحسَنُ النَّاسِ اِلَی اللهِ اَحسَنُهُم اِلٰی عَيَالِهِ) يعنې خلک د خدای عيال دي، د خدای په نزد بهترين خلک هغه دي چه د خدای د عيال سره نيکي کوي.

په بل ځای کښې پيغمبر(ص) خلکو ته داسې خطاب کوي:(اَيُّهَا النَّاسُ اِنَّ رَبَّکُم وَاحِدٌ وَاِنَّ اَبَاکُم وَاحِدٌ کُلُّکُم مِن آدَمِ وَآدَمُ مِن تُرَابٍ اِنَّ اَکرَمَکُم عِندَ اللهِ اَتقَاکُم لَا فَضلَ لِعَرَبِي عَلٰی عَجَمِي وَلَا لِاَبيَضَ عَلَی اَسوَدَ اِلَّا بِالتَّقوٰی) ای خلکو خدای مو يو دی پلار مو يو دی ټول له آدم څخه ياست او آدم له خاورو څخه دی د خدای په نزد ستاسو ډير مکرم هغه دی چه ډير پرهيزګار دی، عربي په عجمي او سپين په تور څه فضليت نلري مګر په تقویٰ سره.

طبقاتی جامعه د اسلام په نظر کښې:

په کومه جامعه کښې چه ممتازه طبقه موجوده وي او يو شمير خلک په نورو باندی باداري کوي هغې ته طبقاتي جامعه وائي چه اقليت پکښې د اکثريت په اوږو باروي.

استعمار او استثمار په همدغسې ټولنه کښې وده کوي او ډير خلک د لږو د پاره استعماليږي او قربانيږي.

يو وخت وچه قوي انسان په وحشيانه ډول د ضعيف انسان غوښې خوړې او اوس ئې لاهم وحشيان په همدغه ډول خوري مګر په متمدنو قومونو کښې سرې خوړکی اوس په بل ډول ده او هغه دا چه بډايان او د قدرت خاوندان ډير خلک پخپل خدمت کښې په کار اچوي او دهغوی د کار او زيار په ګټه چړچې کوي خو هغوي ته ډير لږ څه ورکوي چه د دوی خدمت ته ژوندي پاتې شي.

دغه لوړه او ممتازه طبقه چه د ملاکانو ، بډايانو ، سردارانو ، خانانو يا صاحبانو په نامه يادیږي او فئوډالان ئې عصري نوم دی د دې عصر په ډيروجوامعو کښې د حاکمې طبقې په حيث په خلکو مسلط دي دا طبقه خلک په قرآن کريم کښې(مترفين) ، (ملاء)، (اکابر) بلل شويدي او په متعدد و آيتونو کښې ئې يادونه په دې ډول شويده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱-(وَمَا أَرْسَلْنَا فِي قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتْرَفُوهَا إِنَّا بِمَا أُرْسِلْتُم بِهِ كَافِرُونَ -سبا آ:۳۴) يعنې هرې قريې تـه موږ چه استازې ليږلې دي نو دنعمت خاوندانوئې ويلي دي څه چه تاسو راوړيدي نه ئې منو. په دې آيت شريف کښې الله تعالی حضرت محمد(ص) په دې پوهوي چه دقريشو دسردارانو اوشتمنو په سرکشۍ او نافرمانۍ مه خوابدی کيږه په هر وخت کښې مالداراو متنعمانوله پيغمبرانو سره مقابله کړيده او دخدای احکاموته ئې غاړه نده ايښې.

۲ (وَكَذَلِكَ مَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ فِي قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتْرَفُوهَا إِنَّا وَجَدْنَا آبَاءنَا عَلَى أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَـى آثَـارِهِم مُّقْتَدُونَ –الزخرف آ:۲۳) مطلب داچه ترتادمخه هم دهرې قريې شتمنو اوآسوده حالوکسانو دخدای هراستازي ته همدغه ويلي دي چه موږ دپلرواو نيکونو زړه لار نه پريږدو او په تاپسې نه ځو.

۳-(وَقَالَ الْمَلَأُ مِن قَوْمِهِ الَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِلِقَاء الْآخِرَةِ وَأَتْرَفْنَاهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا مَا هَذَا إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يَأْكُلُ مِمَّا تَأْكُلُونَ مِنْهُ وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُونَ –المومنون آ:۳۳) دلته دهودياصالح(ع) دقوم سرداران او مالداران په ګوته شويدی چه په آخرت ئې باورنه درلود اوپه کفر ټينګ دآسوده ژوند خاوندان و او قوم تـه ئې ويل: دی هم تاسو غوندې بشردی هغه څه خوري چه تاسو ئې خورئ او هغه څه څکي چه تاسو ئې څکئ.

٤_(وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ بَطِرَتْ مَعِيشَتَهَا فَتِلْكَ مَسَاكِنُهُمْ لَمْ تُسْكَن مِّن بَعْدِهِمْ إِلَّا قَلِيلًـا –القصص آ:۵۸) ډيرځله موتباه کړيده قريه چه په معيشت کښې ئې لـه حده تيرى کړى نو دا دي ددوى استوګنځي چه وروسته تـردوى پکښې څوک نه او سيږي مګر ډيرلږ کسان.

يعنې عياشي اوپه عيش کښې افراط دتباهی موجب دی.

۵-(قَالَ الْمَلأُ مِن قَوْمِهِ إِنَّا لَنَـرَاكَ فِـي ضَـلاَلٍ مُّـبِينٍ –الاعـراف آ:۶۰) نوح عليـه السلام تـه ئې دقوم سردارانو اوسرکردګانو وويل: موږ تاپه ښکاره ضلالت کښې وينو.

٦_(قَالَ الْمَلأُ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي سَفَاهَةٍ وِإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكَاذِبِينَ -الاعراف آ:۶۶) هود عليه السلام ته ئې دقوم کافرو سردارانو وويل: موږ هرګوره تاپه سفاهت کښې وينو او د دروغجنوله جملې څخه دې ګڼو.

۷-(قَالَ الْمَلأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُواْ مِن قَوْمِهِ لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُواْ لِمَنْ آمَنَ مِنْهُمْ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ صَالِحًا مُّرْسَلٌ مِّن رَّبِّهِ قَالُواْ إِنَّا بِمَا أُرْسِلَ بِهِ مُؤْمِنُونَ. قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُواْ إِنَّا بِالَّذِيَ آمَنتُمْ بِهِ كَافِرُونَ –الاعراف آ: ۷۵او ۷۶) دصالح عليه السلام دقوم سرکښو اشرافو دقوم ضعيفو مومنانو ته وويل: ايا تاسو پوهيږئ چې صالح عليه السلام دخپل خدای استازی دی، هغوی وويل موږ هرګوره دده په رسالت ايمان لرو متکبرانو وويل موږ په ټينګه دهغه څخه منکر يو چه تاسې پرې ايمان لرئ.

۸-(قَالَ الْمَلأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُواْ مِن قَوْمِهِ لَنُخْرِجَنَّكَ يَا شُعَيْبُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ مَعَكَ مِن قَرْيَتِنَا أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا- الاعراف آ:۸۸) دشعيب عليه السلام دقوم متکبروسردارانو وويل: اې شعيبه هرګوره به تا او هغه کسان چه په تا ئې ايمان راوړی له قريې څخه باسو يابه بيرته زمونږ دين ته راګرځئ.

۹-(وَقَالَ الْمَلأُ مِن قَوْمِ فِرْعَوْنَ أَتَذَرُ مُوسَى وَقَوْمَهُ لِيُفْسِدُواْ فِي الأَرْضِ وَيَذَرَكَ وَآلِهَتَكَ-الاعـراف آ:۱۲۷) دفرعـون د قوم سردارانو فرعون ته وويل: ايا موسی او دده قوم پريږدې چه په ځمکه کښې فسادونه کوي او ستا عبادت او ستا دبتانو عبادت پريږدي.

۱۰-(وَكَذَلِكَ جَعَلْنَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَابِرَ مُجَرِمِيهَا لِيَمْكُرُواْ فِيهَا وَمَا يَمْكُرُونَ إِلاَّ بِأَنفُسِهِمْ وَمَـا يَشْـعُرُونَ-الانعام آ:۱۲۳) په دې آيت کښې د (ملا) کلمه په (اکابر) بدله شويده چه دواړه يوه معنی لري.

الله تعالی وايي په هره قريه کښې مواکابر مجرمان پيداکړيدي چه پکښې مکر او امکاري کوي. ددوی مکرپه حقيقت کښې له ځان سره دی مګر دوی نه پوهيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دغو او دغسي نورو آیتونو څخه دا حقیقت ډیر ښه څرګندیږي چه د قرآن په نظر کښې چه د اسلام نظر هم دی اکابر، سرداران او بډایان خومره منفور دي.
څوک چه د قرآن په اقتضا او تقاضا پوه وي هغه پوهیږي چه په اسلامي جامعه کښې د ممتازي طبقې د پاره ځای نشته. په اسلام کښې هغه بډای او مالدار ته هرکلی وایه شي چه تجارت او معامله ئي له خدای سره وي لکه چه په خپله خدای (ج) وایي:(یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّکُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنجِیکُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِیمٍ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِیلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِکُمْ وَأَنفُسِکُمْ ذَلِکُمْ خَیْرٌ لَّکُمْ إِن کُنتُمْ تَعْلَمُونَ -الصف آ: ۱۰ او ۱۱) اي مومنانو ! ایا دلالت وکړم تاسو ته په داسي تجارت چه نجات درکړي له دردناک عذاب څخه، ایمان راوړئ په خدای او رسول ئي او جهاد وکړئ د خدای په لار کښې په خپلو مالونو او نفسونو دا ستاسو د پاره خیر دی که پوه شئ. له خدای سره معامله او تجارت له سرا و ماله تیریدل دي د دې تجارت سند داسي ثبت شوی دی:
(إِنَّ اللّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِینَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الجَنَّةَ -التوبه آ: ۱۱۱) بې شکه الله تعالی پیرودلي دي له مومنانو څخه د دوی نفسونه او مالونه په دې چه د دوی د پاره به جنت وي نو هرکله چه د دوی سر او مال د خدای مال دی بډایان د دې معاملې په اساس مکلف دي چه د خدای په حکم به ورځی مروي. لوږ به پټوي او ضعیفان به قوي کوي او په پښو به ئي دروي.
هغه بډایان چه د غه کارنکوي اسلام ئي ردوي او له ځانه ئي شړي لکه ثعلبه چه قصه ئي په قرآن کښې پدی ډول ده:(وَمِنْهُم مَّنْ عَاهَدَ اللّهَ لَئِنْ آتَانَا مِن فَضْلِهِ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَکُونَنَّ مِنَ الصَّالِحِینَ فَلَمَّا آتَاهُم مِّن فَضْلِهِ بَخِلُواْ بِهِ وَتَوَلَّواْ وَّهُم مُّعْرِضُونَ -التوبه آ: ۷۵) له دوی څخه دي هغه څوک چه خدای سره ئي عهد کړی وچه که راکړشي مال هرګوره به ئي صدقه کوو او یو به له نیکانو څخه کله چي دوی ته خدای له خپل فضل څخه ورکړه بخل ئي وکړ او له عهده وګرځیدل او دوی دي اعراض کوونکي.
تفسیر:
ثعلبه د حاطب انصاري ځوی پیغمبر (ص) ته عرض وکړ چه د بډای کیدو دعا ورته وکړي پیغمبر (ص) که هر څه ورته وویل چه همد غه حال در ته ښه دی هغه خپله غوښتنه بیا بیا کوله حضرت محمد (ص) بیا ورته وویل ایا دادي نه ده خوښه چه زما د قدم نقش تعقیب کړي او په هغه څه پسي هڅه و نکړي چه شکرئي نشي په ځای کولی. ثعلبه بیا اصرار وکړ او عهدئي وکړ چه که خدای ئي بډای کړي حقوق به ئي په کامل ډول ادا کړي. پس له هغه ورته پیغمبر دعا وکړه او د ثعلبه په اوزو کښې دومره برکت پیدا شو چه مجبور شو د مدینې نه د باندې کلي ته ووزي د ثعلبه په اوزو او مال کښې نور هم دومره زیات والی راغی چه د جمع او جمعی لمونځ تري پاتې شو او مال ته ئي مخه شوه.
څه موده وروسته چه د پیغمبر (ص) لخوا د زکات غونډولو عاملین ورغله بالاخره ئي د زکات له ورکولو نه انکار وکړ او د غه خبر رسول الله (ص) ته راورسیده چه دري ځله ئي وویل (ویح ثعلبه) افسوس دی د ثعلبه په حال او دا آیتونه هم د همده په باب نازل شول. د ثعلبه خپلوانو چه د غه خبر ثعلبه ته وروورهغه په اکراه سره د پیغمبر (ص) حضور ته د زکات له مال سره راغی خو پیغمبر د هغه زکات قبول نکړ او ثعلبه د شرم او عار په وجه آه و فریاد شروع کړ او په سرئي خاوري باد کړي خو دا هرڅه د ظاهري بدنامی د پاره و او په زړه کښې ئي نفاق پټ و ځکه چه ده زکات لکه جزیه ګڼله.
وروسته د پیغمبر (ص) له وفاته ثعلبه چه د زکات مال ابوبکر صدیق (رض) ته راوړ هغه هم رد کړ او وروسته تر هغه عمر فاروق (رض) هم د هغه زکات مردود وګاڼه او د غه راز بډای له اسلامي جامعې نه طرد شو.
په اسلام کښې که په صریح ډول طبقاتي تیښ وپاس په همد غه نامه نه وي ردشوي په اقتضائي ډول ئي په دې آیتونو کښې د غه راز نظام غندلی او ردکړیدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَائِفَةً مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَاءهُمْ وَيَسْتَحْيِي نِسَاءهُمْ إِنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَنُرِي فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُم مَّا كَانُوا يَحْذَرُونَ- القصص آ:۴) هرګوره فرعون تکبر وکړ په ځمکه کښې او وئي ګرزاوه دځمکې اهل طايفي طايفي چه ضعيفه ئي کړه يوه طايفه ترينه وژل ئي دهغوي زامن او ژوندى ئي پريښودې دهغوى لوڼې، هرګوره ؤ دى له مفسدانو څخه. غوښتل موچه احسان کيږدو په ضعيفانو باندى په ځمکه کښې او وګرزوو دوى پيشوايان او وګرزوو دوي وارثان (دفرعون دملک) او ځاى ورکړو دوى ته په ځمکه کښې او وښيو فرعون او هامان ته او ددوى لښکروته دبني اسرائيلو له لاسه هغه عذاب چه فرعونيان ترينه ويريدل.

دا آيتونه دا راښيي چه خداى دا نه خوښوي چه څوک خلک طايفي طائفي کړي او يوه ضعيفه او ذليله کړي لکه فرعون چه بنى اسرائيل همدغه شان کړه او خداى ورته موسى پيدا کړ. که څوک يوه طايفه ټيټوى اولاندې کوي ئي او نور لوړوي نو الهى سنت هغه ضعيفان قوي کوي او لوړه ممتازه طبقه پرې تباه کوي. په همدغه اساس په صدر اسلام کښې دحضرت عثمان (رض) ترخلافته په اسلامي جامعه کښې طبقاتي ټيټ او پاس نه و او اسلامي سياست داجتماعي عدالت او مساوات په بناء دبرترى او کهترى احساس محوه کړى ؤ.

که چيري اوس هم اسلامي اصول او اساسونه په يوه جامعه کښې تطبيق شي د طبقاتي تضاد دپاره مجال نه پيدا کيږي. په اسلام کښې حاکمه طبقه هم په خلکو حاکمه نه وه بلکه دخداى د احکامو مجريه قوه وه. د اسلام خليفه دربان او پاسبان نه درلود نه دربار و نه درباري جاه وجلال. نا اشناسړى دظواهرو له مخې دخليفه او دبل سړي فرق نشو کولى، بشري تاريخ د اسلامي خلافت نظير په بل هيڅ نظام کښې نشي ښودلى.

عمرابن الخطاب (رض) خو پريږده دهغه ثاني عمرابن العزيز هم ثاني نلري. دحضرت ابوبکر (رض) او حضرت علي کرم الله وجهه حال خو هم هر چاته معلوم دى چه اجتماعي اقتدار ئي لکه يو ستر امانت وګاڼه او هيڅکله ئي دخپل شخصي او نفسي خواهشاتو دپاره استعمال نکړ او زعامت ئي دمثل اعلى په حيث راتلونکو زمانو ته تاريخي يادګار پريښود.

هغه اسلامي جامعه چه حضرت محمد (ص) ئي باني او معمار و او خپلو خليفه ګانو ته ئي دامانت په ډول پريښوده اساسونه ئي دادي:

مساوات:

داسلام په اجتماعي اصولو کښې يو مهم اصل مساوات دى ځکه ئي عرب او عجم تور او سپين مساوي ګڼلى او انساني کرامت ئي دهربني ادم دپاره يوشان منلى دى.

څه شى چه په دغه کرامت کښې زياتوالى راولي هغه تقوى ده او بس. د اسلام لوى رهبر حضرت محمد (ص) دوه ځله يو ځل په سوره کهف (آ: ۱۱۰) او بل ځل په سوره فصلت (آ: ۶) کښې دخداى له لوري مامور شوى چه خلکو ته ووايي: (انما أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ) زه هرګوره تاسو غوندې بشريم وحى راته راځي. يعني بې ليدنه چه دالهي وحى په وسيله مې معرفت نصيب کيږي نو رنو تاسو غوندې يو بشريم او له تاسو نه امتياز نلرم.

په همدغه اساس به پيغمبر (ص) په هغو موارد و کښې چه وحى به نه وه موجوده دخپلو اصحابو رايه غوښتله او خپله رايه به ئي هم څرګندوله که دده رايه به په اقليت کښې وه دهغوى په رايه به ئي عمل کاوه او خپلي رائي ته ديوه فرد له رائي نه په زيات اهميت نه و قايل.

په عمل کښې هم رسول الله (ص) په دسته جمعي چارو کښې له نورو سره مساوي برخه اخيسته که مسجد به ئي جوړاوه خپلو اصحابو سره به ئي تيږي او خاوري راچلولي که دغزا دپاره به ئي خندق کينوده دهغوى په شان به ئي کلنګ واهه او خاوري به ئي ايستلي، په غزا ګانو کښې به ئي عملاً برخه اخيسته او دجنګ په ميدان کښې له هرچانه زيات صابر و.

له شاقه خدماتو نه ئي ډډه نه کوله او په معيشت کښې ئي برخه له نورونه خواره وه، خپل نفس ئي ډير خوار ساته تن اسائي ئي په ځان حرامه کړې وه. په داسې فرش به ځملاسته چه تغمې به ئي دده په مبارک وجود کښې څرګندې وې. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اربشو په ډوډۍ به ئي هم نس نه مړاوه او ډېرلږ وخت د پاره به ئي هم په کور کښې د دنيا مال دومره نه ساته چه موقتاً په بډايانو کښې حساب شي.
دغنيمت او د (فئي) مالونه به ئي په خلکو ويشل او ډيرخه به ئي يو اوبل ته ورکول خو په خپله به ئي شپه په لوږه تيروله يعني په دغه برخه کښې ځانته په مساوي حق هم نه و قايل.
په دنيا کښې به هيڅ داسې مشر يا رهبر نه وي تيرشوى چه خپلو پيروانو سره په هر کار کښې ديوه کارګر په حيث عملاً شريک او سهيم وي او دمالونو په ويش کښې بې برخې يا دډيرې لږې برخې خاوند وي.
درسول الله (ص) دغه رويه او دده نور اخلاق او صفات په تربيوي ډول دومره موثر و چه دده په اصحابو کښې ئي ترډيره وخته عميق روحي نفوذ مشهود و.
ترده ډير وروسته د اسلام ددوهم خليفه حضرت عمر (رض) په خلافت کښې ديوه يهودي دعوى په حضرت علي کرم الله وجهه باندي خليفه ته وړاندى شوه هغه حضرت علي احضار کړاو د يهودي په څنګ کښې ئي دفيصلې دپاره ودراوه ځکه چه په اسلام کښې دمساوات او عدالت تقاضا همدغه وه چه مدعي او مدعي عليه مساوي وګڼل شي او څنګ په څنګ ودريږي که څه هم يو حضرت علي د حضرت محمد (ص) دتره ځوى او ځوم وي او د اسلام دپاره ډير زيات خدمتونه کړي وي او بل يهودي وي چه له اسلام سره ټينګ عناد لري.
کله چه حضرت عمر (رض) له يهودي سره خبرې کولې ديهودي اصلى نوم ئي واخيست او چه حضرت على کرم الله وجهه ته ئي خطاب کاوه نو دابو الحسن په نامه ئي يادکړ په دغه وخت کښې دحضرت علي په وچولي کښې دغضب آثار وليدل شوه ځکه حضرت عمر (رض) ورته وويل:
په دې خوابدى ئې چه دعدالت په محضر کښې له يوه يهودي سره په مساوي ډول ولاړئې. حضرت على کرم الله وجهه وويل:
نه داسې نه ده بلکه په دې وجه متاثريم چه دمساوات داصل رعايت دې ونکړ زه دې په کنيه نامه ابو الحسن يعني دحسن پلار وبللم اويهودي دې په خپل نامه يادکړ يعني زما احترام دې له هغه نه زيات وکړ. حضرت عمر (رض) په ځواب کښې ورته وويل: داکار دعادت له مخې شويدى تاته معلومه ده چه ماهميشه ته دابو الحسن په نامه يادکړى ئې او اوس هم ستا همدغه نوم عادتاً خولى ته راغى زما قصد دا نه وچه دمساوات اصل له پښولاندې کړم. پس له هغه حضرت على کرم الله وجهه متسلى شو.
درسول الله (ص) په زمانه کښې چه قريشو ځانونه له نورونه ډير پورته ګڼل اومريان او موالي ئې ډير حقير او ذليل ګڼل رسول الله (ص) دخپلې عمې لور (زينت بنت جحش) زيد بن حارثه ته په نکاح کړه چه دده له مواليو څخه و او په جزيرة العرب کښې دغه کار له عرف او عادت نه بيخې مخالف و او هيچائې توقع نشوه کولى له دغه حساسيت سره محمد (ص) په دغه ازدواج د اسلامي مساوات اصل معراج ته ورساوه چه يولوى انقلابي حرکت ورته ويلى شو.
کله چه رسول الله (ص) دمهاجرينو او انصارو ترمنځ د وروروليـ (مواخات) تړون کاوه نو خپل تره حمزه (رض) ئي له خپل مولى زيد سره ورور وګرزاوه او ابوبکر (رض) ئي له خارجة ابن زيد سره د وروري په تار وتاړه.
حضرت عمر (رض) د اسلام دوهم خليفه چه په اسلامي سنتو ډير ټينګ و دمساوات رعايت ئي په ډير اهتمام کاوه. يوه ورځ چه دى په مکه کښې ګرځيده وئې ليده چه خدمتګاران ولاړدي او سرداران په ډوډۍ ناست دي ځکه ئي په قهر سردارانو ته وويل: څه وجه ده چه څوک ځانونه له خپلو خدمتګارانو نه غوره ګڼي اوسمد لاسه ئي خدمتګاران له سردارانو سره په ډوډۍ کښينول.
ده دمساواتو لحاظ دومره ساته چه دقحط په کال چه په (عام الرماده)شهرت لري او غوړي پکښې چاته نه رسيده ده هم دغوړيو له خوراک نه ځان پرهيزکړاو دنورو په شان به ئي تيل خواړه.
دتيلو خوراک دى مريض کړاو پوستکى ئي تور واوښت دغه کار ته ترهغه وخته ده دوام ورکړ خو چه په بازار کښې غوړي ډير شوه او هرچا اخيستلى شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغه خليفه (حضرت عمر (رض))يوه ورځ يو سړی اويوه ښځه د زنا په حال کښې وليدل او قصدئې وکړچه په هغوی باندې شرعي حد جاري کړي مگر ددې کار د پاره شاهدان په کار و او شرعي اثبات ئې غوښته. حضرت عمر (رض)بې له دينه چه د هغوی نوم واخلي اصحابو ته وويل: که خليفه څوک د زنا په حال کښې پخپلو سترگو ووينې ايا کولی شي چه په هغوی حد جاري کړي. حضرت علی ورته وويل: که ته د هغوی نوم واخلې او بيا د خپلې ادعا د اثبات د پاره څلور شاهدان تيرنکړې نو په تا باندې (حد قذف) جاري کيږي. يعنی پدې کار کښې ته چه خليفه يې او يو بل سړی څه فرق نلري او مساوي ياست. هرکله چه هغه وخت نور شاهدان هلته حاضرنه و خليفه ونکړی شوه چه يوازې د خپلې مشاهدې له مخې په هغوی حد جاري کړي او نو مونه ئې افشا کړي.

مشوره:

پس له وحی نه د اسلامي نظام اساس مشوره ده. رسول الله صلی الله عليه وسلم د خدای له لوري ماموريت درلود چه د دغه اصل رعايت وکړي او په هغو مواردو کښې چه وحی نه وي موجوده د مومنانو په رايه کار وکړي نه دا چه خپله رايه معتبره وگڼي او خپل فکر په نورو تحميل کړي.

د هجرت په دريم کال چه قريشو درې زره لښکر مجهز کړ او مدينې ته ئې نژدې د احد د غره په لمنه کښې خپلې خيمې ودرولې چه په مدينه حمله وکړي، رسول الله (ص) د دغه جنگ د طرز او طريقې په باب د خپلو اصحابو مشوره او نظريه غوښته.

دده خپله رايه داوه چه له قريشو سره په مدينه کښې مقابله وکړي چه دوی په محفوظو ځايو نو کښې وي او قريش په لارو کوڅو کښې د مسلمانانو له ضربو لاندې وي.

د منافقانو رئيس عبدالله ابن ابي چه د لومړی ځل د پاره د مشورې حق ورکړی شوی و هغه هم همدغه مشوره ورکړه نور مسلمانان چه په ډير جوش او خروش کښې و د هغوې رايه داوه چه له مدينې نه د باندې احد ته نژدې وجنگيږي او خپل شجاعت په ميدان کښې وښيي.

د اکثريت فيصله همدغه وه او د همدغې فيصلې په اساس پيغمبر (ص) له زرو تنو سره له مدينې نه د احد لورته روان شو او په لاره کښې عبدالله بن ابي له خپلو درې سوه تنو سره په دې دليل د اسلام له لښکر نه بيل شو چه زما مشوره ونه منل شوه نوزه هم په جنگ کښې برخه نا خلم. پيغمبر (ص) له اوه سوه تنو سره د جنگ ميدان ته ورغی د جنگ نقشه ئې پخپله ترتيب کړه اوصفونه ئې برابر کړه. هلته ئې وليده چه له يوې درې نه د ښمن حمله د اسلام د لښکر په ساقه امکان لري ځکه ئې پنځوس تنه غشي ويشتونکي د عبدالله بن جبيرله امرلاندې د يوه مهم ځای په ساتلو موظف کړه چه د ښمنو د احتمالی هجوم مخه ونيسي. په دوی باندې ئې ډيرتاکيد و کړچه مسلمانان غالب شي او که مغلوب تاسو به له دغه ځايه حرکت نه کوئ ځکه چه زمونږ بريالیتوب په همدغه ځای پورې تړلی دی.

کله چه جنگ شروع شو او د اسلام مجاهدينو لکه: ابو دجانه، حضرت علي او نورو خپل زيات شهامت وښود په قريشو کښې تزلزل پيدا شو او تيښته ئې اختيار کړه. مجاهدينو د غه وخت د غنميت مالونو په غونډولو شروع وکړه غشو ويشتونکو چه دغه حال وليد د هغه ځای ساتنه ئې بی ضرورته وگڼله او د غنايمو په هڅه کښې شوه عبدالله ابن جبيرله يو ولسو تنو سره هلته پاتې شو او نور لاړل په دغه وخت کښې خالد بن وليد چه لا په اسلام نه و مشرف شوی له دوو سوو او پنځو سو سپرو سره ئې د درې لخوا هجوم راووړ، عبدالله ابن جبيرله خپلو لږ و ملگرو سره په شهادت ورسيده او مهاجمينو د شا له خوا په مجاهدينو حمله ووړه. هغه قريش چه د جنگ له ميدانه تښتيدلي و چه د غه عقبي حمله ئې وليده بيرته را وگرزيدل او مسلمانان د غلفت په حال کښې له دوو خوا محاصره شوه.

ډير مسلمانان شهيدان شول او د رسول الله (ص) مبارک مخ د (ابی قميه) د تيرې په شديد گذار زخمی شو او يو غاښ ئې هم تلف شو. رسول الله (ص) په ځمکه راپريووت او په دغه وخت کښې د رسول الله (ص) د وژل کيدو اوازه خپره شوه، مسلمانانو خپل حواس بايلوده او مضطرب شوه چه رسول الله (ص) دغه وخت په لوړ اواز وويل: (اِلَيَّ عِبَادَ اللهِ اَنَا رَسُولُ اللهِ) د خدای بندگانو ما ته راشئ زه يم د خدای رسول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددي غږ په اورېدو نوي حوصله راپيدا شوه او ډېرش تنه اصحاب د رسول الله (ص) شاوخوا راټول شوه او په ډېر شدت ئې مدافعه شروع کړه او مشرکان ئې تيت و پرک کړل.
دغه دميدان جنګ چه ډېر لږ مسلمانان له ډېر زيات مجهز لښکر سره مقابل شوه او له ابتدا نه د رسول (ص) د رائې په خلاف له مديني نه بهر شروع شو مسلمانانو ته ئې ډېر لوی تاوان ورساوه او د رسول الله (ص) تره حمزه غوندې مهم شخص پکښې هم شهيد شو. ددغې ماتې اصلي علت هماغه نافرماني وه چه غيشو ويشتونکو د رسول الله (ص) له ډېر تاکيد سره هم هغه اهم ځای پرېښود او په غنيمت پسې لاړل.
داحد په غزا کښې د پيغمبر د رايې په خلاف د مديني نه بهر جنګ کول او بياد ده د موکد امر نه سرغړول او سنګر پرېښودل ښائی چه پيغمبر د مشورې غوښتلو او منلو څخه بيزاره کړی وي ځکه ورته الله تعالی په دغه حال کښې هم داسې ارشاد کوي: (فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ آل عمران آ:۱۵۹) يعنی ددوی له ګناه څخه تيرشه او بخښنه ورته وغواړه له دوی سره په کارکښې مشوره کوه او چه عزم دې وکړنو بيا په خدای توکل لره.
له حضرت علی کرم الله وجهه څخه روايت دی چه له رسول الله (ص) نه پښتنه وشوه چه عزم څه شی دی هغوی وفرمايل: (مُشَاوَرَةُ اَهلِ الرّأيِ ثُمّ اِتِبَاعُهُم ابن کثير) يعني د رائې خاوندانو سره مشوره کول او بيائې پيروي کول عزم دی.
له دې پورته توضيح څخه به دا مطلب ډېر ښه څرګند شوی وي چه قرآن کريم د مشورې د ناکامۍ او مشاورينو د غلطۍ او نافرمانۍ په صورت کښې هم يو لوی پيغمبر بيا په مشوره غوښتلو او منلو مؤظف کوي.
د قرآن کريم دا آيت: (وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ – الشوریٰ آ:۳۸) له هغو کسانو نه د خدای رضامندي ښيي چه کارئې مشوره کول وي او له مشورې نه کار اخلي.

عدالت:

د اسلام عدلي او قضايي برخه د اجتماعي نظام په حيث د انسان سر او مال، کرامت او حريت مصئون ګڼي او د حقوقو حفاظت ئې کوي. د ظلم او ضرر مخه نيسي، فتنه او فساد محکوموي، جنايت او خيانت، فحشا او منکر د جزاء وړ بولي او عدالت د شرعي احکامو په کامل او صحيح تطبيق تامينوي.
په اسلامی شريعت کښې د جرايمو سزاګاني معلومې دي د اسلام اولو الامر حاکم او قاضی مکلف دی چه د خدای احکام د عدل او انصاف له مخې تطبيق کړي او په دغه کار کښې د ضعيف او قوي، د خپل او پردي، د مسلم او غير مسلم هيڅ فرق ونکړي.
په دې آيت شريف کښې: (لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ -سوره الحديد آ:۲۵) الله تعالی فرمايي په تحقيق سره مو رسولان استولی، له ښو ښانو سره او له دوی سره مو کتاب او ميزان هم واستاوه چه خلک په عدل او انصاف قايم شي. په بل آيت شريف کښې وايي: (إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤدُّواْ الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُواْ بِالْعَدْلِ - سوره النسا آ:۵۸) يعنی خدای پاک تاسو ته امر کوي چه امانتونه ئې اهل ته وسپارئ او کله چه د خلکو ترمنځ حکم کوئ په عدل حکم وکړئ.
خلک عامه کلمه ده او په مسلمانانو پورې څه اختصاص نه لري، لکه چه د مخه وويل شوه د حضرت محمد (ص) رسالت د ټولو خلکو د پاره دی که چا د اسلام دين قبول کړی وي او که نه ئې وي قبول کړی په هر دين چه وي اسلام ئې د بشري کرامت او انساني حقوقو په لحاظ له نورو سره مساوي ګڼي او د عدالت په محضر کښې هيڅ راز تبعيض او امتياز نشته، هم دغه وجه وه چه د اسلام دوهم خليفه ديوه يهودي په دعوي کښې حضرت علی له يهودي سره څنګ په څنګ ودراوه او عادلانه فيصله ئې صادره کړه.
د رسول الله (ص) په زمانه کښې چه د مخزومي قبيلې ديوې عزيزې کورنۍ يوې ښځې غلا وکړه او په شرعي حد محکومه شوه خپلوانو ئې د خاندانې او قبيلوي پت ساتلو په غرض اسامة بن زيد ته راغله چه رسول الله (ص) ته شفاعت وکړي چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه ښځه د شرعي حد له اجرا څخه معافه کړي اسامة که څه هم رسول الله (ص) ته ډير مقرب وخوچه دا خبره ئي ياده کړه دخدای رسول (ص) زيات متاثر شو او دمنبر په سرئي په خپله خطابه کښي وفرمايل پخوانې قومونه ځکه هلاک شول چه په دوی کښي به که شريف دجرم مرتکب شو شرعي حد پرې نه جاري کيده او که خوار وغريب به جرم وکړ نو قانون به پرې تطبيق شو. دخدای په نامه مې قسم چه که زما لور (فاطمه) غلا وکړي نو هم به شرعي حد پرې جاري کوم د پيغمبر دغه وينا پدې اساس وه چه دی د الله تعالی له لوري په موکدو امرونو دعدالت په قايمولو مامورو او دغه ماموريت ډير مهم او جدي و.

دا آيت شريف: (وَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءهُمْ وَقُلْ آمَنتُ بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ مِن كِتَابٍ وَأُمِرْتُ لِأَعْدِلَ بَيْنَكُمُ - سورت الشورى آ:١٥) پيغمبرته اجازه نه ورکوله چه له الهی امرنه سر وغړوي او د عدالت په ځای کښي د خلکو د خواهشاتو تابع شي. په دې آيت شريف کښي الله تعالی پيغمبر ته وايي: په هغه څه مستقيم اوسه چه امر درته شوی ددوی دغوښتنو پيروي مه کوه او ووايه ! ما په هغه کتاب ايمان راوړی چه دخدای له لوري نازل شوی او زه ماموريت لرم چه په تاسو کښي عدل قايم کړم د عدالت قايمولو امر ټولو مومنانو ته متوجه دی او يوه ايمانی وظيفه ګڼل شويده.

په سوره مايده کښي دا آيت شريف: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُونُواْ قَوَّامِينَ لِلّهِ شُهَدَاء بِالْقِسْطِ وَلاَ يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلاَّ تَعْدِلُواْ اعْدِلُواْ هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى — المائده آ:٨) مومنان په مجموعي ډول مخاطب کوي او ورته وايي. اوسئ دخدای دپاره قيام کوونکي او په عدل او انصاف شهادت ورکوونکی.

دقوم دښمنی دې باعث نشي چه له عدالت څخه مووا ړوي، عدل او انصاف وکړئ عدل تقویٰ ته نژدی دی.

همدارنګه: (وَأَوْفُواْ الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ الانعام آ:١٥٢) هغه الهی حکم دی چه هرمومن په پيمانه او تله کښي په انصاف کولو او دعدالت په خيال ساتلو مکلف کوي.

په يو بل آيت شريف کښي مسلمانان په وينا او خبرو کولو کښي د عدل او انصاف په رعايت مامورشويدي لکه چه وايي: (وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُواْ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَى الانعام آ:١٥٢) يعنی په وينا کښي عدالت کوئ که څه هم محکوم عليه ستاسو خپلوان وي.

په بل آيت شريف کښي وايي: (كُونُواْ قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاء لِلّهِ وَلَوْ عَلَى أَنفُسِكُمْ أَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالأَقْرَبِينَ النساء آ:١٣٥) يعنې په عدالت او انصاف قائم اوسئ او دخدای دپاره شاهدي اداکړئ که څه هم ستاسو دځان په ضرر ياستاسو دمور او پلار يا ستاسو دخپلوانو په ضرر وي.

رسول الله (ص) وايي: (انّ اَحَبّ النّاسِ الی اللهِ يَومَ القِيامَةِ وَاَقرَبَهُم منهُ مَجلساً اِمَامٌ عَادِلٌ وَانّ اَبغَضَ النّاسِ الی اللهِ يَومَ القِيامَةِ وَاَشَدّهُم عَذَاباً اِمَامٌ جَابِرٌ- الشيخان والترمذی) يعنی په خلکو کښي خدای ته دقيامت په ورځ ډير محبوب او ډېر نژدې عادل امام دی او په خلکو کښي خدای ته ډير مبغوض دقيامت په ورځ او په شديد عذاب ګرفتار ظالم امام دی.

فردي آزادي:

فردي آزادي هم د اسلام د اجتماعي نظام مهم اصل دی چه اسلامی جامعه پرې اتکا لري.

په اسلام کښي مطلقه حکومت او مستبد نظام شرعي جواز نلري. د اسلام اولوالامر په هر نامه چه وي مکلف دي چه د اسلامی احکامو او اسمانی قانون مطابق حکومت وکړي او شرعی احکام نافذ کړي.

په هغو موارد و کښي چه شرعي احکام نه وي موجود هلته به دمشورې او شورائي نظام په اساس هغه قوانين تطبيقوي چه خلکو منلی او وضع کړي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرکله دفرد دپاره دفکر اوعقیدې آزادي اسلام تضمین کړیده او دحق دظهار اوصحیح انتقاد حق ئې هرچاته ورکړیدی نوددغه اصل په خلاف شورائي قانون هم نشی وضع کیدی. په اسلامی نظام کښې داحق هرچاته حاصل دی چه اولوالامرته هم دښوچارو توصیه وکړي او دبد وچارو له اجراڅخه ئې منع کړي. په همدغه اساس د اسلام لومړی خلیفه حضرت ابوبکرصدیق چه درسول الله (ص) دوفات څخه وروسته دخلکو له خوا دخلافت لپاره وټاکل شو په لومړی خطبه کښې ئې داسې وویل:

اې خلکو زه ستاسو په خوښه ستاسو دچارومتولی شوم زه له تاسو څخه بهترنه یم اوتاسو غوندې یوشخص یم که زه دحق پیرو وم ماسره مرسته وکړئ که موولیدم چه په باطله روان یم په سمه لارمې برابرکړئ. زما اطاعت ترهغه وخته کوئ چه زه دخداې په لارسم یم که هرکله مې دخدای له امره سروغړاوه زما اطاعت بیاپه تاسو لازم ندی.

وروسته تردې چه حضرت عمر (رض) ددوهم خلیفه په حیث انتخاب شو په خپله خطبه کښې ئې خلکوته داسی وویل: که زه موبې لارې اوکوږ ولیدم په سمه لارمې برابر کړئ. په دغه وخت کښې یوتن له مسلمانانو څخه راپاڅید توره ئې له تیکې راوویسته او خلیفه ته ئې وویل: که ته له سمې لارې منحرف شوې په دې توره به دې سموو.

حضرت عمر ډیر خوښ شو او دخدای شکر ئې په ځاې کړ چه په مسلمانانو کښې داسې کسان شته چه خلیفه په توره سمې لارې ته برابروي او نه ئې پریږدې چه له حق او عدالت نه انحراف وکړي. همدغه خلیفه چه له رعب اوهیبت نه ئې سرکشان او ظالمان لکه پاڼه ریږدیدل په ځان باندې ئې دانتقاد او اعتراض لاره نه وه تړلې او دحق اوریدلو ډیره لویه حوصله ئې لرله.

یوه ورځ چه دده دغنیمت مالونه ویشل دغنیمت په مالونو کښې یو ډول یمانی ځادرونه هم وچه هرچاته یویو ځادر ورسیده په دغه جمله کښې حضرت عمر (رض) اودده ځوی عبدالله ته هم یویو ځادر ورپه برخه شو ، هرکله چه دخلیفه قدوقامت لوړو او یو ځادرئې دلباس دپاره نه رسیده ځوې ئې خپل ځادرهم ده ته ورکړ چه لباس ئې پوره شی. بله ورځ چه خلیفه دغه لباس اغوستی و او دخطبې منبرته وخوت خلکوته ئې وویل: (اَیُّهَاالنَّاسُ اِسمَعُوا وَاَطِیعُوا)یعنی اې خلکو ! واورئ او اطاعت وکړئ. په دغه وخت کښې سلمان فارسی پاڅید اووئې ویل: (لَاسَمعَ لَکَ عَلَینَا وَلَاطَاعَةَ) یعنې نه ستا او روا ونه درته اطاعت کوو. حضرت عمر (رض) وویل: ولې؟ دڅه دپاره. سلمان وویل: داالباس دې له کومه کړ ، یوځادرخو ستا نه بسیده معلومه ده چه تاله نورونه زیاته برخه اخیستې ده اوبې عدالتی دې کړی.

حضرت عمر (رض) خپل ځوی عبدالله ته وویل چه ددې خبرې ځواب ته ورکړه. کله چه عبدالله تو ضیحات ورکړه چه ماخپله برخه ده ته ورکړه چه لباس ئې پوره شي ، پس له هغه سلمان وویل اوس ستاخبرې اورو او اطاعت دې کوو.

له دغو مثالونو څخه معلومیږي چه په صدر اسلام کښې اسلامی جامعه څنګه وه او افرادوڅومره اوترڅه حده آزادي درلوده.

په اسلام کښې دښوتوصیه اوله بدوڅخه دمنع کولوحق هر مسلمان ته ورکړ شویدی یعنی (امر په معروف اونهی له منکر څخه) دیوه اجتماعي دیني اصل په حیث منل شوی او هر مومن مکلف دی چه بې لارې سړی په لارکړي او دښو رهبري ورته وکړي.

ددغه اصل له تطبیق څخه داسلام خلیفه ګانو هم ځانونه مستثنی نه ګڼل او دمسلمانانو دغه جرئت ئې دځان په مقابل کښې هم تقویه کاوه.

په خپله رسول الله (ص) هم دقرآن کریم دغه حکم یعنی امرپه معروف اونهی له منکرڅخه مسلمانانو ته په جدی توګه رسولی اودحق ویلو جرئت ئې پکښې روزلی و ، وائې چه دحنین له غزانه وروسته کله چه رسول الله (ص) غنم ویشل نو (مؤلفة القلوب) ئې هم په ځینو بخششونو خوشحاله کړه په دغه وخت کښې یوه تن ورته وویل: (اِعدِل یَا مُحَمَّدُ فَاِنَّکَ لَم تَعدِل)یعنې اې محمده عدالت وکړه تا عدالت ونکړ ، رسول الله (ص) څه ونه ویل هغه سړی خپله خبره بیا تکرار کړه ، داځل ورته پیغمبر (ص) وویل:

(وَیحَکَ فَمَن یَعدِلُ اِذَا لَم اَعدِلُ) یعنې افسوس دی ستا په حال که زه عدالت ونکړم څوک به ئې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پیغمبر (ص) باندې دغه راز انتقاد مسلمانانو نبه ونه ګانه او غوښتل ئې چه هغه سړی تادیب کړي مګر رسول الله (ص) منع کړه او نه ئې غمښتل چه د دغسې ویناؤ ازادي سلبه کړي که څه هم مولفة القلوبو ته دغه ورکړه دوحې په اساس وه او چاپړي دانتقاد حق نه درلود.

دعقیدې آزادي په اسلامي جامعه کښې دهر چا حق ګڼل شوی اسلام څوک نه مجبوري چه خپله عقیده پریږدي او اسلامی عقیده جبراً ومني.

په قرآن کښې راغلی دی: (لاَ إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ -البقره آ: ۲۵۶) یعنی جبر او زور په دین کښې نشته په تحقیق سره هدایت او ګمراهی سره بیل شویدي. دهر چا خوښه هره عقیده خوښوي او په هر دین باقي پاتې کیږي.

په بل آیت کښې رسول الله (ص) ته خطاب کوي: (أَفَأَنتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتَّى يَكُونُواْ مُؤْمِنِينَ -یونس آ: ۹۹) آیا ته خلک مجبوروي چه مومنان شي.

له دې څخه معلومیږي چه الله تعالی دغه راز جبر نه خوښوي او په زور مسلمانول اسلامي طریقه نده. دحق اظهار او دچاپه ناوړه عمل انتقاد کول دیوه حق په حیث مومن ته نه دی ورکړی شوی بلکه دایماني وظیفې په حیث یو مکلفیت ګڼل کیږي او ګڼل شوی، سړی کولی شي چه له خپله حقه استفاده ونکړي او له خپله حقه تیرشي مګر خپل مکلفیتونه پریښودی نشي او په وجایبو کښې اهمال یا غفلت جایز کار نه دی.

امر په معروف او نهی له منکر څخه:

په ښوچارو نورو ته امرکول او له بدو کارونو څخه منع کول یو موکد قرآني حکم دی چه مکرر راغلی او بیا بیا ئې توصیه شویده.

د دغه مهم اصل مراعات په اسلامي جامعه کښې حتمي دی او د وظیفې په حیث دهر مومن مکلفیت ګڼل کیږي. الله تعالی فرمائي: (وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ -سورت التوبه آ: ۷۱) مومنان او مومناني یوله بله دوستان دي چه یو بل ته دښه کار امر کوي او له بدو څخه ئې منع کوي.

په دې وظیفه کښې نارینه او ښځې یو شان ماموریت او مکلفیت لري یعنی ښځه هم مکلفه ده چه بلې ښځې یا نارینه ته دښو توصیه وکړي او له بدو چارو څخه ئې راوګرزوي.

دامر معروف معنی یواځې لاربښوونه او رهنمائی نده بلکه درهبری او دامرکولو مفهوم پکښې نغښتی دی لکه چه نهی عن المنکر کښې بدو ته په بد ویلو علاوه دممانعت او مخنیوي معنی پرته ده.

دقرآن کریم دا آیت شریف: (كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ -ال عمران آ: ۱۱۰) اسلامی امت یدې پوهوي چه تاسو په ټولو امتونو کښې بهتر امت یاست چه دخلکو دپاره را ایستل شوي ئې دنیکو کارونو امرکوئ او له ناوړه کارونو نهی کوئ یعنی دنورو رهبري ستاسو په غاړه ده.

بل آیت دی: (وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُوْلَـئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ -آل عمران آ: ۱۰۴) باید له تاسو څخه یو جماعت وي چه نیکو کارونو ته بلنه وکړي په ښو کارونو خلک مامور کړي او له بدو کارونو ئې راوګرزوي او همدوی دي رستګاران او نجات موندونکي.

قرآن کریم چه دخدای صالح بندګان رابښیی نو داسې ئې ستایي:

(يُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَأُوْلَـئِكَ مِنَ الصَّالِحِينَ -آل عمران آ: ۱۱۴) ایمان لري په خدای او دقیامت په ورځ او امرکوي په ښوچارو، نهی کوي له ناوړو چارو او بیړه کوي په نیکو کښې او همدوی دي له صالحانو څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت محمد (ص) خپلو پیروانو ته دمنکراتو (ناوړه اعمالو) په مخنیوي کښې وایی: (مَن رَاٰی منکم مُنکراًفلیُغیّرهُ بیَدهِ فمَنّ لم یَستَطِع فبِلسَانهِ فمَن لم یَستَطِع فبقلبِهِ وهُواَضعَفُ الایمَانِ -الشیخان) که له تاسو څخه کوم یوه دچا ناوړه عمل ولید په لاس دې منع کړي که دائي له لاسه نه کیده له خپلې ژبې نه دې کاروا خلی که دائي هم نشو کولای په زړه کښې دې ترینه کرکه وکړي او ډیر ضعیف ایمان همدغه دی.

د ظلم مخنیوی:

ظلم په خپل نفس وي که په بل انسان او که غیر له انسانه په بې ضرره حیوان باندې وي په اسلام کښې ډیر بد ګڼل شوی او مجادله ورسره لازمه ده د ظلم مخنیوی او د ظالم لاس له ظلمه لنډول هغه لوی جهاد دی چه اجرئې ډیر زیات دی.

الله تعالی فرمایلي دي: (وَلاَ تَرْكَنُواْ إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ هود آ:۱۱۳) چاچه ظلم کړی ډیر لږ میل هم ورته مه کوئ چه اور به مو وسوزوي. هر کله چه ظلم کوونکی ته ادنی تمایل د سوزوونکی عذاب موجب دی له ظالم سره مرسته او د ظالم اطاعت به څنګه وي او په خپله د ظالم حال به څه وي؟

یو بل آیت شریف دی: (وَاتَّقُواْ فِتْنَةً لاَّ تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنكُمْ خَآصَّةً –الانفال آ:۲۵) ځانونه وساتئ له هغې فتنې نه چه یوازې ظالمانو ته نه رسیږي او په هغوی پورې اختصاص نلري یعنی نورو ته هم سرایت کوي او عمومیت پیدا کوي. مطلب دا دی چه په یوه قوم کښې که څو تنو ظلم کړی وي او نورو اقلاً نصیحت هم ورته نه وي کړی او نه ئې خپله کرکه ښکاره کړې وي نو دغه فتنه یوازې ظالمانو پورې تخصیص نه پیدا کوي نورو ته هم خپله اندازه رسیږي.

حضرت ابوبکر صدیق (رض) ویلي دي چه له رسول الله (ص) څخه مې اورېدلی دي چه ویل یی: (اِنّ النّاسَ اذا رآوُالظّالمَ فلَم یَاخُذُوا علیٰ یَدهِ اَوشَکَ اَن یَعُمّهُمُ اللهُ بِعِقَابٍ)معنی دا چه که خلکو ولیده چه ظالم ظلم کوي او دوی ئې لاس ونه نیوه ژر ده چه عذاب ئې خدای دوی ته عام کړي.

دا هم د رسول الله (ص) قول دی: (مَن اَعانَ ظَالِماًسَلّطهُ اللهُ عَلَیهِ) څوک چه له ظالم سره معاونت کوي هماغه ظالم پرې خدای پاک مسلط کوي.

دا هم نبوي حدیث شریف دی: (اُنصُر اَخاکَ ظَالِماًاَومَظلُوماً) یعنی له خپل ورور سره مرسته وکړه ظالم وي او که مظلوم وي. اصحابو تپوس وکړ چه د مظلوم سره خو مرسته معلومه ده چه باید له ظلمه نجات ورکړو او له ظالم سره به څنګه مرسته کوو؟

رسول الله (ص) ورته وویل: ظالم له ظلمه منع کول له ظالم سره مرسته ده.

ضعیفان د زورورو ظالمانو له منګلو خلاصول او له ظلم نه نجات ورکول د مسلمانانو وظیفه او وجیبه ده. مسلمانان د قرآني احکامو په مقتضی نشی کولی چه د مظلومانو له حمایت نه ځان وژغوري او بیطرفه پاتې شي.

په دغه باب کښې ددې آیت حکم ډیر صریح دی: (وَمَا لَكُمْ لاَ تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاء وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَـذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا -النساء آ:۷۵)څه دي تاسو لره (یعنی په تاسو څه شوي) چه نه جنګیږئ د خدای په لار کښې او د مظلومانو او مغلوبانو په نجات کښې. (چه دغه مغلوبان او ضعیفان عبارت دي) له نرو او ښځو او کوچنیانو څخه چه وآیي: اي پروردګاره ! وباسه مونږ له دغه قریې څخه چه اهل ئې ظالم دی. په یو بل آیت کښې په خپله مظلومانو ته اجازه ورکړ شوی چه مقابلې او مقاتلې ته واوزی او خپل انتقام واخلي:

(أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ-الحج آ:۳۹)اجازه ورکړ شویده هغو ته چه (نور) له دوی سره جنګ کوي ددې لامله چه په دوی ظلم شویدی او الله د دوی په نصرت هم ګوره ښه قادر دی.

وګورئ د ظلم قبلول او ظلم ته غاړه ایښودل د اسلام په دین کښې نشته لکه چه په مسیحی دین کښې شته. د ظلم تحمل او په مظلومیت قانع کیدل د ظالم تبر ته لاستی ورکول دي چه د اسلامی اصولو خلاف ئې بللی شو. که مظلومان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ظالمانو په مقابل کښې ډیر ضعیف وي او د مقابلې امکان نه وي موجود نو بیا مظلومانو ته په کار دي چه هجرت وکړي او په مهاجرت ځانونه د ظلم له منلو څخه وژغوري.

دا مطب پدې آیت کښې ډیر ښه واضع دی: (إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلآئِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمْ قَالُواْ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الأَرْضِ قَالْوَاْ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُواْ فِيهَا فَأُوْلَـئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءتْ مَصِيرًا - النساء آ:۹۷) هرآئینه هغه کسان چه روح ئې پرښتو (ملکو) قبض کړ پداسې حال کښې چه په ځانونو ظالمان و. وايې په څه حال کښې وئ وايي و مونږ ضعیفان په ځمکه کښې. وايي آیا نه وه ځمکه د خدای پراخه چه له خپل وطن څخه موهجرت کړی وای ددغې ګروه ځای دوزخ دی او دوزخ ډیره بده ماویٰ ده.

وګورئ! هغه مظلومان چه له ظلم څخه هجرت نه کوی او په ظلم قناعت او صبر کوي په خپل نفس ظالمان (ظالمی انفسهم) بلل شوي او د ظالمانو ځای یعنې دوزخ ئې مرجع او ماویٰ ده.

د تجاوز او تعدي په مقابل کښې مقابله بالمثل اسلامی تعلیم دی. الله تعالی وایي:

(فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُواْ عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ -البقره آ:۱۹۴) څوک چه تعدي وکړي په تاسو تعدي وکړئ په هغه باندې هماغسې چه په تاسوئې تعدي کړیده.

انتقام اخیستل او د بدو سزا ورکول د اجتماعي نظام د بقا او قیام د پاره مهم اصل دی او قصاص چه یو شرعي حکم دی په همدغه اصل بناء دی. که دا اصل عملي نشي او ظلم او تعدي جواز ولري د فساد مخنیوی نشي کیدی او امن او امان مختل کیږي.

د چا بدي ښکاره کول او عیبونه ئې ځرګندول یعنی غیبت په اسلام کښې منع دی (ولا یغتب بعضُکم بعضاً) مګر مظلوم ته داحق ورکړ شویدی چه د ظالم بدي ښکاره کړي او په جهرورته بد ووایي:

(لاَّ يُحِبُّ اللّهُ الْجَهْرَ بِالسُّوَءِ مِنَ الْقَوْلِ إِلاَّ مَن ظُلِمَ -النسا آ:۱۴۸) نه خوښوي خدای د بدې خبرې ځرګندونه مګر هغه چه پرې ظلم شویدی.

د ظلم او ظالم په باب همدغومره بحث دا ثابتوي چه اسلام د ظلم قبلولو اجازه مسلمانانو ته نه ورکوي او په جدي ډول ئې د ظالمانو مقابلې ته ولاړوي.

په اسلام کښې دانشته چه که چا په یوه مخ په څپیړه ووهلې خپل بل مخ ورواړوه ځکه چه دا له ظلم سره معاونت دی.

دغه مسیحي تعلیم اسلام رد کړیدی اسلام البته د عفوې درس مسلمانانو ته ورکوي او ورکړی ئې دی خو عفوې معنی ظلم ته غاړه ایښودل او ظالمانو ته تسلیمیدل ندي که څوک د عجز او ناتوانی په وجه خپل انتقام نشي اخیستی او د ظلم تحمل کوي عفوه نه ده بلکه مجبوریت دی. عفوه هغه څوک کوي چه د انتقام اخیستلو قدرت لري او د لاس برېدلو په صورت کښې لاس نیسي او جانب مقابل له احسان لاندې راولي.

مرسته (تعاون):

په اسلامي جامعه کښې یو له بله ملګرتیا او د مرستې لاس ورکول هغه اساسي اصل دی چه په قرآن کریم کښې ئې په ډیر اهتمام بیابیا تاکید شوی او ډیر نبوي احادیث په دغه باب کښې موجود دي. الله تعالی فرمايي: (وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ -المائده آ:۲) او مرسته وکړئ په نیکۍ او تقوی کښې او مرسته مه کوئ په ګناه او ظلم کښې. د تعاون کلمه په مطلق ډول په مالي، فکري، لساني او بدني معاونتونو مشتمله ده چه سړی باید له نورو نه هیڅ راز مرسته ونه سپموي یعني په ښه لاره کښې او په ښو چارو کښې.

که څوک په ګناه، تعدي یا تجاوز کښې له بل نه مرسته غواړي دا راز مرسته جایزه نده بلکه د هغه ایسارول او منع کول له هغه سره مرسته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یوه حدیث شریف کښې راغلی دی: (اَیُّمَا اَهلُ عِرصَةٍ اَصبَحَ فِیهِم اِمرَاءٌ جَائِعاً فَقَد بَرِئَت مِنهُم ذِمَةُ اللّٰهِ تَبَارَکَ وَ تَعَالیٰ_المسند الامام احمد بن جنل).
ددې حدیث شریف لنډ مطلب دادی چه پاک خدای له هغو خلکو څخه بیزاره دی چه په شاوخوا کښې ئې څوک په لوږه شپه سباکړي.
یوبل حدیث دی: (مَن کَانَ مَعَهُ فَضلَ ظَهرٍ فَلیُعِن بِهِ عَلیٰ مَن لَاظَهرَلَهُ وَمَن کَانَ لَهُ فَضلَ زَادٍ فَلیُعِن بِهِ عَلیٰ مَن لَازَادَلَهُ_مسلم، ابوداود) ددې حدیث په موجب هغه څوک چه پشتیبان او دسرېو قوت لري باید له هغه چاسره مرسته وکړي چه بې کسه وي او هغه چه مالی قدرت لري باید له نیستمنو سره کمک وکړي.
اسلامی امت په حقیقت کښې یو جسد دی چه باید مشترک احساس ولري او دیوه غړي په درد ټول وجود متاثر شي.
دا مطلب رسول الله (ص) داسې افاده کړیدی: (مَثَلُ المُؤمِنِینَ فِی تَوَآدِّهِم وَتَرَاحُمِهِم وَتَعَاطُفِهِم کَمَثَلِ الجَسَدِ اِذَا اشتَکیٰ مِنهُ عُضوٌ تُدَاعی لَهُ سَائِرُ الجَسَدِ بِالسّهرِ وَالحُمیٰ).
یعنی د مومنانو مثال د دوستۍ، اورحم او عاطفې په لحاظ لکه یو جسد دی چه دیو غړي په درد او ناراميې ټول وجود په درد او نارامۍ مبتلا کیږي.

بنـــــی آدم اعضــــــای یکدیگرنــــــد	کـــه درآفـــــرنیش زیـــک جوهرنــــد
چـــو عضــــوی بـــــدرد آورد روزگــــار	دگـــر عضــــو هــــا را نمانـــد قـــرار

دتعاون په برخه کښې د مالي مرستې سپارښتنه زښته ډیره شویده د مال انفاق او صدقه کول یعنی محتاجو او محرومو کسانو سره مالی مرسته او د خدای په لاره کښې مال ښندل د ایمان او اسلام ډیر مهم رکن دی چه هم د زکات په صورت په بډایانو فرض دی او هم د خیرات او صدقاتو په ډول په صالحو اعمالو کښې ډیرلوړ مقام لري.
علاوه پر زکات له خوارانو او غریبانو سره مالي مرسته دیوه حق په حیث د شتمنو په ذمه ایښودل شوی او یو دیني مکلفیت دی.
دا حدیث شریف: (اِنَّ فِی المَالِ حَقّاًسِویٰ الزَّکَاتِ- ترمذي)
دا مطلب ډیر ښه ثابتوي چه سر بیره په زکات او ماسویٰ له زکات نه په مالونو کښې دفقیرانو او مسکینانو حق شته چه بډایان ئې باید اداکړی؟
په قرآن کریم کښې هم د مالدارانو په مالونو کښې د سایل او محروم حق تثبت شویدی.
الله تعالی د متقیانو او نیکانو په ستاینه کښې وایي: (وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ -الذاریات آ:۱۹) ددوی په مالونو کښې د سوالګرو او محرومو خلکو برخه وه، یعنی علاوه په زکات ئې دوی ته په خپل مال کښې برخه ورکړې وه په یوبل آیت شریف کښې وایي: (وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ - المعارج آ:۲۴) له دې آیت نه د مخه په نورو آیتونو کښې ویل شویدي چه د دوزخ اورهغه کسان غواړي چه شاپې اړولی او اعراض ئې کړی، مالونه ئې جمع کړي او ساتلي دي...... له دغې جملې نه یو شمیر خلک مستثنی کوي او په استثنا شوو کسانو کښې وایي: او هغوی چه په مالونو کښې ئې برخه معلومه ده د سوالګرا و محروم دپاره.
په دې دواړو آیتونو کښې د سائل او محروم دپاره برخه د حق په نامه دابښیی چه شتمن د خپلو مالونو داسې مالکان نه دي چه نور ورسره شریک نه وي او د چا حق ورسره نه وي.
دا حق باید شتمن او بډایان په داسې طریقه اداکړي چه احسان باروړل او د تحقیرولو اذیت ورسره نه وي بلکه داسې وي لکه چه یو داین ته خپل دین اداکوي. داهم د الله تعالی قول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تُبْطِلُواْ صَدَقَاتِكُم بِالْمَنِّ وَالأذَى -البقره آ:۲۶۴) اې مومنانو ! مه ضايع کوئ خپل خيراتونه په احسان بارولو او زړه ازارولو سره. د انفاق او صدقاتو په باب چه ډير زيات آيتونه په مختلفو مضمونونو نازل شوه مسلمانانو له رسول الله (ص) څخه پوښتنه وکړه چه څومره مال د خداى پاک په لار کښې نفقه کړو نو په ځواب کښې ئې دا آيت نازل شو.

(وَيَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ قُلِ الْعَفْوَ -البقره آ:۲۱۹) له تاسو څخه پوښتنه کوي چه څه نفقه کړي، وو ايه هغه څه چه له حاجته زيات وي يعنى ضروري مصارف ځانته وساتئ او نور خيرات کړئ. که څوک له خپل ضروري حاجت نه زيات مال ذخيره کوي او د خوارانو، غريبانو سره مرسته نه کوي نو هغوى د دى آيت د حکم لاندي راځي: (وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ -التوبه آ:۳۴) هغه کسان چه ذخيره کوي سره او سپين زر او نه ئې نفقه کوي د خداى په لار کښې نو زيرى ورکړئ دردناک عذاب.
له دي دوو آيتونو څخه دا استنباط کيدى شي چه د حاجت د خاوندانو له مرستي نه هغه څوک معافيت پيدا کوي چه له خپلو ضروري حوايجو څخه زيات څه نلري او په بډايانو کښې نه شميرل کيږي. هغه کسان چه د کفايت په اندازه څه لري د خيرات په ورکړه مکلف نه دي ځکه چه که دوي نورو ته څه ورکړي په خپله په محتاجانو کښې حسابيږي او د نورو تعاون ته اړ کيږي. که د غه مرسته وکړي نو بيا د پاک خداى د دي ستاينى وړ ګرځى چه فرمايي: (وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ –الحشر آ:۹) او مقدم ګڼي نور په خپلو نفسونو که څه هم دوى فاقه وي، او هغه شى ته په خپله حاجت لري چه نورو ته ئې د ايثار له مخى ورکوي. له ضعيفانو او محتاجانو سره مرسته فى سبيل الله جهاد ګڼل شوى او د خداى په نزد ډير اجر لري. که د قرآن په ژبه پوه شو نو يوه اړ او محتاج ته قرض حسن ورکول له خداى سره معامله ګڼلى شويده: (وَأَقْرَضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا -الحديد آ:۱۸) قرض ورکړئ خداي ته قرض حسن. هر څوک پوهيږي چه خداى بي نيازه دى او ځمکه، آسمانونه او عالمونه دده دي مګر هغه قرض چه مومن ئې مومن ته ورکوي خداى د غه قرض په ځان حسابوي او بنده ته د اسي ښيى چه خداى ئې پورورى دى.
رسول الله (ص) ويلى دي: (انّ اللهَ عزّوجلّ يَقُولُ يومَ القيمَةِ يَاابنَ ادَمَ مَرِضتُ فَلَم تَعدنى ! قال يَاربِّ كَيفَ اَعُودكَ وَانتَ رَبُّ العالمين؟ قال: اَمَا عَلِمتَ اَنَ عَبدى فُلَانٌ مَرِضَ فَلَم تَعدهُ؟ اَمَا عَلِمتَ اَنّكَ لَو عدتَهُ لَوَجَدتَنى عِندَهُ؟ يَاابنَ ادَمَ ! اِستَطعَمتُكَ فَلَم تَطعمنى ! قال يَاربّ وَكَيفَ اطعمُكَ وَانتَ رَبُّ العالمين؟ قال اَمَا عَلِمتَ اَنّكَ اِستَطعَمكَ عَبدى فُلَانٌ فَلَم تطعمهُ اَمَا علمتَ اَنّكَ لَو اطعَمتَهُ لَوَجَدتَ ذلكَ عِندى؟ يَاابنَ ادَمَ اِستَسقيتُكَ فَلَم تَسقِنى ! قال يَاربِّ كَيفَ اَسقيتُكَ وَانتَ رَبُّ العَالمين؟ قال اِستَسقاكَ عَبدى فُلَانٌ فَلَم تَسقهُ اَمَا عَلمتَ اَنّكَ لَو سَقَيتُهُ لَوَجَدتَ ذلكَ عِندي -رواه مسلم) يعنى الله تعالىٰ د قيامت په ورځ وايي اې بنيادمه زه مريض شوم ته پوښتني ته رانغلي. بنيادم وايي اې زما ربه څنګه به پوښتني ته درغلى واى ته رب العلمين يې. خداى ورته وايي: ته خبر نه وى چه زما فلانکى بنده مريض شوا و تائي پوښتنه ونکړه آيا نه پوهيدى چه که د هغه پوښتني ته ورغلى واى زه به دي له هغه سره موندلى واى. اى بنيادمه ! ما در څخه طعام وغوښته او تا طعام رانکړ، بنيادم وايي څنګه مي طعام درکړى واى او ته رب العلمين يې. الله تعالى وايي: آيا ته معلومه نده چه له تا نه زما فلاني بنده طعام وغوښته او تا ورنکړ آيا ته نه پوهيدې چه که طعام دي ورکړى واى هغه به دي له ما سره پيدا کړى واى. اې بنيادمه مادرنه اوبه وغوښتي او تا رانکړې، بنيادم وايي اې ربه څنګه به مې اوبه درکړى واى او ته رب العلمين يى. الله تعالى وايي له تا نه زما فلاني بنده اوبه وغوښتي او تا ورنکړې که تا هغه ته اوبه ورکړې واى هغه به دي له ما سره موندلى واى.
د دي حديث شريف په بنا ديوه اړ او محتاج غوښتنه په حقيقت کښې د خداى غوښتنه ده او له بيوزلو سره مرسته له خداى سره معامله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای د شتو خاوندانو ته داسې امر کوي: (وَآتِ ذَا الْقُرْبَى حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ - بنی اسرائیل آ: ۲۶) ورکړه د قرابت خاوند ته د هغه حق او مسکینانو او مسافر ته. یعنی خدای پاک د هغه کسان دبډایانو په مال کښې د حق خاوندان ګڼلي او ددوی حق ترینه ددوی د پاره غواړي. که څوک د هغه حق نه پرځای کوي د نورو د حق غاصب ورته ویلی شو.

په قرآن کریم کښې څو څو ځله امر شویدی چه د خدای په لاره کښې مال وښندئ او د هغه کار جهاد بلل شویدی مګر د هغه مال ښندل د قرآن کریم په ژبه تجارت ګڼل شویدی لکه چه وايي:

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ - الصف آ: ۹ او ۱۰) اي مومنانو آیا دلالت وکړم تاسو ته په داسې تجارت چه نجات درکړي له دردناک عذاب څخه. ایمان راوړئ په الله او په رسول ئي او جهاد وکړئ د خدای په لاره کښې په خپلو مالونو او په خپلو نفسونو دا خیردی تاسو لره که پوهیږئ.

د غه مالي جهاد چه په حقیقت کښې ډیر ګټور تجارت دی په ظاهرئي که معامله له خوارانو، غریبانو، کونډو او یتیمانو یا پردیسانو سره ده په معنی کښې له خدای سره معامله ده او له خدای سره معامله د هر چا په ګټه ده.

په یوه حدیث شریف کښې راغلي دي: (اَلسَّاعِی عَلَى الأَرملَةِ وَالمِسكِينِ كَالمُجَاهِدِ فِی سَبِيلِ اللهِ اَو القَايِمِ اللَّيلَ وَالصَّائِمِ النَّهَارِ_ شیخان والترمذی والنسائی) څوک چه سعی کوي د کونډې او مسکین په بهبود کښې داسې دي لکه فی سبیل الله مجاهد یا لکه قایم اللیل او صائم النهار.

مطلب دا چه د بېوزلو خدمتګار او د بېنوا یانو مرستیال له مجاهد ینو او هغو کسانو سره برابردی چه د شپې خدای ته په طاعت ولاړوي او د ورځې روژه وي.

د خیر او ثواب کارونه ډیردي مګر د هغه شی انفاق چه سړي ته محبوب او عزیز وي کامل خیردی. الله تعالی وايي: (لَن تَنَالُواْ الْبِرَّ حَتَّى تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَ - آل عمران آ: ۹۲) یعنی هیڅکله به و نه مومئ د خیر کمال څو چه نفقه کړئ له هغه شی څخه چه درته ګران وي.

مطلب دا چه د نیکۍ او خیر کمال ته نشئ رسیدلی او د خدای رحمت، رضا او جنت نشئ موندلی ترڅو چه د خلکو په معاونت کښې له خپلو ډیرو عزیزو او محبوبو شیانو څخه نفقه نکړئ. هغه محبوب شی غوره مال وي او که جاه او منزلت.

ځینې خلک وي چه په خپلو مالونو کښې ئې ځینې شیان زړه ته ډیر نژدې وي او ځینې داسې وي چه خپل جاه و جلال سره ئې ډیره مینه وي مومن باید هم قیمتی مالونه او هم خپل انانیت د خلکو د خیر د پاره قربان کړي چه د خیر او نیکۍ کمال ته ورسیږي.

که یو معزز سړی له یوه خوار او غریب یا مظلوم سره ګرځي او معاونت ورسره کوي ښائی چه په ظاهره دا د ځان د پاره حقارت وګڼي مګر د خدای په نزد دې نه لوی عزت نشته او د بل د خیر د پاره ځان خوارول ډیر زیات اجر لري.

د اسلام په ډیرو احکامو کښې د یوې ښې جامعې جوړول او له نورو سره تعاون او ملګرتیا اصلي منظور دی او د غه منظور په اجمالي او کلي ډول په دې آیت شریف کښې ډیر ښه ځای شویدی:

(إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ وَإِيتَاء ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاء وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ - سورت النحل آ: ۹۰) په تحقیق سره خدای امر کوي په عدل او احسان او د قرابت خاوندانو ته په ورکړه او نهی کوي له فحشاء او منکر او بغی څخه.

عدل او احسان داسې کلمې دي چه په ټولو ښیګڼوئې اطلاق کیدی شی او ټول مادي او معنوي معاونتونه پکښې راتلی شي.

که دا دوه کلمې په یوه جامعه کښې عملي شي ټولې بدبختۍ له منځه وړي او ټولې خوښۍ یوې جامعې ته راوړي. له خپلوانو سره ښیګڼه په خاص ډول خپلوۍ ټینګوي او د اتصال رشتې تقویه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه فحشاء، منکر اوبغی ټول مفاسد او رذایل اومظالم احاط کوي او دغودرې شیونونه ځان ساتل دجامعې داصلاح او فلاح موجب ګرځي. دتعاون په باب داحدیث ډیر جامع او په هر راز مرستو حاوي دی.

(مَن نَفّسَ عَن مُسلِمٍ کُربَةً من کُربِ الدُنیَا نَفّسَ اللّٰهُ عَنهُ کُربَةً من کُربِ یَومَ القِیَامَةِ وَمَن یَسّرَعَلیٰ مُعسَرِ یَسّصرَ اللّٰهُ عَلَیهِ فِی الدُّنیَا وَالاخِرَه وَمَن سَتَرَ مُسلِماً سَتَرَهُ اللّٰهُ فِی الدُّنیَا وَالاخِرَه وَاللّٰهُ فِی عَونِ العَبدِ مَاکَانَ العَبدُ فِی عَونِ اَخِیهِ-عن ابوهریره_اخرجه مسلم) څوک چه لرې کړي له یوه مسلمان څخه ددنیا له غمونو یوغم لرې کوي خدای له هغه څخه دقیامت له غمونو نه غم. څوک چه اساني راولي په هغه چا چه په تنګسه کښې وي خدای پرې په دنیا اوآخرت کښې اساني راولي.

څوک چه دمسلمان پرده وکړي خدای ئې په دنیا او اخرت کښې پرده کوي. الله تعالی له بنده سره معاونت کوي ترڅو چه بنده دخپل ورور معاونت کوي. پیغمبر (ص) هغه څوک په خلکو کښې بهترګڼي چه خلکو ته ئې ګټه او فایده رسیږي (خَیرُالنّاسِ مَن یّنفَعُ النّاسَ) په یوه بل حدیث شریف کښې رسول الله (ص) وایي: (اَلمُؤمِنُ الّذِی یُخَالِطُ النّاسَ وَیَصبِرُعَلیٰ اَذَاهُم خَیرُمِّنَ الّذِی لَایُخَالِطُ النّصاسَ وَلَایَصبِرُعَلیٰ اَذَاهُم عن ابن عمر-اخرجه ابن ماجه باسنادصحیح) هغه مومن چه خلکو سره ګډون کوي او دخلکو په اذیت صبر کوي له هغه چانه بهتر دی چه خلکو نه ګوښی اوسی او په اذیت ئې صبرنه کوي. مقصد داچه اسلام انزوا او ځاني نه خوښوي او له نورو سره ګډ اوسیدل غواړي. له نورو سره ګډ اوسیدل صبر او تحمل ته ضرورت لري.

دصبر توصیه په قرآنی آیاتو اونبوی احادیثو کښې ډیره زیاته راغلی ده چه داسلام مخالفانو او دښمنانو ترینه غلط تعبیرونه کړي او ویلی ئې دي چه داسلام دین دنورو ادیانو په شان داستعمارګرو او استثمار چیانو ګټه خپلو پیروانو ته توصیه کړیده چه دبډایانو او دقدرت دخاوندانو په مظالمو صبروکړي او غلامۍ ته ئې غاړه کیږدي یعنی په دنیاکښې هر راز بد بختۍ او بې عدالتۍ په ځان ومني او اجرئې په آخرت کښې له خدایه وغواړي. ددوي په عقیده داسلام دین خلک دجابرانو او ظالمانو اطاعت ته رابولي اوپه مظلومیت ئې قانع کوي. حال داچه دوی داسلام ضداسلام ګڼلی اود قرآن په واضحو اوصریحو احکاموئې سترګې پټې کړیدي. دوی دې ته نه دی کتلی چه حضرت محمد(ص) اودهغه خلیفه ګانو او نورو رښتینو پیروانو عملاً دجابرانو او ظالمانو په مقابل کښې څه وکړه او دجهادونو معنی څه وه؟

هغه صبر چه په قرآن کریم کښې ئې بیابیا توصیه شویده دظلم او ظالم په مقابل کښې دمقاومت اوثبات معنی لري چه باید د جهاد په میدان کښې ونښودل شی او عزم و اراده قوي کړي.

دظلم او ظالم په مقابل کښې مو د مومن اومسلمان دریځ دمخه هم څرګند کړ چه نه به په ځان ظلم قبلوی او نه به د بل مسلمان دمظلومیت تحمل کوي یعنی دبل مظلوم مرسته به هم کوي او دظالم لاس به له ظلم څخه لنډوي.

اوس راشئ چه دصبر کلمه په قرآن کریم کښې وګورو چه په څه معنی استعمال شویده او په څه منظور په مکرر ډول بیا بیا راغلی ده.

په سورة البقره کښې دا آیت: (وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاء والضَّرَّاء وَحِينَ الْبَأْسِ آ:۱۷۷) دامعنی لري چه په سختیو، کړاوونو اودجنګ په میدان کښې صبر کوونکی اومیدان نه پریښودونکی دنیکانو او صالحانو په ډله کښې خاص او ممتازمقام لري یعنی په جهاد کښې ثبات او مقاومت صبر دی. په بل آیت کښې:

(وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتَّى نَعْلَمَ الْمُجَاهِدِينَ مِنكُمْ وَالصَّابِرِينَ -محمد آ:۳۱) الله تعالی فرمایي: په تاسو باندې ازمیښت کوواو امتحان درنه اخلوچه ستاسو مجاهدین او صابران یعنی ثابت قدمه کسان له بې ثباته او غیر مجاهدینو څخه ممتاز کړو.

وګورئ! صابر دمظلوم صفت نه دی د مجاهد صفت دی اود قهرمانۍ مفهوم پکښې نغښتی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه دصابرانو ذکر په دې آيتونو کښې: (كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللّهِ وَاللّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ – البقره آ:۲۴۹) (يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُواْ مِئَتَيْنِ- الانفال آ:۶۵) دامطلب نورهم ډيرښه ثابتوي چه صابران هغه دي او خداى له هغو صابرانو سره دى چه دوى لږ وي خوله ډيرو سره جنګيږي.

صابران هغوته وائي چه شل تنه ئې په دوو سوو تنوبرى مومي. صبر يعنى د ايمان قوت چه اقليت په اکثريت باندى غالب ګرزوى او د اسلام په تاريخ کښې ئې مثالونه کم نه دي په قرآن کښې صبر له عزم سره تړول شوى او د اوالعزمو صفت ګڼل شويدى (فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُوْلُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ الاحقاف آ:۳۵) هغه قرآني تعليم دى چه دصبرمقام او منزلت ډيروي او دشجاعت او شهامت مظهر ئې ګرزوي.

سره له دې که څوک دصبر په معنى نه وي پوه شوى يائې ځان نه وي پوه کړى د اسلام ګناه نه ده دفهم ګناه ده يا د عناد. په اسلام کښې که صبر د اذيت اوضرر قبلولو په معنى راغلى لکه په تير شوي نبوي حديث کښې چه هغه څوک بهتر وګڼل شو چه له خلکو سره اختلا ط لري او په اذيت ئې صبر کوي نه هغه چه د اذيت نه د ځان ژغورلو په وجه له خلکونه ګوښې ګرځى اومنزوي کيږي.

په دغسې مواردوکښې د اسلام مطلب دادى چه انسان بايد دومره زغم او حوصله ولري چه په اجتماع کښې ژوند وکړى شى او مو دماغه نه وي. هره جامعه که هر څومره خواږه ولري يو څه ترخه هم ورسره وي او دعسلومچى هم بې نيشه نه وي.

سړى بايد دجامعې د آزارپه مقابل کښې دضرورت په اندازه زغم ولري او له صبر او حوصلې نه کار واخلي. په مصيبتونو کښې صبر او په خوښيو کښې صبر د اسلامى اخلاقو جز دي چه اجتماعى اوبشري ژوند ورته ډير ضرورت لري او بيخى بى صبره سړى په جامعه کښې ځاى نشي نيولى. اسلام فرد ته داحق ورکوي چه په جامعه کښې تجلي وکړي او خپل فردي حقوق ، حيثيت او اعتبار وساتي مګر له جامعې نه د بيليدو اوګوښې کيدو اجازه نه ورکوي اونه ئې مرورتوب ته پريږدي.

له فردنه هغه څه نه جوړوي چه له جامعې سره جوړنه وي او جامعه ناجوړه کوي. فرد او جامعه که څه هم ظاهراًيو دبل مقابل ګڼل کيږي خو دامقابله دتور او سپين مقابله نه ده. که څوک وغواړي چه ديوې جامعې نوعيت او کيفيت ځانته معلوم کړي ودې ګوري چه جامعه له څنګه افرادوجوړه شويده يعنى د افرادو څنګه والى دجامعې په څرنګوالى کښې دخل لري. همدارنګه دافرادو په جوړلوکښې دجامعې جوړښت مهم عامل دى او معلومه ده چه څنګه جامعه، څنګه افراد جوړوي.

په همدغه اساس که څوک ځانته دامعلوموي چه اسلام څنګه جامعه جوړول غواړي ودې ګوري چه اسلام څنګه افراد جوړوي او دشخصيت په جوړولوکښې ئې کرنلاره څه ده او څه نقشه لري.

فرد جوړول:

په اسلامي نظام کښې فرد دحق خاوند ، د ارادې خاونداو دحيثيت وکرامت خاوند دى، ده ته يوازې د ژوند حق نه دى ورکړشوى دېت اوعزت لرلو حق هم ورکړ شوى او توهين وتحقيرئې جرم وجنايت يا اقلاًقباحت ګڼل شويدى.

دى دمالکيت اومشروع فعاليت حق لري او دانتخاب او تصرف حق ورته حاصل دى چه هم فکر کولى شى او هم کارکولى شي، د نظام په جوړولو او دزمامدار په ټاکلو کښې دده رايه معتبره ده او په اجتماعي چاروکښې ئې مشوره ارزښت لري.

په اسلامى فقه کښې يوه مسلمان اويوې مسلمانې ښځې ته دا حق په مساوي ډول ورکړشويدى چه که هريو له دوى څخه يوه کافر ياد کافرانو يوه جماعت يادېوې کلا يادېوه ښارخلکو ته امان ورکړي نوبيا هيڅ يو مسلمان له هغوى سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

دجنګ او قتال حق نلري او دغه امان شرعي اعتبار لري مګر په هغه صورت کښې چه دغه امان ورکول دمسلمانانو دپاره دفساد موجب وي نو بیا دغه دامان ورکړه ردیدلی شي. په دغه صورت کښې که پخپله امام او اولوالامرهم امان ورکړی وي امان ئې د رد وړدی.

دغه مهم او سترحق چه اسلامي او شرعي قانون دمسلمان هر فردته ورکړی دفرد موقف په اسلامي جامعه کښې ډیرلوړ ښیي چه نظیر به ئې ددنیا په قوانینو کښې نه وي موجود یوازې همدغه یوحکم کافی دی چه دفرد اهمیت په جامعه کښې وښیي او دفردي اعتبار وزن وټاکي. همدارنګه په اسلام کښې فردته دشهادت حق ورکول او په میراث کښې ورته په حق قایلیدل دا ثابتوي چه اسلامی نظام فردته ډېره اعتناء لري. په فردي حقوقو کښې ځینې حقونه چه اوس په دیموکراسی نظامونو کښې انسان ته ورکړ شویدي اسلام ډیرد مخه افرادوته ورکړیدی او دانسان مادي او معنوي مصئونیت ئې په ښه شان تامین کړیدی.

په دغوحقوقو کښې کوم حق چه په اسلامي لحاظ ډیر دقت وړدی اوله ډیرغور نه پکښې کار اخیستل شوی هغه دمالکیت حق دی چه بنیادي حیثیت لري او دحقوقو مور ورته ویلی شو.

همدغه حق دفرد په سرنوشت او دفرد په مادي او معنوي جوړښت کښې اساسي نقش لري او مستقل بحث غواړي چه دلته ئې تفصیل بمیورده نه دی.

مالکیت او مالی سیاست په اسلام کښې:

انسان چه انسان شوی اولږ غوندې په خه پوهیدلی دی د مال لرلو او مال ډیرولو فکر او مینې ئې په زړه او دماغ کښې غځوني کړیدي.

له هغه وخته چه ابتدائي انسان له ښکار نه کار ته مخه کړه او له زراعت سره اشنا شو نو ټاټوبی ئې پیدا کړ او دمال غونډولو او ساتلو په فکر کښې شو. د مالکیت احساس راپیدا شو او وده ئې وکړه، دمال مینه ورو ورو زیاتیده او دانسانی حرص سترګي ورځ په ورځ وږي کیدي.

مال که له یوې خوا دانسان حاجتونه او ضرورتونه پوره کول نوله بلې خوائې حسادتونه او رقابتونه راپارول او دمال په سر دښمنۍ او جنګونه شروع شوه. په مال کښې دخیر او شر دواړه جنبې محسوسې شوې.

له میلاد نه پنځه سوه کاله پخوا دمال او مالکیت په باب فلسفي بحثونه شروع شوه. مال ته بد وویل شوه او دمالکیت په ضد دمبارزې فکر پیدا شو، افلاطون په واضح ډول د اجتماعی چارو دکارکوونکو په مورد کښې دملکیت دلغوه کولو آواز اوچت کړ او مسیحی دین مال دبشري جامعې دفساد منشا او دشرارت تومنه وګڼله.

داسلام په مقدس کتاب (قرآن) کښې مال دفتنې په نامه وبلل شو او دانسان دښمن ورته وویل شو. مګر په همدغه کتاب کښې ئې ډیرښه نومونه هم ثبت شوه لکه: (خیر او فضل) یعنی اسلام دمال دواړه جنبې په نظر کښې ونیولې او عیب وهنرئې دواړه پکښې مشخص کړه. په همدغه ملاحظه ئې هم انسان ته دمالکیت حق ورکړ او هم ئې په دغه حق څه قیود او شرطونه کیښودل.

اسلام دبشر په حیاتي ضرورتونو او حاجتونو سترګې پټې نکړې او مال ته ئې دده اړتیا په نظر کښې ونیوله مګر دمال په لرلو او راغونډولو کښې ئې افراط بدوګاڼه او حدودئې ورته وټاکل.

اسلام داسې دین نه دی چه دانساني غرایزو په مخکښې سد شي او بیخی ئې مخه بنده کړي. مګر طغیان او عصیان ته ئې هم نه پرېږدي او ښه مجری ورته پیدا کوي. هغه حیواني جنبه چه د انسان په خټه کښې شته اسلام ئې محوه کوي نه بلکه د تهذیب کوښښ ئې کوي.

دمال او مالکیت په مسئله کښې هم نه افراط خوښوي او نه تفریط، دقرآني احکامو له مخې دمالونو اصلي مالک خدای دی او خدای دغه مالونه انسانانو ته په مجموعی ډول ورکړیدي چه افراد پکښې دجماعت په وکالت دجایز

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصرف حق لري او په مطلق ډول پکښې تصرف نشي کولی. یعنی سود پرې نشي خوړلی، قمار پرې نشي کولی، په عیاشۍ او فحاشۍ ئې نشي لګولی.
قرآن کریم مال لرونکی د مستخلفینو په حیث مالکان ګڼلی نه د اصیلانو په حیث یعنی اصلی مالکان ئې نه دي بللی.
وګورئ ! په سورة حدید کښې دغه آیت: (آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَأَنفِقُوا مِمَّا جَعَلَكُم مُّسْتَخْلَفِينَ فِيهِ الحدید آیت:۷) د ترجمې حاصل: په خدای او رسول ایمان ولرئ او هغه څه نفقه کړئ چه خدای پکښې خلیفه ګان ګرزولی یاست.
په سورة نور کښې دا آیت: (وَآتُوهُم مِّن مَّالِ اللَّهِ الَّذِي آتَاكُمْ النور آیت:۳۳) په صریح ډول حکم کوي چه ورکړئ له هغه مال څخه چه خدای درکړیدی. په الهي کتاب کښې چه مال د خدای ورکړه ګڼل شویده او د عاریت مفهوم پکښې پروت دی دا مطلب هم ښه واضح شویدی چه په دغو مالونو کښې چه ظاهراً خپلو عاریتي خاوندانو ته منسوب دي او مجازاً د دوی بلل کیږی بیا هم یوازې د دوی نه دي. محرومه طبقه او سوالګرهم پکښې حق لري یعنی علاوه په زکات محروم او سایل د بېوزلو ایانو په مال کښې د حق خاوندان دي او مشترک مال دی.
په سورة الذریت کښې چه د متقیانو حال بیانیږي نو د مال په برخه کښې دوی په دې ډول معرفي شویدي:
(آخِذِينَ مَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ. وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ الذریت آیت ۱۶) یعنی دوی د هغه څه اخیستونکي دي چه خدای ورکړیدي او په مالونو کښې ئې علاوه په زکات سوالګر او محروم حق درلود. بله دا چه اسلام د مالونو انحصار په څو محدود لاسونو کښې بد ګڼلی او دا مطلب د سورة حشر په دې آیت کښې ډیر ښه څرګند شویدی:
(مَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنكُمْ الحشر آیت:۷) یعنی هغه مال چه بې جنګه د فئی او خراج په صورت د رسول الله (ص) لاس ته ورځي هغه د الله تعالی، د رسول الله (ص) د ذی القربی، د یتیمانو، مسکینانو او د لارویو پردیسانو حق دی چه په دوی به ویشل کیږي او دا د دې دپاره چه دولت د څو تنو غنیانو په لاس کښې محبوس او محصور نشي. په دې آیت کښې د مال د توزیع غایه دا ښودل شویده چه سرمایه تراکم ونکړي او د اغنیاؤ طبقه ډیره پیاوړې نشي. یعنی اسلام ډیر د مخه د طبقاتي تضاد د محنیوي فکر کړی او نه ئې غوښتل چه په اسلامی امت کښې ډیرتېټ و پاس منیځ ته راشي.
غنا او بډائي که څه هم په ظاهري نظر په اسلام کښې صریحاً منع نه ده او هرچا ته دا حق ورکړشوی چه په جایزه طریقه د شتو خاوند شي او هغه تکالیف په ذمه واخلي چه اسلام د شتمنو په ذمه ایښې دي لکه د زکات، خیرات او صدقاتو ورکړه او د قرض حسن له لارې له محتاجو سره مرسته او نور.
مګر که څوک له ژور فکر نه کار واخلي او اصلي منظور ته ښه ځیر شي هغه په و هیږي چه شیشګی که حلال دی شکل ئې د مردار دی. د مال پیدا کولو او ډیرولو هغه طریقې چه اسلام منع کړیدي لکه سود خوري، احتکار، بډې اخیستل، غبن فاحش په معامله کښې، دروغ ویل، غدر کول، تقلب یا د اسې نور د اټول د قاروني بډائي په مخکښې بندیزونه دي چه په مستقیم او جدي ډول د قارونیت مخه نیسي. له بلی خوا هغه تشویق او ترغیب چه د خیر و احسان په باب په نبوي احادیثو او قرآني آیتونو کښې وینو مسلمانانو ته دا اجازه نه ورکوي چه د فقیرانو او د حاجت د خاوندانو په مقابل کښې له بخل و امساک نه کار واخلی او په خیریه چارو کښې سترګې پټې کړي. سربیره په دې اسلام د مسلمانانو اولو الامر ته دا حق ورکړی چه د خوارانو او فقیرانو د مړولو او ژوندښه کولو دپاره د ضرورت په اندازه د بډایانو مالونه بېوزلو او غریبانو ته ورکړي او موازنه قایمه کړي. حضرت عمر (رض) چه د خپل خلافت په وروستیو وختو کښې اجتماعي وضع ته ملتفت شو چه ځینې کسانو ډیر مالونه جمع کړیدي او نور په فقر او غربت کښې ژوند کوي نو اراده ئې وکړه چه د تعادل او مالي تسوئې دپاره له اغنیاو سره فقیران د هغوي په مالونو کښې شریک او سهیم کړي څکه یې وویل: (نُطعِمُ المُسلِمینَ مِن بَیتُ المَالِ حَتی اِذا لَم تَجد فیه شَیاً اَدخَلنَا عَلیٰ کُلِّ اَهلِ بَیتٍ مِن الاَغنیَاءِ مِثلَهُم مِن المُحتَاجِینَ وَمَا نَزَالُ نَفعَلُ ذِلکَ حَتی یَطعَمَ المُسلِمُونَ جَمِیعاً) یعني مسلمانان به له بیت المالِ څخه مړوو او چه په بیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

المال کښې څه پاتې نشي دبډايانو په هر کور کښې به هغومره محتاجان ننباسو او د اکاربه ترهغه وخته کوو چه ټول مسلمانان په ګيډه ماړه شي.

په اسلام کښې دمالکيت په باب دا آيت هم دجدي توجه وړدی: (وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ التوبة آيت:۳۴) هغه کسان چه سره او سپين زر ذخيره کوي او دخدای په لار کښې ئې نه نفقه کوي د دردناک عذاب زيری ورکړئ دهمدغه آيت په استناد او دنبوي احاديثو په بنا د رسول الله (ص) په اصحابو کښې ابو ذرغفاري دقارونيت په ضد په تبليغی مبارزه لاس پورې کړاو په دغه جهاد کښې ئې ډير تکليفونه وليدل ترڅو چه بالاخر د ربزې دښتې ته نفی بلد شو او هلته د ډير غربت په حال کښې مړشو اولاروبو خاوروته وسپاره.
دابوذر اويو شمير نورو اصحابو تبليغ دغه معارضه دحضرت عثمان په خلافت کښې ډيره توده شوه، دابوذرتبليغ چه څومره په شتمنو اوبډايانو بد لګيده هغومره ئې خواران او فقيران ځانته جلبول او طرفداران ئې ډيريدل.
حضرت علي او ابوذر په دې عقيده و چه ديوه کال دنفقې دپاره څلور زره درهمه ساتل جايز کاردی او له دينه زيات مال ذخيره کول ممنوعه کنز شميرل کيږي.
په ډيرونبوي احاديثو کښې دا مطلب ښه واضح دی چه اسلام فاحشه غنا بده ګڼي او دانه خوښوي چه ځينې په عيشونو اوخوندونو کښې ډوب وي او نور په لوږه او تنګسه کښې ژوند وکړي.
(خُذمن اَغنيَائِهِم وَرُدّ الی فُقَرَائهم) له بډايانو نه ئې اخله او فقيرانو ته ئې ورکوه داسلام اقتصادي کرښلاره ده. ابی امامه روايت کوي چه رسول الله (ص) ويلي دي: (يَا اِبنِ اٰدَمَ اِنَّکَ اَن تَبذِلِ الفَضلَ خَيرٌلَّکَ وَاِن تُمسِکهُ شَرٌّلَکَ – مسلم و ترمذي) يعنی اي بنيادمه! که مال وښندي خيردې پکښې دی او که ئې وساتی درته شردی.
همدارنګه بلال وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: (مَارُزِقتَ فَلاتَخبَاء وَمَا سُئِلتَ فَلا تَمنَع فَقُلتُ: يَارَسُولَ الله وَکَيفَ لِی بِذالِکَ؟ قال: هُوَذَاکَ اَوِالنَّارُ) مطلب دا چه رسول الله (ص) وفرمايل: څه چه ستا روزي شويدي مه ئې ساته او ذخيره کوه ئې مه او څه چه درنه وغوښتل شو منع کوه ئې مه.
بلال وويل دابه زما دپاره څنګه شي؟ هغوی وفرمايل يا همدغه شان اويا د دوزخ اور.
امام احمد حنبل په مسند کښې دا حديث نقلوي: (اَيُّمَا اَهلُ عَرصَةٍ اَصبَحَ فِيهِم اِمرَوٌ جَا يعاً فَقَد بَرِئَت مِنهُم ذِمَةُ اللهِ تَبَارکَ وَتَعَالی) خلاصه ئې دا چه پاک خدای له هغو څخه بيزاره دی چه په څنګ کښې ئې څوک په لوږه شپه سبا کوي. په قرآن کريم کښې متعدد آيتونه راغلي دي چه د (مترفينو) ژوند ئې بد ګڼلی او مسلمانان ئې په جدي ډول دې ته متوجه کړيدي چه آسوده ژوند اودعيش ونوش ژوند ونکړي بلکه متوسط ژوند اختيار کړي چه نور ورته ونه پخسيږي او مزې چړچې پکښې نه وي دآسوده حالی په غندنه کښې يوعلت چه قرآن په ګوته کړی هغه دادی چه مترفينو يعنی آسوده حالو کسانو هروخت دنوي دين په قبلولو کښې شديد مقاومت کړی او له پيغمبرانو سره ئې خپل خصومت ته دوام ورکړی دی يعنی دارتجاع ټينګ حاميان همدغه خلک دي چه دهر تغير او تحول مخه نيسي او دزاړه حال بقااو دوام غواړي.
دبشري تاريخ له مطالعي نه هم دا پته لګيږي چه عياش قومونه له مينځه تللي او هغه قومونه چه په مشقت او زيار و زحمت کښې لوی شوي په نورو غالب شويدي. اوس خلک پدې هم پوه شويدي چه عياشي دصحت په لحاظ هم ډيرخطرونه لري او ډير فسادونه ورسره تړلي دي. داسلام پيشوا حضرت محمد (ص) دمترفينو يعنی دعياشانو او اسوده حالوکورونه (بيوت الشياطين) دشيطانانو کورونه بللي دي چه فتنې اوفسادونه ترې ولاړيږي.
الله تعالی فرمايي: (إِنَّ الْإِنسَانَ لَيَطْغَى أَن رَّآهُ اسْتَغْنَى - العلق آيات:۶ او ۷) په تحقيق سره انسان سرکشي کوي چه ځان بې پروا او مستغني ووينی. يعنی مال اوثروت دغرور او سرکشی باعث ګرزي. په بل آيت کښې راغلی دی:
(وَلَوْ بَسَطَ اللَّهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهِ لَبَغَوْا فِي الْأَرْضِ الشوری آيت:۲۷) که چيرې خدای دخپلو بندګانو روزي پراخه کړي وای هرګوره به ئې په ځمکه کښې بغاوت کړي و. دهمدغسې ملاحظاتو په وجه مسلمانانو ته دا اجازه نشته چه خپل حلال مال هم په ځان باندې له ضرورته زيات ولګوي او له اسراف وتبذير څخه کار واخلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاک خدای وایي: (وَآتِ ذَا الْقُرْبَى حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَلاَ تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُواْ إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ الاسراء آیت: ۲۶) یعنی ورکړه خپل قریب ته د هغه حق او مسکین ته او پردیس ته تبذیر او اسراف مه کوه مبذرین بیشکه د شیطانانو ورونه دي.

په بل آیت کښې وایي: (وكُلُواْ وَاشْرَبُواْ وَلاَ تُسْرِفُواْ إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ الاعراف آیت ۳۱) خورئ، څکئ او اسراف مه کوئ اسراف کوونکی د خدای نه دي خوښ.

د اسراف معنی له حد او اندازې نه تجاوزدی په حریصانه ډول خوراک او څکاک او بیځایه خرڅونه په اسراف کښې شامل دي. د مسلمانانو اغنیاء نشي کولی چه له نورو نه په عالي سطحه ژوند وکړي او شان و شوکت ئې نظرونه ځانته جلب کړي په اسلامي جامعه کښې که خواران او غریبان وربښمني جامې نشي اغوستلی بډایان هم نشي کولی چه د غه فاخر لباس واغوندي. کله چه د عبد الرحمن بن عوف ځوی له خپل پلار سره د دوهم خلیفه حضرت عمر مخې ته ورغی او وربښمین کمیس ئې اغوستی و خلیفه د غه کمیس له ګریوانه ترلمنې پورې څیرې کړاو د دغسې معتبر او ډېر شمتن صحابی ځوی ئې هم پرینښود چه د اسلام له مقرراتونه سرو غړوي. د همد غه خلیفه خپل ژوند سره له د غه لوړ او عالي مقامه په متوسط حال کښې و او له نورونه ځانته په څه امتیاز قایل نه و. یوه ورځ چاترینه پوښتنه وکړه چه تاته له بیت المال څخه د څومره مال مصرفول جواز لري. ده وویل په کال کښې دوه جوړه جامې، یوه جوړه د ژمی او بله د اوړي د پاره او دومره څه چه د حج تو ښه شی زما او د زما عیال قوت باید د قریشو د متوسط شخص په اندازه وي. زه د مسلمانانو له جملې څخه یو تن یم څه چه نورو ته رسیږي ما ته به هم رسیږي.

پخپله د رسول الله (ص) د زهد او ریاضت ژوند چه له مشقته ډک و، همدارنګه د ده د غوره اصحابو ساده او بې عیشه ژوند چه د مجبوریت په وجه نه بلکه د عزم او ارادې له مخې وپه همد غه اساس بنا ؤ، چه دوی نه غوښتل چه نور په محرومیت کښې وي او دوی په نازونعمت کښې.

همد غه وجه وه چه د اسلام دوهم خلیفه حضرت عمر (رض) د رماده د کال په قحط کښې غوړي ترهغه وخته ونه خوړه ترڅو چه په بازار کښې د نورو د پاره پیدا شوه او قحطی له منیځه لاړه. په د غه موده کښې خلیفه هم د نورو په شان تیل خواړه او د تیلو خوړلو په وجه ورته ناروغي پیدا شوه او پوستکی ئې تک تور شو.

اسلام خپل پیروان په اخلاقي لحاظ د اسې روزل چه د دنیا مال، زیب وزینت او عیش وعشرت ته په حقارت وګوري او مینه ورسره پیدا نکړي، له خپل نفس او نفسی خواهشاتو سره مبارزه وکړي او ساده ژوند اختیار کړي. حرص او هوس پریږدي له بخل او امساک نه ځان وژغوري، کبر او غرور په ځان کښې پیدا نکړي، صدق او صفا ولري او د خلکو په خدمت کښې د اسلام په خدمت کښې جهاد ته ملا وتړي او قربانی ته چمتو شي.

اسلام د خپلو پیروانو د تنظیم او اداري، د تهذیب او تربیت د پاره دوه وسیلې په کا واچولی، تشریع او توجیه. ځینې شیان شته چه په اسلام کښې شرعاًمنع نه دي مګر دیانتاًمنع دی د شریعت او د دیانت تقاضا هر کله یوه نه ده، په ځینو موارد و کښې تشریعي جنبه او توجیهی جنبه یوله بله بیلیږي.

تشریعي احکام هغه دي چه په عام ډول هر مسلمان پرې مکلف دي او که څوک ترې مخالفت وکړي شرعاًمحکوم کیږي لکه زکات چه که څوک ئې له اداکولو انکار وکړي اولوالامر ته د اتق حاصل دی چه ورسره محاربه وکړي او قتال ته ئې ملا وتړي، په توجیهی لحاظ هر مسلمان علاوه په زکات دیانتاً موظف دی چه د صدقاتو او خیراتو نو له لارې له خپل حاجته زیات مال د خدای په لار کښې مصرف کړي او د خیر و احسان نمونه او مثال شي.

توجیهی احکام د تشریعی احکامو په شان په قانونی شکل نه تطبیقیږی بلکه د اخلاقي اصولو په حیث رواج مومي او د خاصانو اورهبرانو کاردی. په اسلام کښې بنه اوبد، حلال وحرام ځانته مدارج او مراتب لري. مثلاً پیاز یا اوږه خوړل په اصل کښې جایز کاردی مګر د جمعې په ورځ او په هغو وختونو کښې چه سړی له نورو سره ګډون کوي او د خولې بوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئي نور په عذابوي په ممنوعاتو کښې شمېرل کيږي. دتقوی او رياضت خاوندان دجايز اوناجايز په تشخيص کښې له عامو مسلمانانو نه فرق لري.
دعامو مسلمانانو تقوی همدغه ده چه پردی حرام مال ونخوري اوله کبيره ګناهونو څخه ځان وساتی. دزاهدانو تقوی داده چه پخپل حلال مال هم ځان موړنکړي او دنفس دتزکيې او د روح دتصفيې دپاره جايز لذتونه هم په ځان ودروي يائي ډيرکم کړي.
هغه بډائي چه دحرامو مالونو په غونډولو لاس ته نه وي راغلی او فرايض و واجبات پکښې نه وي ترک شوی شرعاً منع نه ده.
درسول الله(ص) په اصحابو کښې هم اغنياء موجودولکه حضرت عثمان غنی، عبد الرحمن بن عوف او وروسته بياطلحه اوزبير يادا سې نور، مګر پخپله حضرت محمد (ص)، حضرت ابوبکر، حضرت عمر او حضرت علی او ځينې نوروبه دومره مال له ځانه سره نه ساته چه بډايانو کښې حساب شي. دوی به د اربشو په ډوډی هم ځانونه نه مړول او دمترفينوله اسوده ژوند څخه ئي کرکه کوله.
داکارپه اسلام کښې اجباري نه دی اختياري دی. اسلام هغه دين نه دی چه دبشري فطرت اوانسانی غرايزو په مخکښې سد شي او بيخې ئي بنده کړي. اسلام د بشري اوعالمي دين په حيث په خلکو باندې عسراوحرج نه راولي. (لاَ يُكَلِّفُ اللّهُ نَفْسًا إِلاَّ وُسْعَهَا –وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ –يُرِيدُ اللّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلاَ يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ البقره آيات ۲۸۶او ۱۸۵) داهغه آيتونه اوقرآني نصوص دي چه داسلامی قوانينو اساس ئي ګڼلی شو. پدې آيتونو کښې له وسع نه زيات تکليف له اوړو څخه اخيستل شوی او په دين کښې حرج نفی شويدی خدای نه غواړي چه پخپلو بندګانو عسراوسختي راولي. دقرآن دا آيتونه:
(وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا القصص آيت ۷۷)، (لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكَ التحريم آيت ۶۶)هغه حياتي درسونه دي چه د صحت اوقوت وقايه ورپوري تړلې ده او سړی له دې څخه منع کوي چه خپله دنيائي برخه هيره کړي يا په ځان باندې دخدای حلال حرام کړي.
رسول الله(ص) هغه زاهد او عابد چه هره ورځ به روژه واو هره شپه به ئي په نفلونو سباکوله مخاطب کړ او ورته ئي وويل: (.....ولِنفسِکَ عَلَيکَ حَقٌ ولِبَدَنِکَ عَلَيکَ حَقٌ ولِزَوجَتِکَ عَلَيکَ حَقٌ.......) په تاباندې ستا نفس حق لري، بدن دې درباندې حق لري، او ښځه دې درباندې حق لري. لکه چه په عبادات او رياضت کښې افراط منع دی او رهبانيت نفی شويدی دغه شان په صدقاتو کښې هم خپل ټول مال صدقه کول او دپولی ټک ته کښيناستل ښه کار نه دی. که څوک خپل ټول مال صدقه کړي او ځانته هيڅ پرې نږدي. له دې آيت څخه سرغړوي.
(وَلاَ تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَى عُنُقِكَ وَلاَ تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا الاسراء آيت:۲۹) مه خپل لاس خپلې غاړې پورې تړه او مه ئي خلاصوه په تمام خلاصوالی چه کښېنې ملامت شوی او درمانده.
پاک خدای هغه کسان ستايلی دی چه دمال په انفاق کښې اعتدال ساتي او له افراط او تفريط نه ځان ژغوري (وَالَّذِينَ إِذَا أَنفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَلِكَ قَوَامًا الفرقان آيت ۶۷) يعنی هغه کسان چه مالونه نفقه کوي نه اسراف کوي او نه بخل او وي د بخل او اسراف ترمنځ اعتدال ساتونکی.
دژوند په چارو اوانساني اعمالو کښې اعتدال ساتنه په اسلام کښې يومهم اصل دی چه ښه اوبد په همدغه معيار سنجول کيږي او داسلامی اخلاقو اساس ګڼل شويدی. داسلام جمالی خوا همدغه اسلامي اخلاق دي چه انسان مهذب کوي او سړيتوب صيقلوي.
داسلامي تعليماتوغايه اسلامی تربيه ده چه په اسلامی اخلاقو پوري ټينګ تعلق لري او د افرادو د شخصيت په جوړولو کښې ئي نقش ډير څرګند دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلام ربښتياني ممثلين او برجسته افراد هماغه کسان دي چه اسلامي شعاير، آداب او اخلاق پخپل کردار و عمل کښې تمثيلوي او صعودي سير وحرکت ئې د انسانيت دلوړو مدارجو په لوري وي. که د تشبيه له مخې اسلامي روش په بدني ورزشونو کښې دغره ختل وګڼو ويلی شو چه دغه ورزش په مطلق کوه ګردی، تامينيږي او په ټيټو غرونو کښې په ګرزيدو او د غونډيو په ختلو هم سر ته رسيږي مګر هغه کسان چه په دغه ورزش کښې خپله فوق العاده لوړتيا او پيشقدمي ښيي هغوی دلوړو غرونو لوړو څوکو ته خيژي او تاريخي ياد ګارپريږدي.
په اسلام کښې هم اخلاقي رهبران همدغه شان وګڼئ چه د انسانيت ډيرو هسکو مقامونو ته ځانونه رسوي او نورو ته عملاً لوړختل ممکن ګرزوي. دوی د مثل اعلی په حيث اخلاقي معيارونه او مقامونه اوچتوي او نور د لوړتيا لور ته رابولي چه د دوی اقتضا وکړي او په دوی پسې لاړ شي.

د اسلامی اخلاقو غايه او اغيزه:

انسان چه اشرف المخلوقات بلل کيږي معنا يې دا نه ده چه دده ټول خويونه او عادتونه دستايني وړدي او په هر څه کښې هر څه نه ښه دی. دی دخلقت د مثل اعلی په حيث د تکامل په لوړه مرحله کښې واقع دی او په نورو موجوداتوئې دخپلو خاصو استعدادونو او معنوي قواو په مرسته تسلط موندلی مګر له ډيرو فضايلو او محاسنو سره ډير معايب او نقايص هم لري. دخيروشر، دصلاح او فساد، د پاکۍ او نا پاکۍ متضاده جنبې په ده کښې موجود دي او د اضدادو مجموعه ده. حضرت مسيح (ع) او بودا هم انسانان و او چنګيز و هلاکو هم دانسان په بڼه و. د جوړولو او ورانولو دواړه استعدادونه په ده کښې شته او علم وجهل ئې په وجود کښې داسې خوا په خوا وسي لکه چه ابوجهل د حضرت محمد (ص) په ګاونډ کښې او سيده دانسان وجود خوله خاوروپيدا دی مګر داورلمبې داوبوڅپې او د هوا طوفانونه پکښې خوندي دي له خاکسارۍ سره کبر او غرورهم لري او له نرمۍ سره ئې دوسپني صلابت ملګری دی. په رحم کښې ئې قهر، په قوت کښې ئې ضعف او په پوهه کښې ئې ناپوهی ځان ښيي.
دغه عالم او عاقل موجود که دعقل او پوهې په مرسته دژوند ښه کولو وسايل او اسباب برابروي ورسره داتم او هايدروجن بمونه هم جوړوي او په دواړو خواو کښې اسباب سازدی.
که له يوې خوا د بشري امراضو دپاره نوي علاجونه او نوي دواګانې کشفوي له بلې خوا د عالمي تباهۍ مواد او آلات تهيه کوي.
که دانسان ضعيفې او ناوړه جنبې اصلاح نشي او ښه استعدادونه پکښې ونه روزل شي له قوت څخه ئې ليوان له عقل نه ئې شيطانان او له شتمنۍ نه ئې طوفان پيدا کيږي. عقل دانسان ډيره لويه شتمني او دټولو شتمنيو مور ده چه انسان ته ډير څه ورکوي مګر له دغه دنيائي عقل سره يوبل عقل هم په کاردی چه هغه انسان ته سړيتوب ښيي او سړی کوي ئې.
داعقل ددين په رڼا کښې پيدا کيږي او له دين څخه الهامونه اخلي. دا د معاد عقل او هغه د معاش عقل دی. د معاش عقل له هرچا سره شته او نورحيوانات هم پکښې څه نه څه برخه لري مګر د معاد عقل لکه عالي تعليم ټولو ته نه دی رسيدلی.
ډير غوليدلی دي هغه کسان چه دين له عادي او معمولي عقل سره برابر وي او دغې سطحې ته ئې راټيټوي. ډير ښه پوهيدلی دي هغه خلک چه دعقل لوړولو کوښښ کوي او د دين عالي مقام ته ئې اوچتوي يعنی عقل متدين کوي او ددين په لاره ئې برابروي. الهی کتاب (قرآن) دهغو متقيانو لارښوددی چه په غيب ايمان ولري (يُؤمِنُونَ بِالغَيبِ) په غيب باندې ايمان پيدا کول ددغه ظاهربين عقل کاردی او داعقل هيڅکله مومن کيدلی نشي. داعقل دجسم او خيټې خدمت ته پيدا دی او دژوند پاللو مهمه وظيفه ورپه غاړه ده چه په انسانی نړۍ کښې ډيرلوی ارزښت لري او دنيا ئې مرهونه ده مګر دمعقولاتوله سرحد نه هغه خواخه ليدل او په څه پوهيدل ديوه بل عقل کاردی چه ملا خورشوی ندی او دعارفانو په برخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپښتوژبې عارف اوصوفي شاعر عبدالرحمن بابا دغو دوو عقلونو ته په دې ډول اشاره کوي:

ددنيا په کارکښې هرسړی عاقل دی

چه سړی پرې سړی کيږي عقل بل دی

سړی ځنګه سړی کيږي؟ دا سوال ښايي چه ظاهراً تحصيل دحاصل وګڼل شي او په ظاهري عقل برابر نه وي. مګر دبصيرت خاوندان پوهيږي چه ځيني سړي په معنوي لحاظ سړي ندي صورت به ئې دسړي وي مګر سيرت به ئې دسړي نه وي او دشر وفساد جنبه به ئې ډيره غالبه وي.

داسلام مقدس کتاب چه مطلق انسان ته په کرامت قايل دی دانساني فطرت په تشخيص کښې دغه دشر او فساد جنبه اودانسان شهواني غوښتنې هرهرځای بيانوي او داڅرګندوي چه انسان بايد داخلاقي تهذيب اونفسي تزکيې په وسيله خپل انسانيت تکميل کړي او واقعي انسان شي.

انسان دخدای خليفه دی او داسمان ملکې ورته په سجده پريوتې دي مګر انساني فطرت دملايکوله خولې داسې ښودل شويدی: (قَالُواْ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاء البقره آيت ۳۰) يعنی په ځمکه کښې هغه څوک پيداکوې چه په ځمکه کښې فساد کوي او وينې تويوي. سربيره په دې په ډيرونورو آيتونو کښې بشري طبيعت داسې معرفي شويدی:

۱- (إِنَّ الْإِنسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا إِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوعًا وَ اذا مَسَّهُ الخَيرُ مَنُوعــاً- سورة المعارج آيات ۱۹، ۲۰ او ۲۱)

يعني انسان بی صبره، بې ثباته حريص او بخيل پيدا شوی که شرور ورسيده جزع وفزع کوي که خيراو د دنيا مال ئې وموندنوبيا له ډيربخل نه کاراخلي.

۲-(وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ - والعاديات آيت ۸) په دې آيت شريف کښې خيردمال په معنی دی چه انسان ورسره ډيره شديده مينه لري.

۳-(قُل لَّوْ أَنتُمْ تَمْلِكُونَ خَزَآئِنَ رَحْمَةِ رَبِّي إِذًا لَّأَمْسَكْتُمْ خَشْيَةَ الإِنفَاقِ وَكَانَ الإنسَانُ قَتُورًا -الاسراء آيت ۱۰۰) داآيت انسان داسې ممسک ښيې چه که دخدای درحمت خزانې ئې په برخه شي بياهم ويريږي چه د لګښت او مصرف په صورت کښې به ټولې تمامې شي داځکه چه انسان ډير حريص او ډير بخيل دی.

٤- (كَلَّا إِنَّ الْإِنسَانَ لَيَطْغَــى ، أَن رَّآهُ اسْــتَغْنَى -العلق آيات ۶، ۷) انسان چه ځان غني ووينې ارومرو سرکښې اونافرماني کوي.

٥-(إِنَّ الإِنسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ -ابراهيم آيت ۳۴) انسان هرګوره ډيرظالم او ډير ناشکره بنده دی.

٦-(وَكَانَ الْإِنسَانُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا -الکهف آيت ۵۴) انسان له هر څه نه زيات خصومت کوونکی او کج بحثه دی يعنی جدل ئې په ختېه کښې ګډ دی.

۷-(خُلِقَ الْإِنسَانُ مِنْ عَجَلٍ -الانبياء آيت ۳۷) انسان له بيړې او شتاب نه جوړ دی.

۸-(وَكَانَ الإِنسَانُ عَجُولاً -اسریٰ آيت ۱۱) انسان ډيربې صبره او اليته دی.

۹-(زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَاءِ وَالْبَنِينَ وَالْقَنَاطِيرِ الْمُقَنطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّــةِ وَالْخَيْــلِ الْمُسَــوَّمَةِ وَالأَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ......آل عمران آيت ۱۴) په دې آيتونو کښې هغه شهواني مينې بيان شويدی چه انسان دهغو دپاره هر څه کوي اوځان اور اوبو ته غورځوي.

داسلام اخلاقي لارښودنې، دحرام مال غندنه، دنفسي خواهشاتو دپاره حدودټاکل، دقناعت اوصبرتوصيه، دعفت اوتقوی درسونه دهمدغو غرايزو اوانساني طبيعت د اصلاح او تعديل دپاره دي او په ډير صحيح تشخيص بنا دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چه په قرآن کریم کښې دصبرتوصیه بیابیا په مکرر ډول هر هرځای شویده ددې دپاره نده چه سړی دظلم او ناروا په قبلولو کښې صابراوسي او مظالمو ته تسلیم شي یاذلت ته غاړه کیږدي، بلکه ددې دپاره ده چه په سختوحالاتو او بدو ورځوکښې حوصله له لاسه ورنکړي اوله مشکلاتو نه ونه تښتي یا دخپل عجولانه فطرت په تقاضا په هرڅه کښې دومره بیړه ونکړي چه تفکر اوتعقل ته هیڅ موقع پاتي نشي او عاقبت اندیشی هیره کړي.
دقناعت درس هم له حراموڅخه دځان ژغورلو معنی لري او دتجاوزمخه نیسي نه داچه دکسب اوکارپه مقابل کښې دانسان لاس اوپښې تړي اوسعی اوعمل ته ئې نه پریږدي.
دا راز آیتونه چه انساني فطرت اوفطري غرایز مشخص کوي او ددیني لارښوونو محورئې بللی شو نورهم ډېر دي چه دټولو لټون ډیر وخت اوډیر کارغواړي.
لوی خدای چه د انسان خالق دی او په نفسي وسوسوئې ډیرښه خبردی:(وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِ نَفْسُهُ -سورت ق آیت ۱۶) انسان په مطلق ډول زیانکار ګڼي اوهغه کسان مستثنی کوي چه مومنان او دنیک عمل خاوندان دي او نوروته هم دحق اوصبر توصیه کوي.
(وَالْعَصْرِ إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ) په عصرقسم دی چه انسان هرګوره په زیان کښې دی مګرهغه کسان ندي په زیان کښې چه ایمان ئې راوړی اوکړي ئې دي نیک کارونه، یوه اوبل ته ئې دحق توصیه کړې او دصبر توصیه ئې کړیده.
دادی دانسان تشخیص او دعلاج نسخه.
داسلام دین دانسان داخلاقي اونفسي امراضو علاج د ریاضت اوعبادت ،د زهد وتقوی، دنفسي او روحي تزکیې او تطهیرپه وسیله کوي او له حرامو څخه ئې پرهیزوي لکه چه دطب علم دبدني امراضو علاج کوي، دین داخلاقي مرضونو معالجه خپل اساسي هدف ګڼي او دبشر باطني رنځونه له مینځه وړي ځکه وایي:(اَلعِلمُ علمَانِ علمُ الاَبدَانِ وَعِلمُ الاَديَان) بدني طب په غذا او دواو جود تقویه کوي او دتقویې په وسیله مرض مغلوبوي او محوه کوي ئې مګردین دنس اونفس په خوارولو اوضعیفولو دتقوی اوپرهیزګاری له لارې دشهوانی اونفساني امراضو مخه نیسي یاورسره مجادله کوي یعنی دنفس اوشیطان په مغلوبولو او دجسماني قوت په کمولو معالجه بنا کوي او لوړه یې هم غذا ده او هم دوا ده:

دهرچاچه حیواني قوت زیاتیږي — نفس شیطان له هغومره مغلوبیږي
که څوک غواړي چه غالب شي په شهواتو — په مرښت نشي داکارپه لوړه کیږي

****

کموي روژه غوښتنې شهواني — مضمحل کړي هوسونه نفساني
د روژې غایه همدغه ده نوځکه — روژه نه نیسي صغیرشیخ فاني

دادی دعلم الابدان او علم الادیا ن د اساسي فرق یومثال چه مونږ دبدني طب اودیني طب په مغایرت پوهوي او دایقین راکوي چه هغه شفا چه په قرآن کریم کښې شته:
(وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاء وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ -الاسراء آیت۸۲) (قَدْ جَاءتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَشِفَاء لِّمَا فِي الصُّدُورِ –یونس آیت ۵۷) هیڅکله ئې دبوعلی سینا په شفا کښې نشو موندلی.
دنن ورځې عصري طب که دصدري اوقلبي امراضو په علاج موفق هم شي اودشفاء الصدور دارو ومومي بیا هم نشي کولی چه(مافی الصدور) لره د شفا موجب شي او دحرص اوحسد یاقلبی قساوت علاج وکړي اوپه بې رحمه زړه کښې رحم پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغسې اخلاقي امراضو کښې ددنيا طبيبان له مريضانونه ډير بتر دي، او دا مرضونه په مترقي ممالکو کښې ډير زيات دي.
(حُبُّ الدُّنيَا اوحُبُّ المَال) چه دټولو خطاګانو او غلطيو راس بلل شوی. (حُبُّ الدُّنيَا رَاْسُ كُلِّ خَطِيئَةٍ) هغه بې علاجه مرض دی چه يوازې دين ئې مخه نيولی شي.
په صدر اسلام کښې چه له دغه اخلاقي مرض سره مجادله شروع شوه، په مسلمانانو کښې دايثار داسې جذبه پيدا شوه چه خپل مالونه، کورونه او ډير څه ئې ددين په لاره کښې يا د دين دپاره قربان کړه او په حرص اوبخل داسې غالب شوه چه مقتصد عقل ورته ګوته په غاښ ونيوله، مهاجرينو په همدغه جذبه خپل اصلي وطن اوټوله شتمني په مکه کښې پريښوده او مدينې ته ئې ددين ساتلو دپاره هجرت وکړ او انصارو په همدغه جذبه په مهاجروباندې له څانه زياته پيرزوينه څرګنده کړه يعنې په نفسياتي او اخلاقي لحاظ يو عظيم انقلاب په اسلامي امت کښې پيدا شو چه نظيرئې چا نه و ليدلی.
ددغه انقلاب اثر تراوسه په مسلمانانو کښې لږ او ډير يوځای بل ځای وينو او په يو زړاوڅوسوه کاله کښې ئې ښښې ښښانې لا ندي محوه شوي چه رحمن بابا ئې هم په وصف الحال کښې وائي:

داهنرندی چه خاوري څوک سره زر کا چه زر خاوري کړي رحمانه هنر دادی

علوم اوفنون خلکوته دا هنر ښيی چه خاوري زر کړي او ددنيا شتمني زياته کړي مګر دين ورته ددغه هنر بل اړخ څرګندوي او په دغه ډول انسان له دواړو هنرونو سره اشنا کوي.
د انفرادي او اجتماعي ژوند موافقه او مصالحه په همدې راځي چه دغه دواړه هنره دانسان په برخه شي چه هم خاوري زرکړي او هم زرخاوري کړي. که څوک لومړی هنر ونلري دوهم هنرئې نه نصيب کيږي چه زر نه وي نو زربه څنګه خاوري کړي؟ که اول هنر ولري اودوهم هنر پکښې پيدا نشي لومړی هنربه هرګوره منفوراو مردود وي داڅرګنده ده چه علم وفن، صنعت او حرفت دژوند او معيشت حاجتونه او ضرورتونه نه پوره کوي او مدنيت ته رنګ او رونق ورکوي. ددنيا ودانی اوزيبائي په هغه وسايلو او اسبابو پوري تړلې ده چه دعلم وفن په مرسته لاس ته راځي او لاس ته راغلي دي مګر دين دتساند او تعاون په پيدا کولو او دمعنوي ارتباط په قايمولو دبشري جامعې سعادت تامينوي او داجتماع مزې ټينګوي.
دبشري سعادت لوښی او ظرفونه دعلم اوصنعت په کارخانو کښې جوړيږي مګرپه دغو لوښو کښې دحيات او بـه د دين ساقي اچوي اودين دی چه داخلاقو په تهذيب انساني باغ و بڼ له وحشي بوټو دربو اوکبلونه ساتي او دښوبوټونيلي اوريښې تقويه کوي.
که اخلاقي تهذيب او دنفس تزکيه نه وي کيدی شي چه ډير ژر دجهان سمسور باغونه په هغو ځنګلونو بدل شي چه ځناور او وحشي حيوانا ت پکښې استوګنه کوي او ماران پکښې اوسيږي.
کيمياوي پوهه مونږ ته هغه صابونونه په لاس راکوي چه دبدن او جامو خيري اوناپاکی وړي او دلباسو نو توري لکې محوه کوي.
مونږ دغې پوهې او دغو صابونونوته حياتي ضرورت لرو او په ډير ښه ارزښت ورته قايل يو مګر هغه خيرې، کثافتونه او خباثتونه چه په زړه او دماغ په نظر اواحساس کښې پيدا کيږي ديني پوهه او داخلاقو کيميايي سعادت ته شديد ضرورت لري او بل صابون ورته په کاردی چه هغه د انسان کبر او غرور د زړونو کينه او قساوت حسادتونه او شرارتونه له مينځه وړي او دهوی‌ٰوهوس ناولتيا پاکوي.
که دانسان باطن پاک نه وي او په اخلاقي مفاسدو لړلی وي نو دسر وصورت ظاهري سپين والی اوپاکوالی څو لولی هم لري او دمتمدنو خلکو سپي هم هره ورځ په صابون مينځل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دین یوازې دغه راز نظافت او طهارت کافي نه بولي او ظاهر بین ندی، د اسلام سپیڅلی دین د طهارت او تزکیې په باب ډېر عمیق او دقیق نظر لري او له ظاهر نه ئې باطن ته توجه ډېره زیاته ده مګر له ظاهر نه هم صرف نظر نکوي او په ارزښت ورته ګوري.
د اسلام په دین کښې چه ژوره څېړنه وکړو په نهائي تحلیل کښې دې نتیجوته رسیږو چه د اسلامی هدایاتو او ارشاداتو اصلي او اساسي هدف د نفس تزکیه او د جسم او روح تطهیر یعنې پاکوالی دی.
تزکیه او تطهیر هغه ټکي دي چه په قرآن کریم کښې په مکرر ډول راغلي دي او معنی ئې ډېره عامه او هم ډېره عمیقه ده.
په دې ټکو کښې له هر راز نجاست خباثت او کثافت نه د جسم او روح ظاهري او باطني طهارتونه شامل دي چه د اخلاقو تهذیب او د انسانیت لوړول ئې لازمي نیتجه ده.
ادیان عموماً پداسې وخت کښې دنیاته راغلي دي چه انساني اخلاق ډېر فاسد شوي او انسانیت ډېر ټیټ شوی دی یعنی د دین ډیوه هروخت په تورتم کښې بله شوېده او خلکو هغه وخت ځانونه مینځلي دي چه ډېر خیرن شوېدي.
د اسلام د ظهور په وخت کښې هم د عربو مختلف او مخالف قبایل په اخلاقي او روحي لحاظ په ډېرو مرداریو ککړ و او په ډېر تورتم کښې ئې ژوند کاوه، فحشا او منکر نهائي حد ته رسیدلی و د حلال او حرام فرق نه و، د خیر و شر معیار ازلام یعنې د فال غشي و، د خدای کور بتانو نیولی و، د ښځو او نرو بربنډ طوافونه طاعت او عبادت ګڼل کېده.
شرک، بت پرستي، سودخوري او چوروچپاو، قتل وقتال، شراب او قمار، لوڼې ژوندی خښول، ضعیفان غلامول او د حیواناتو په څېرئې استعمالول د ژوند دود او دستورو، په د غسې وخت او د غسې ځای کښې حضرت محمد (ص) ته د خدای له لورې جبرئیل امین داوحی راوړه:
(یَا أَیُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنذِرْ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ......المدثر آیات ۱-۵.) یعنی له بړستنې پاڅېږه خلک له خدایه وویروه، خپل رب لوی وګڼه جامې دې پاکې کړه او پلیدي لرې کړه.
په دې وحی کښې د تطهیر مکرر امر دا ښیي چه پاکیدل او پاکول په عام وتام ډول د اسلام اصلي او اساسي منظور دی.
(رجز) په لغت کښې د ګناه په معنی، د بت پرستی په معنی او د پلیدی په معنی استعمالیږي او مفهوم ئې ډېر عام دی.
پیغمبر(ص) ته اول د جامو پاکولو امر وشو چه د ځان پاکولو امر پکښې دلالتاً موجود دی ځکه چه پاک کالي په پاک بدن اغوستل کیږي. په دغه ظاهري پاکوالي پسې په بل آیت شریف کښې له (رجز) څخه لرې والی باطني پاکوالی دی چه له شرک او اخلاقی مفاسدو نه د زړه او روح صفائي ایجابوي.
دغه آیتونه چه د نزول په اعتبارئې د قرآن کریم مطلع ګڼلی شو د تطهیر او تزکیې اهمیت ډېرښه ثابتوي او موږپدې پوهوي چه په اسلام کښې د مراد ټکی دی.
په سورت (الاعلی) کښې دا دوه آیتونه (قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّى وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّى آیات ۱۴-۱۵) اول تزکیه او بیا د خدای ذکر او لمونځ د فلاح موجب ګڼي.
دلته تزکیه یوازې د تن او جامو هغه پاکوالی نه دی چه د لمانځه شرط ګڼل شوی ځکه چه د دغه لغت په معنی کښې اول معنوي پاکي او اخلاقي تهذیب او بیا ورسره ظاهري او جسماني پاکوالی مقصد دی. د فلاح کلمه په قرآن کریم کښې کله د مفلحون په صورت او کله په (قد افلح) کښې ډېره راغلي ده چه معنی ئې بری او مقصد ته رسیدل دي.
په صورت (المومنون) کښې په لومړیو نهو آیتونو کښې د مومنانو د فلاح موندلو د پاره خو شیه ذکر شویدي چه یو پکښې لمونځ او په لمانځه کښې خشوع، او خضوع ده آیتونه دادي:
(قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ إِلَّا عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ فَمَنِ ابْتَغَى وَرَاء ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْعَادُونَ وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ) یعنې هغه مومنان

(c) ketabton.com: The Digital Library

بري مومني او مقصد ته رسيږي چه په لمانځه کښې ويره او تواضع ولري، له بيهوده خبرو او کارونو څخه ډډه وکړي، د مالونو زکات وباسي له زنا او فحشا څخه ځان وساتي، امانت خيانت نکړي په عهد ولاړ وي او په لمانځه ټينګ وي.
په صورت اعلى کښې چه يوازې تزکيه او لمونځ د فلاح موجب ښودل شوي او په صورت مومنون کښې شپږ يا اوه شيه وښودل شوه تطبيق ئې پدې شان کيدى شي چه تزکيه ډيره عامه وسعيه معنى لري او په دغو ټولو صفاتو او افعالو دلمانځه په شمول حاوي ده.
زکات خود لفظ او معنى په اعتبار له تزکيې سره اشتقاقي تړون لري او زکات هم ورته ځکه وائي چه د زکات په ورکولو هم مال او هم زکات ورکوونکى له بخل څخه پاکيږي، لکه چه په سورت توبه کښې پاک خداى رسول الله (ص) ته امر کوي چه د مسلمانانو له مالونو څخه صدقه قبوله کړه چه دوى پرې پاک شي (خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا التوبه آيت ١٠٣) زنا او فحشا هم يو مردار عمل دى او ځان ساتل ترينه تزکيه ده ځکه پښتانه هم دغسې سړي ته پاک لمنى وائي.
په امانت کښې خيانت کول، عهد ماتول، بيهوده مشغولتيا هغه ناوړه او ناولي صفتونه دي چه له خبث باطن څخه نشات کوي.
لمونځ هم سړى له ګناه څخه پاکوي او د تزکيې معنى لري ځکه د اهتمام په وجه په مستقل ډول ذکر شويدى، د خداى پاک په کتاب کښې عمومي مطالعه دا ښيي چه د تزکيې کلمه په ټولو ظاهري او باطني طهارتونو مشتمله ده ځکه د سورت (الشمس) په دې آيت کښې (قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّاهَا) يوازې د نفس تزکيه د فلاح وسيله ښودل شويده.
په سورت (التغابن) کښې دا آيت شريف: (وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ المُفلِحُون) د عبارت په تغير هماغه کسان مفلحون ګني چه نفسونه ئې له بخل څخه پاک وي او د نفس تزکيه ئې په برخه وي. همدغه تزکيه ده چه هم د خداى د پاره د مال په ورکړه حاصليږي لکه چه په سورت (الليل) کښې وايي: (وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّى آيات ١٧-١٨) يعني د دوزخ نه به په څنګ وي هغه پرهيزګاران چه خپل مال د ځان د پاکولو د پاره ورکوي او هم له حرامو څخه په سترګو پټولو او له فحشاء نه په ځان ساتلو د مومنانو نصيب کيږي لکه په سورت (النور) کښې چه راغلى دى: (قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ آيت ٣٠) د فلاح ارتباط تزکيې او طهارت سره په قرآنکريم کښې ډير ټينګ ښودل شوى يعني له پليديو څخه ځان ژغورل فوز او فلاح ته رسيدل دي.
پليدي يوازې ظاهري نجاست نه دى ګناه او معصيت هم د قرآن کريم په حکم (رجس) ګڼل شويدى لکه په سورت (المايده) کښې چه وائي: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ آيت ٩١) يعنى شراب، قمار، بتان او په غشو فال نيول پليد شيطانى عملونه دي او ځان ساتل ترينه د فلاح موجب دى.
د خلکو ظاهري او باطني پاکول (تزکيه) د پيغمبر وظيفه ده لکه چه په سورت البقرة کښې راغلي دي:
(كَمَا أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولاً مِّنكُمْ يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِنَا وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ آيت ١٥١) په دې آيت شريف کښې (ويُزکيکم) په ډير وضاحت او صراحت دا مفهوم اداکوي چه رسول الله (ص) تاسو پاکوي او د همدغه مقصد د پاره استول شويدى.
په يوه بل آيت کښې هم دغه مطلب ډير ښه څرګند وي چه وايي: (رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولاً مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ البقرة آيت ١٢٩) دلته حضرت ابراهيم او حضرت اسمعيل دعا کوي او له خدايه غواړي چه د دوي په اولادونو کښې رسول مبعوث شي چه په دوى د خداى پاک آيتونه ولولي، په کتاب او حکمت ئې پوه کړي او پاکيزه ئې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سورت (النازعات) کښې هم راغلی دی چه الله تعالی موسی (ع) ته ویلي و: (اذْهَبْ إِلَى فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَى فَقُلْ هَل لَّكَ إِلَى أَن تَزَكَّى آيات ۱۷-۱۸) فرعون ته ورشه !........او ورته ووايه آيا میل لري چه تزکیه دي نصیب شي. د موسی(ع) په بعثت کښې هم د رسالت غایه (تزکیه) ده له دغو شواهدو نه ښائی چه دا مطلب ډیر ښه ثابت شوی وي چه د خلکو تزکیه او تطهیر د دین کاردی او پیغمبران د همدغه کار د پاره وخت په وخت استول شویدي چه د خلکو فاسد اخلاق او ناوړه عادتونه سم کړي، په زړونو کښې ئې صفائي او د خیر و احسان مینه پیدا کړي په نفسیاتی حالاتو او کیفیاتو کښې د انسانیت په ګټه ښه بدلون راولي او په اجتماع کښې نوي روحیه خلق کړي مګر دا کاریعني د نفس تزکیه او د اخلاقو مهذب کول څه اسانه او ارزانه کار نه دی.
د اجتماع په اخلاقو او عرف و عادت کښې بدلون راوستل او د زړو عقایدو په ځای نوي عقاید په ذهن کښې کښینول د هغو بتانو ماتول دي چه حضرت ابراهیم (ع) ئې د نمرود سرو لمبو ته وغورځاوه او حضرت مسیح ئې په سولۍ وخیژاوه.
د خلکو اجتماعي اخلاق که هر څومره فاسد او کاسدوي او زاړه عقاید که هر څومره خرافاتي وي بیا هم د جامعې په ذهن او دماغ بې قید و شرط حکومت کوي او مخالفین ئې په فنا محکوم کیږي.
یو شخص که هر څومره مقتدر سلطان وي عمر ئې لنډوي او زمانه ډیر مهلت نه ورکوي مګر اخلاق او عقاید خپل حاکمیت له یوه نسل نه بل نسل ته په میراث پریږدي او څومره چه زړیږي هغومره قوي کیږي.
زمانه چه کارئي تغیر راوستل دي د دغه ذهني سلطان مقابله په ایوبي صبر کوي او د نوح عمر غواړي ترڅو چه غیر مرئي تدریجي تغیر پکښې راولي او له نظره نشی. په انقلابی ډول د زاړه اجتماعي نظام نړول او نوی دین په خلکو منل د اولو العزمه پیغمبر کاردی چه په خپل سر اره قبلوي او دغه کار سرته رسوي.
حضرت محمد (ص) د دغه جهاني اجتماعي انقلاب په سرته رسولو کښې ډیرو کړاوونو په قبلولو خپل مشکل رسالت په ځای کړاو په ډیرو سختو خطرناکو حالاتو کښې ئې صبرو استقامت له لاسه ورنکړ دا ځکه چه په خپل نبوت او رسالت ئې ډیر ټینګ ایمان درلود او دغه قوي ایمان په ده کښې خارق العاده روحي قدرت پیدا کړی ؤ دا ایمان د په نورو کښې هم پیدا کړ چه مومنان ئې په جهان مسلط کړه او عمومی حالات ئې بدل کړه. د خدای کور (کعبه) یې له بتانو پاکه کړه د خلکو زړونه او دماغونه ئې صفا کړه، اجتماعي مفاسد او ناولي عقاید ئې محوه کړه او سیئات ئې په حسناتو له مینځه یوړل.
کوم امر چه پاک خدای حضرت ابراهیم(ع) او حضرت اسمعیل (ع)ته د خپل کور د پاکولو په باب کړي و: (وَعَهِدْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ أَن طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ البقرة آیت ۱۲۵) دا امر په خپل وخت کښې حضرت محمد (ص)هم په ځای کړ او چه خلک ئې له شرک او بت پرستۍ نه پاک کړه نو بیائې قرآن کریم پاکانو او مطهرونو ته په لاس ورکړ: (إِنَّهُ لَقُرْآنٌ كَرِيمٌ فِي كِتَابٍ مَّكْنُونٍ لَّا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ الواقعة آیات ۷۷-۷۹) د دغه کتاب د نیولو د پاره پاکي منګولې په کاروې او طهارت ته ضرورت و.
دا طهارت د خدای پاک په اراده اول له اهل بیتو څخه شروع شو: (إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا الاحزاب آیت ۳۳) لکه چه په (وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ الشعرآ آیت۲۱۴) کښې هم اهل بیت خاص ډول یاد شویدي.
د اهل بیتو له تطهیر سره د امت تطهیر هم شروع شو او خلک د وحدانیت په منلو د صالحو اعمالو په اجراکولو د اخلاقو په تهذیب او د نفس په تزکیه له کفر او عصیان څخه پاک شوه.
د دینی پوهانو له جملې څخه یو تن (شاه ولی الله) وایي: پیغمبران د اخلاقو، تهذیب او نفس تزکیې ته توجه لري او په علمي مسایلو کښې مستقیم دخالت نکوي، مطلب دا چه پیغمبر د علم او فلسفې معلم ندی د انسانیت مربي او اخلاقي رهبر دی ځکه د نفس تزکیه او د روح تربیه خپل هدف ګڼي او وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(بُعِثتُ لِأُتَمِمّ مَكَارِمِ الاَخلَاق) الله تعالی هم د ستاینه په خلق عظیم کوي: (وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ القلم آیت ۴)
ددې د پاره چه خلک سړي شي او سړيتوب زده کړي باید پیغمبر په خپله دکامل انسانیت مثل اعلی شي او خپل عالي کردار د هغوی دپاره سرمشق وګرځوي یعني په عملي ډول خلکو ته دصبر و استقامت، درحم او شفقت، دعدل او انصاف دایمان او احسان، دصدق وصفا ، دایثار او قرباني او دشجاعت او شهامت ګران ګران درسونه ورکړي او دا ثابته کړي چه انسانان دعزم او ارادې دروحي قوت او قدرت په مرسته په جهان کښې څومره لوی بدلون راوستلی شي. امت جوړول او تربیه کول او دامامت وظیفه عملي جهاد او مقاومت غواړي.
په خلکو باندې دژبې په سر یو څه زده کول دومره ګران کارندی مګر په خلکو کښې څه پیدا کول، په زړونو کښې ئې څه کښینول او په دماغونو باندې دنوو عقایدو منل دهرڅا کارندی.
یو سړی کولی شی د الفاظو او کلماتو په وسیله خلکو ته دعفت، تقوی او ریاضت مفهوم او معنیٰ توضیح کړي یا مقالې او رسالې پرې ولیکي او کتابونه ترې جوړ کړي مګر خپل ژوند ددغو صفاتو او حالاتو مظهر او مثال ګرځول او د کردار په هنداره کښې ئې تمثیلول ځان خوارول او له نفس وشیطان سره مجادله او مبارزه غواړي.
که څوک چاته د اخلاقو درس ورکوي دا نده لازمه چه په خپله دې ښه اخلاق ولري بلکه یوازې همدغه کافي ده چه د اخلاقو پوهه ولري مګر هغه څه چه په خلکو کښې اخلاقي فضایل پیدا کوي نو بیا په کار دي چه پخپله ئې هم ولري یعنی اول ئې په ځان کښې پیدا کړي بیائې په نورو کښې دپیدا کولو کوښښ وکړي.
د اخلاقي امراضو طبیب دبدني امراضو دطبیب په شان نه دی کیدی شي چه دقلبي امراضو طبیب په خپله قلبي مرض ولري او په دغه مرض اخته وي، یو سودخور که دمنبر په سر سود هرڅومره وغندي او قرض حسن هرڅومره وستایي په چا باندې ښه اثرنه کوي. که بې حیا سړی نورو ته دحیا درس ورکوي دا په خپله لویه بې حیایي ده.
پاک خدای اسلامی امت په امر معروف مامو کړیدی مګر هغه واعظان او ناصحان ئې تهدید کړیدی چه نوروته دنیکۍ امرکوي او ځانونه یې هیروي: (أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ البقره آیت ۴۴) که دغه ایت یو بې لارې سړی له دینه نه وي منع کړی چه نور سمې لارې ته راوبولي بللی ئې شي مګر په سمه لارئې بیولی نشي. خلکو ته دحق توصیه او دصبر توصیه باید له قرآنی ترتیب سره سم هغه مومن وکړي چه دصالحو اعمالو خاوند وی: (وَالْعَصْرِ إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ العصر) تش په ژبه امرمعروف ډیرګران کارندی مګر د امرمعروف اهلیت او صلاحیت په ځان کښې پیدا کول له ګران نه ګران کار دی.
حضرت محمد (ص) چه ډیر عالم ئې په سمه لار وخوځاوه او ډیرعالي اخلاق ئې په خپلو پیروانو کښې پیدا کړه یو مهم علت ئې دا و چه په خپله دکامل انسانیت او خلق عظیم خاوند و او په همدغه حقیقی معجزه ئې عالمونه مسخرکړه.
کوم کسان چه معجزه دنبوت شرط ګڼي او معجزه دعلت او معلول له سلسلې نه بهر خارق العاده امر بولي نو دشق القمر یاد معراج مسئله مطرح کوي حال دا چه درسول الله (ص)عظیم خلق دا سې عظیمه معجزه ده چه په دنیا کښې نظیر نلري او انکار ترینه نشي کیدی.
ځیني خارق العاده کارونه شته چه دسحر و افسون په وسیله دیوه اوبل له خوا وخت په وخت ځرګند شوي او دحیرت وړګڼل شویدی لکه چه مشهوره ده چه عبد الله بن مقنع (حکیم بن عطا)دنخشب په شاوخوا کښې له یوې څاه نه دسپوږمۍ په شان رڼا راویستله او څلورفرسنګو پورې یې ځمکه رڼا کوله او مزدک هم یوه داسې وسیله راپیدکړې وه چه له اور څخه به خبرې اوریدل کیدی.
داوسنی علم مطابق دمسمریزم او هیپنو تیزم په بنا ځیني د تعحب او حیرت وړکارونه کیدی شي ددې عصر الوتکې اوفضائي بیړۍ هم دسلیمان علیه السلام له هوا پیما تخت سره بې شباهته ندي مګرهغه لوړ اخلاقي معیارچه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په خپل کردار قایم کړاو انسانیت ئې معراج ته ورساوه هغه حقیقي او واقعي معجزه ده چه تقریباً په یوزر او څلورسوه کالو کښې ئې خپل اعجاز ساتلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمعجزي په اووشرطونوکښې يو شرط دا دی چه له دعوي سره دي موافقت ولري يعني که څوک دا دعوه کوي چه زه خلک سمي لاري (صراط المستقيم) ته رابولم او مفاسد له منځه وړم او درسالت يانبوت دليل (معجزه) مې داده چه خاوري زرکومه نو دا کارمعجزه نشو ګڼلی ځکه چه له دعوي سره څه ارتباط نلري مګر داچه حضرت محمدصلی الله عليه وسلم عملاً خپل ځان د ډېر لوړ کردار په لرلو دمثال اعلی په حيث دامامت وړ و ښود او دخلکو په اخلاقي اونفسي حالت کښې ئې معجزه آسا بدلون راووست، دده درښتيانې ادعاډير ښه ثبوت دی. انس بن مالک وايي: زه لس کاله درسول الله (ص) په خدمت کښې وم او په دغه دومره موده کښې ئې ماته کله (اف) هم ونه ويل څه مې چه کړي نه ئې دي ويلي چه ولي دي وکړه، کوم کارمی چه ندی کړی بيائې هم داندی ويلی چه ولې دي ونکړ، له يوه خدمتګارسره په لسو کالوکښې دغه شان سلوک کومه عادي او وړه خبره نده ښائي چه ډيرعلم او تربيت خاوندان هم له خپلو ډيروګرانو زامنو سره دغه شان رويه ونکړی شي چه په لسو کالوکښې ورته (اف)قدرې هم ونه وايي. داکيدی شی چه يوه زړه سواندي مهربانه سړی کله دعفوي اوحلم ډيرعالی مثال قايم کړی حتی ٰچه دخپل ځوی قاتل ياخپل قاتل دمرګ دسلګيو په وخت کښې معاف کړي مګر ټول عمر په مختفلو احوالو کښې دغومره ضبط نفس او په نفسي حالاتو تسلط لرل خارق العاده امردی.

د احد په جنګ کښې چه دحضرت محمد (ص)غاښ مات اومبارک مخ ئې زخمي اوکړم شونو اصحابو د ډير قهر په وجه له دوی څخه وغوښتل چه ددښمنانو دتباهی دعا وکړي او لعنت پرې ووائې مګر رسول کريم صلی الله عليم وسلم وفرمايل زه دلعنت ويلو اوښيروکولو دپاره نه يم راغلی بلکه درحمت په حيث سمې لارې ته دبلنې دپاره استول شوي يم (اَللّهُمّ اِهدِ قومِی فاِنّهُم لايَعلمُونَ). دهغه چا معافول چه په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې ئې دقتل په اراده توره راوايستله، هغې يهودی ښځې ته سزا نه ورکول چه دپسه په غوښه کښې ئې ورته زهر ګډ کړي و او په خپل جرم ئې اعتراف هم وکړ دعفو اوبخښنې برجسته مثالونه دي.

جود او سخا:

درسول الله (ص)کرم اوسخاوت دکيفيت اوکميت په لحاظ ساري نلري، اودخپلو خصوصياتو په وجه ئې منحصر بفرد صفت ګڼلی شو بلکه ويلی شوچه سخاوت نه وايتا رو چه مقام او منزلت ئې له سخاوت نه ډير لوړ دی.

له خپل ډير مال نه لږ څه نوروته ورکول يا له خپل حاجته زيات مال صدقه کول جود اوسخاباللې شومګر ځان محرومول، خپل نفس خوارول او نور مړول بلکه غني کول هماغه صفت دی چه په قرآن مجيد کښې ئې ستاينه شويده: (وَيُـــؤْثِرُونَ عَلَى أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ الحشر آيت ۹) هغه درياضت او دمشقت ژوند چه رسول الله (ص)درلوده له حده زيات فقيرانه او غريبانهٔ مګر دا د بيوسی په وجه او دمجبوريت له مخې څخه نه و بلکه اخلاقی غايه او پايه ئې در لوده اوهمدغه قرآنی منظور پکښې مضمرو.

قرآنی فلسفه دډير شخوند او ډير خوند ژوند مردودګڼي ځکه مترفين او د ناز اونعمت خاوندان په مکر ر او موکد ډول غندي اوبد ورته وايي قرآن کريم په ډير وضاحت اوصراحت بډ ايان او متمولين دهر ديني نهضت او ارتقائي حرکت په مخکښې سدګڼي او د زاړه ارتجاعي حال محا فظين ئې بولي.

هغه اسلامي ژوند چه الهی کتاب اونبوي سنت ئې دمسلمانانو دپاره خوښوی که مسلمان ئې په ځان باندې تطبيق کړي طبقات له مينځه ځي او د غني اوفقير مسئله په ښه شان حل کيږي.

د رسول الله (ص)دژوند عملي اړخ همدغه وچه د دنيا مال ئې لکه غليم خپل کورته نه پريښوده اونه ئې په کورکښې ځای ورکاوه هرڅومره مالونه به چه ورته راغله په فقيرانو اومستحقينو به ئې ويشل اوتش دقوت لايموت په اندازه ئې ډيرلږ څه ځانته ساتل مګر څومره چه په ځان سختګير و هغومره په نورو زهير واو بخششونه ئې بې حسابهٔ. وايي چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دحنين په ورځ رسول الله صلى الله عليه و سلم صفوان بن اميه ته دپسونو دومره رمې وبښلې چه يوه لويه دښته پرې ډکه شوه.
په همدغه ورځ ئې ابو سفيان ته څلوېښت اوقيې سپين زراو سل اوښان ورکړه د هغه زامنو معاويه اويزيد ته او حکيم بن حزام ته ئې هم سل سل اوښان وبښل، مګر حکيم بن حزام سل اوښان نورهم وغوښتل او هغه ئې هم ورکړه.
دغه شان نورډيرو کسانو ته لکه: نصر بن حارث، اسيد بن جاريه، حارث بن هشام، قيس بن عدي، سهيل بن عمر حويطب بن عبدالعزى اقرع بن حابس عينيه بن حصن، مالک بن عوف، عباس بن مرداس، مخرمه بن نوفل، علا بن حارثه سعيد بن يربوع، عثمان بن وهب او هشام بن عمرته په دغو بخششونو کښې چاته سل چاته پنځوس او چاته څلوېښت اوښان ورسيدل او عباس ته خوئې دومره سره زر ورکړه چه جګولى ئې نشوه، پدې دومره ډيرو مالونو کښې رسول الله (ص) پخپله خپل کورته هيڅ يونه وړل او اهل بيتو دغه شپه په نهره تيره کړه.
ايا خپل ځان په مطلق حرمان کښې ساتل او په نوروباندې دکرم او احسان بارانونه ورول معجزه نده؟ څوک چه په يوه ورځ دغومره فياضي لري کله چه له دنيانه رحلت کوي هرچاته داڅرګنديږي چه په کورکښې ئې داوربشوله ډوډۍ پرته نورڅه نشته اود جنګ زغره يې په يوه يهودي دکور د نفقې دپاره ګروکړيده، دغه راز غيرعادي ژوند چه انساني غرايز ئې مهار کړي و او عادي عقل ورته حيران حيران کتل خارق العاده امر دى.
دشرک اوبت پرستۍ په وطن کښې دعربو مختلف اويوله بله مخالف قبايل چه لوښې بۀ ئې ژوندي خښولې او ابوجهل ئې دجهالت سمبول و دا ټول دتوحيد په يوه کلمه راغونډول او يوداسې ملت او امت ترينه جوړول چه اسلام په اسيا، افريقا او اروپا کښې خپور کړي اودجهان دين اوآئين بدل کړي که معجزه نه وي نوڅه بۀ وي؟
دا منوچه فاتحين او جهانګيران په دنيا کښې ډيرپيدا شوي چه خپل پريوتې اوبې نام ونشانه قوم ئې تاريخ ته بريالى او توريالى ښودلى او خپله امپراطوري ئې په نوروقهراً منلې ده مګر ديوه ملت معنوي اوروحي سويه لوړول په اخلاقو کښې لوى بدلون راوستل او انسانيت معراج ته رسول دچنګيزاوهلاکو، دا سکندر او ناپليون کار نه دى.
حضرت محمد صلى الله عليه و سلم چه نه سړي ئې سړي کړه او سړي ئې ملکوتي مقام ته ورسول دداسې معجزې خاوند دى چه بشري تاريخ ئې کامل مثال نشى ښودلى.
په زور او قوت ډيرخلک غلامول کوم خارق العاده کارنه دى غلامان ازادول اوضعفيانو مرسته که څه هم دخير و احسان عالى مثال دى مګر اعجازندى، خو غلامان اوضعيفان له سردارانو او سرکردګانو سره برابرول بلکه په هغوى باندې ئې لوړول او يو حبشي دنيک عمل په وجه له قريشي نه ښه ګڼل محمدي معجزه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيد بن حارثه:

درسول الله (ص) په مواليو کښې زيد بن حارثه زيات شهرت لري، دی دبي بي خديجې غلام و چه رسول الله (ص) ته ئې بخښلی و. رسول الله (ص) هغه ازاد کړاو خپل ځوی ئې وګاڼه ځکه به خلکو زيد بن محمد باله ترڅو چه داآيت: (اُدعُوا هُم لِاٰبَائِهِم) نازل شواو پس له هغه زيد بن حارثه وبلل شو.
کله چه دزيد پلار حارثه او تره ئې کعب دزيد په لټون مکې ته راغلل او دی ئې له حضرت محمد (ص) سره وموند نوله رسول الله صلی الله عليه وسلم نه ئې خواهش وکړچه زيد دوی ته وسپاري حضرت محمد (ص) وويل که زيد له تاسو سره ځي هيڅوک ئې مخه نه نيسي مګر زيد تګ ته غاړه کښينښوده او رسول الله (ص) ئې ترهرچا بهتر وګاڼه.
موالي که څه هم له غلامی ځخه ازاد ومګر بيا هم عربو مخصوصا قريشو خپل سيالان نه ګڼل او دکفائت له نعمته محروم و.
دمواليو له جملې څخه هيچا ته داحق حاصل نه و چه دقريشو خور يا لور په نکاح کړي او دهغوی اشرافيت ته صدمه ورسوي.
رسم و رواج پدې کار ډير سخت بنديزلګولی و مګر حضرت محمد (ص) په اسلامی تعليماتو ټول خلک اسلامی اخوت ته رابلل او هر راز امتيازات او تبعيضونه ئې له مينځه وړل يوازې تقوی اونيک عمل ئې دفضيلت معيار ګاڼه اوبس. ځکه ئې دخپلې ترور لور (زينب دحجش لور) زيد ته په نکاح کړه او دعرف او عادت بت ئې مات کړ. داکار په هغه وخت کښې له هغه اشرافی ذهنيت سره له معجزې نه کم نه و. هغه وخت لا څه چه اوس به هم په امريکا غونډې ازاد اومترقې هيواد کښې څوک حاضر نشي چه له يوه تور پوستکې سره دغه راز معامله وکړي.
حضرت محمد (ص) په خپله کورنۍ کښې دغه تبعيض او امتياز له مينځه ويوړ مګر هغه توافق چه دښځې او ميړه ترمينځ په کاردی اوپه نفسياتي کيفياتو پورې تعلق لري د زيد او زينبې ترمينځ موجودنه وه ځکه دغه ازدواج تراخرعمره دوام ونکړ اوڅه موده وروسته زيد دزينبې دپريښودو په باب خپله اراده حضرت محمد (ص) ته ښکاره کړه دوی ورته دعقد د دوام توصيه وکړه مګر زيد دخپل معذرت په وړاندې کولو اصرار وکړ او داعقد فسخ شو.
رسول الله (ص) دخدای په امر بي بي زينب ځانته په نکاح کړه چه په دغه وسيله دهغې په زخمي زړه ډيره ښه پټۍ ولګيده.
ديوه ازاد شوي غلام مطلقه په نکاح کول يوبل اخلاقي درس وچه خپلو پيروانو ته ئې ورکړاو ددغه کار عار ئې له مينځه يووړ.
دزيد بن حارثه خبره په همدغه ځای نه تماميږي کله چه رسول الله (ص) دري زره مسلمانان د موته ښارته چه په شام پورې مربوط ؤ دغزا دپاره ليږل او دا دمسلمانانو لومړی جنګ و چه دهجرت په اتم کال د روم دقيصر له امير اومسيحيانو سره کيده نو د دغه اسلامي لښکر امير د رسول الله (ص) لخوا زيد بن حارثه وټاکل شو.
په دې لښکر کښې جعفر بن ابيطالب دحضرت علی کرم الله وجهه ورور او دپيغمبر دتره زوی، عبد الله بن رواحه، خالد بن وليد دعربو مشهور قهرمانان او نور قريش شامل و يعنی دقريشو سرداران چه جنګی مهارت اوقابليت ئې درلود دزيد سپايان و.

اسامة بن زيد:

دزيد بن حارثه زوی اسامة هم رسول الله (ص) دمسلمانانو دهغه لښکر مشر وټاکه چه د روم غزا ته ئې ليږه پدې لښکرکښې مهاجرين او انصارپه ډيرزيات شمير شامل واو په دغه حمله کښې حضرت ابوبکرصديق (رض) حضرت عمر(رض)، سعدبن ابی وقاص غونډې لوی لوی شخصيتونه د اسامة له فرمان لاندې و.
د اسامة عمرپه دغه وخت کښې له (۱۷) کالونه زيات نه و ددغسې نوي ځلمي لاس لاندې دغه راز مهم اشخاص په اطاعت او انقياد مامورول او دهغوی له خوا په خوښۍ ددغه امرمنل دنفس د تزکيې ډيرښه ثبوت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه راز اخلاقي تربيه او دفداکارۍ روحيه په خپلو پيروانو کښې پيدا کول چه دډيرلوی اجتماعي مقام او منزلت خاوندان او داولیت او الويت حق لرونکي ديته حاضر شي چه د اسلام دخدمت دپاره دموالیو له جملی څخه له ځانه ډير کشر سړی په مشرتوب ومني او د هيڅ راز کسرشان احساس ونکړي که خارق العاده کارنه وي نو څه به وي؟
درسول الله (ص) دغه امرپه داسې وخت کښې صادر شو چه دی دمريضی په بستر کښې و او دلښکر له خوځيدو نه دمخه ئې ظاهري ژوند خاتمه وموندہ او حضرت ابوبکر (رض) د اسلام لومړی خليفه شو.
په دغه حال کښې چه ابوبکر صديق(رض) په انتظامی چارو ډير زيات مصروف واو ډير مشکلات ئې په مخکښې و بيا ئې هم درسول الله (ص) په امرکښې تاخير جائز و نه ګاڼه او سمد لاسه ئې د اسامة دحرکت دپاره لازم ترتيبات ونيول. خليفه په خپله له دغه لښکر سره دمشايعت او وداع دپاره له مدينی نه دباندې پياده روان ؤ.او اسامة په آس سپور و، هغه که هرڅومره اصرار وکړچه يا به خليفه هم په آس سپريږي يا به دی له آس څخه کوزيږي خو حضرت ابوبکرصديق(رض) قسم ياد کړ چه نه به ته کوزيږې او نه به زه سپريږم.
په دغه وخت کښې حضرت ابوبکر (رض) د حضرت عمر (رض) مرستی او مشورې ته ډير احتياج درلود او هغه بې د اسامة له اجازې څخه نشو پاتې کيدی ځکه ئې اسامة ته وويل: که ماسره دا مرسته وکړې چه عمر راته پريږدې څومره به ښه وي. هماغه وچه حضرت عمر (رض) د اسامة په اجازه له خليفه سره پاتې شو اونور لښکر غزا ته روان شو. دا و درسول الله (ص) هغه کامل روحي نفوذ چه دخپلو اصحابو د روح په اعماقو کښې ئې درلود او په ډيرقوي ايمان ئې دهغوی نفسي او شعوري حالت بيخی بدل کړی و.
درسول الله (ص) نه وروسته هم دغه عالي اخلاق تريوه وخته په اصحابو کښې باقي ؤ او اسلام په همدغه قوي روحيه مخ په ترقي روان ومګر دحضرت عمر (رض) د خلافت له ختميدو وروسته اسلامي تربيه او اسلامی اخلاق مخ په ټيټيدو شوه او ښکاره تغيرپکښې راغی.

حضرت ابو بکر صديق (رض):

د اسلام لومړی خليفه چه درسول الله (ص) له وفاته وروسته دخلافت لوړمقام ته ورسيده، دغه لوړاو عالي مقام دده په وضع اوحال کښې هيڅ تغير پيښ نه شو کړی او څنګه چه و هغسې و، خلافت او رياست په هرسړي کښې ارو مرو يو څه تغير راولي، هر څوک چه اولو الامرشي اوخلک ئې په اطاعت مکلف شي دجاه وجلال او شان وشوکت له اغيزې لاندې راځي اوبايد چه راشي مګر درسول الله (ص) ځينې اصحاب له دغه تاثير لاندې رانغله او له ډير اقتدارسره بياهم متواضع متقيان او دخدای دمخلوق رښتوني خدمتګاران و نه باداران.
خلافت دا ونکړی شوچه حتی دابوبکر صديق(رض) داستوګني په کور کښې څه جزئي تغير راولي په خپله دی خو لاپريږده هماغه وړوکی کورچه له مديني نه دباندې ده درلود له خلافت نه وروسته هم دده د استوګني ځای و او څه فرق پکښې رانغی لکه چه پخوا به کله پياده اوکله په خپل شخصي اس مديني ته راته، پس له خلافته ئې هم تګ او راتګ کله پخپل هماغه اس و او کله به پلی روان و يعنې د بيت المال په اس نه سپريده.
ده غوښتل چه په خلافت کښې هم له بيت المال نه څه وانخلي او دخپل لاس په ګټه ژوند وکړي يعنی دخلافت دچارو د اجراکولو سره خپل کار وکسب هم وکړي او بې معاشه دغه درنه وظيفه په غاړه واخلي مګر مسلمانانو اجازه ورنکړه او وئې ويل له دغه لوی اجتماعي خدمت سره بل شغل امکان نه لري ته بايد دځان اوخپل عيال د قوت په اندازه له بيت المال څخه معاش واخلې او هغه معاش هم خلکو دکفايت په قدر وټاکه خوکله چه خليفه وفات کيده نو امرئې وکړ څه چه ده له بيت المال څخه اخيستې دي دده له مال څخه دې بيت المال ته مسترد شي.
حضرت ابوبکر (رض) لکه چه له خلافت نه پخوا دضعيفانو دمرستې په لړ کښې ديوې ضعيفې کونډې ميږې ورته لوشلې له خلافته وروسته ئې هم دغه کار دخدای دپاره کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت عمر (رض):

د اسلام دوهم خلیفه چه د کسری او قیصر دوه لوئي امپراطوری، ئې له اغیزي لاندي شوي او د مسلمانانو بیت المال دده په وخت کښي له حده زیات غني و بیا هم ده خپل نفس د دنیا له خوندونو او نعمتونو محروم کړی و او ژوندئي ډیر فقیرانه و یوازي دا نه چه مادي عیش اولذت ئي په ځان حرام کړی و بلکه معنوي او احساسي لذتونه ئې هم په نفس درولي و.

وايي چه یوه ورځ دغه ستر خلیفه چه دعدالت له هیبته ئې د زورورو زړونه رپیدل د اوبو مشک په شاکړی و چه خلکو ورته په حیرت او تعجب کتل، دده ځوی چه په مخه ورغی نو د انکار په ډول ئې ورته وویل: دا څه کوي؟ خلیفه ځواب ورکړ، نفس ته مي عجب او غرور پیدا شوی غواړم چه ذلیل او حقیر ئې کړم.

همدغه خلیفه چه د حج د فریضې په اداکولو کښي ئې له خپلو ملګرو سره شپاړس دیناره مصرف کړي و د تاسف په ډول ئي وویل: بیت المال ته مو ډیر زیان ورساوه یو خلیفه چه د خپل مصرف د پاره د ورځې دوه درهمه له بیت المال څخه اخلي او په قوت لایموت قناعت کوي باید شپاړس دیناره مصرفول له حده تیری وګڼي.

د حضرت عمر(رض) دغه سختګیري یوازي په ځان باندي وه او خپلو عمالو ته ئي کافي معاشونه ورکول مثلا عمار بن یاسر د کوفي والي ته ئي په میاشت کښي شپږ سوه درهمه ورکول او د ورځې نیم پسه له څه اوړو سره همدا رنګه عبدالله ابن مسعود ته ئي یو سل درهمه او د ورځې دیوه پسه څلورمه برخه ورکوله، عثمان ابن حنیف ته یو سل او پنځوس درهمه او په ورځ کښي د پسه ربع.

حضرت عمر (رض) د اسلامی روحیې په بنا د اسیاست ډیر ښه عملي کاوه چه صالح اشخاص او د تقوی خاوندان ئي که موالی هم و له هغو قریشو نه ډیر ښه ګڼل چه اسلامی پایه به ئې ټیټه وه او ضعیفان ورته له زورورو نه ډیر محترم و.

په همدغه اساس ئي عمار بن یاسر چه د موالیو له جملي څخه و د کوفي والي کړی و.

وائي چه یوه ورځ دده په دروازه کښي ابو سفیان بن حرب، سهیل ابن عمر، حارث ابن هشام او د قریشو نور سرداران ولاړ و اوله دوی سره صهیب او بلال هم چه د موالیو له جملي څخه و د خلیفه دلیدو په انتظار کښي شریک و، خلیفه اول خپل حضور ته صهیب او بلال وغوښتل او نور هماغسې منتظرپاتی شو، د ابو سفیان پزه له ډیر قهره وپړسیده او په ډیر تاثر ئي وویل: د اسي ورځ هم راورسیده چه مریان غوښتل کیږي او مونږ په دروازه کښي ولاړ پاتي کیږو.

د حضرت عمر (رض) دغه کار تصادفي یا غیر ارادي نه و هغه پدې ډیر ښه پوهیده چه دا کار د قریشو په سردارانو او خصوصاً په ابو سفیان څومره درنه روحي او نفسیاتي اغیزه لري مګر اسلامي روحیه او دیني مقدسه غایه په ده حاکمه وه او ځان ئي اخلاقاً او دیانتاً مجبور ګاڼه چه همدغسې وکړي.

د قرآن کریم په سورت قصص کښي د فرعون او هامان په مقابل کښي د ضعیفانو او ناتوانو خلکو د قوي کولو او د هغوی د خوارولو او ذلیلولو بیان: (وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُم مَّا كَانُوا يَحْذَرُونَ القصص آیت ۶) همدغه اسلامي روحیه څرګندوي چه ترجمه ئي دا ده: غوښتل مو چه د ځمکي له ضعیفانو سره احسان وکړو او پیشوایان ئي وګرزوو، د ځمکي وارثان او صاحبان ئي کړو، فرعون وهامان او د دوی لښکر وته د ضعیفانو له لاسه هغه عذابونه ورښیو چه دوی ترینه حذر کاوه.

دا دی د خدای هغه قانون چه قرآن ئي بیانوي او د الهي سنت په حیث تاریخی سابقه لري.

حضرت عمر(رض) د اسلام دغه اساسي هدف ډیر ښه تشخیص کړی و او د خپلي خط مشي اصلي مرام ئي باله.

یو وخت عمر ابن الخطاب په مکه کښي ولیدل چه د قریشو سرداران په ډوډۍ ناست او خدمتګاران ورته ولاړ دي ځکه ئي په قهر وویل: (مَالِقَومٍ يَستَاْ ثِرُونَ عَلَىٰ خُدَّامِهِم) یعنی نه ښایي چه یو قوم ځان له خادمانو نه غوره وګڼي، بیائي خدمتګاران په یوه دستر خوان له خپلو صاحبانو سره په ډوډۍ کښینول او دغه امتیازئي مردود وګاڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه خلیفه چه په عسفان نومی ځای کښې ئي دمکې عامل اوپه اوسنی اصطلاح والي (نافع ابن حارث) ولید پوښتنه ئي تري وکړه چه دخپل قایمقام دي څوک پریښود هغه وویل: ابن ابزي مي پریښود. خلیفه بیا پوښتنه وکړه: ابن ابزي څوک دی؟ نافع وویل: زمونږ له موالیو څخه یو تن.
عمر (رض) وویل: مولی دي خپل خلیفه پرې اینبی دی؟ نافع ځواب ورکړ هغه دقرآن قاری اوپه فرایضو ښه پوه سړی دی.
حضرت عمر (رض) وویل: ایا زمونږ پیغمبر دا ندي ویلي: (اِنّ اللهَ یَرفعُ بِهذَا الکِتَابِ اَقوَاماً وَیَضَعُ بِهِ اٰخَرِینَ) یعنی پاک خدای ددي کتاب (قرآن) په وسیله قومونه لوړوي او نور راټیټوي. پس له هغه نافع پوه شو چه دحضرت عمر دغه پوښتنه د انکار دپاره نه وه د استفهام دپاره وه. اوغوښتل ئي چه د ابن ابزي په مزیت پوه شي. که داسې نه وای نو ده به ولې عمار بن یاسر دکوفي والي کاوه او ولې به ئې صهیب او بلال له ابوسفیان نه دمخه خپل حضورته غوښتل. بلکه دا چه د حضرت عمر نه چا پوښتنه وکړه چه وروسته له تانه به څوک دخلافت دپاره مناسب وي او دشوری په غړو کښې درته کوم یو ډیر ورمعلومیږي.
ده وویل: (لَوکَانَ سَالِمٌ مَولی اٰبی حُذَیفَة حَیاً لَوَلّیتُهُ) که سالم دابی حذیفة مولی ژوندی وای مابه ورګټلی و. دشوری غړي دغه کسان و: عثمان، علی، طلحه، زبیر، عبدالرحمن بن عوف، سعدبن ابی وقاص او عبدالله بن عمر یعنی دده خپل زوی چه د رایې حق ئي ورکړي نه و مګر په شوری کښې ئي شامل کړی و.
حضرت عمر په خپل خلافت کښې معاشونه او عطایا په دې اساس ورکول چه په اسلام کښې دچا سابقه زیاته ده او په څومره غزاګانو کښې له رسول الله (ص) سره ملګری و مګر دا قاعده ئي د اسامة بن زید په حق کښې ماته کړه ځکه چه هغه ته ئي څلور زره درهمه وټاکل او خپل ځوی عبدالله ابن عمر ته ئي درې زره درهمه ټاکلي و. عبدالله دا اعتراض په ډول وویل: زه په ډیروغزاګانو کښې شامل شوی یم چه اسامة پکښې ګډون نه درلود او سابقه مې له هغه نه زیاته ده مګر دهغه معاش ډیر او زما لږ دی. حضرت عمر وویل: هغه له تانه په رسول الله (ص) ډیرګران واوپلارئې هم ستاله پلارنه رسول الله (ص) ته محبوب و.

حضرت علی کرم الله وجهه:

د اسلام څلورم خلیفه په داسې وخت کښې دخلافت قبلولو ته مجبور شو چه اسلامي تربیه او اسلامي اخلاق مخ په ځوږ و او مسلمانان د ډیرو عظیمو فتوحاتو له برکته دډیروشتو خاوندان شوي و.
ثروت اوبډائي له ځان سره عیاشي او تن آسایي راوړي، په زړونو کښې دجاه وجلال مینه پیداکوي اوغفلت زیاتوي. څوک چه په دنیا پورې زړه وتړي او دنفسي خواهشاتو پنډي شي په اخلاقو کښې ئي بدلون راځي او روحاني تعلقات ئي کمیږي.
دحضرت عمر(رض) له خلافته وروسته دحضرت عثمان(رض) په خلافت کښې مسلمانان که څه هم د هیوادونو په فتح کولو او د اسلام په خپرولو کښې کامیاب و مګرله دغو کامیابیو سره معنوي او اخلاقي انحطاط هم ملګری ؤ.
په مسلمانانو کښې د اقتدار او شخصي ګټو مینه را ژوندی شوي وه حرص وهوس غځونی شروع کړي وې، امویانو دموروثي سلطنت خوبونه لیدل او ځانونه ئي دسبا ورځې دپاره قوي کول.
دخلافت په باغ وبڼ کښې دحکم او مروان په شان بدبوټي پیدا شوي و، سیاسي رشوتونه رایج شوه او د ضمیرخرڅولو تجارت په مزه کښې و. حضرت علی ددغه بازار سړی نه و او د وخت ناوړه غوښتني ئي ردولې. ده په موقت ډول هم دیوې وسیلې په حیث مسلک له سیاست څخه نه قرباناوه او د اخلاقي انحراف په بیه یې سیاسي کامیابي لویه ناکامي ګڼله. دی په دې پوهیده چه دیني جذبه په خلکو کښې ضعیفه شویده او اکثر اشخاص دهغه چا ملګري کیږي چه ددوی ضمیرونه په پیسو رانیسي یائي اقلاً په وعدو وخوشحالوي مګر ده داکارنه کاوه او سمه لاره ئي نه پریښوده هیچاته ئي بې شرعي استحقاقه څه نه ورکول او نه ئي څوک په طمع کښې ساتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چه ده ته دده وړور عقیل په ډېر لوی امیدراغی چه له بیت المال نه دومره څه ورکړي چه نیستي ئې غوڅه شي نوده امام حسن ته وویل: زمابرخه چه له بیت المال څخه راووته له خپل تره سره بازار ته لاړ شه یو جوړ نوي جامې او نوې پڼې ورته واخله، همدغه عقیل چه له ده نه خوابدی حضرت معاویه ته ورغی هغه له بیت المال څخه سل زره درهمه ورکړه. دسیاست تقاضا همدغه وه چه وړور له وړور نه په دغه ډول بیل کړي مګر دیانت او مسلکي تقوی حضرت علي ته اجازه ورنکړه چه دبیت المال پیسې دسیاسي مصلحت دپاره ولګوي.

حضرت علی به ویل: زه پوهیږم چه څه شی تاسو اصلاح کوي مګرنه غواړم چه دځان په فاسدولو تاسو اصلاح کړم. دده په عقیده هغه څوک بریالی نه و چه ګناه پرې بریالی۔ شي.

ده هغه غالب مغلوب ګاڼه چه په ناجایزه طریقه او وسیله ئې غلبه حاصلوله.

یو مصلح اخلاقي لاربنود دا نه خوښوي چه دوخت په تقاضا خپله لاره بدله کړي او دسیاسی مصلحت دپاره مسلکي اصول قربان کړي.

علی کرم الله وجهه غوښتل چه درسول الله (ص) او دوو لومړیو خلیفه ګانو په لاره مستقیم لاړشي او هیڅ راز انحراف ونکړي مګر مسلمانانو په عمومي صورت هغه اخلاق او دیني احساسات بایللي وچه دهغوی په زمانه کښې ئې لرل.

همدغه اخلاقی انحطاط او معنوي سقوط ددې باعث شوچه په اسلام کښې رخنې او تفرقې پیدا شي او فتنة الکبری ته لاره خلاصه شي دهمدغه فاحش تغیر په وجه اسلامي زعامت خپل عظمت بایلود او نتیجه ئې دا شوه چه بالاخره یزید او یزیدیان دقدرت خاوندان شوه او اداري دستګاه بیخي فاسده شوه.

درسول الله (ص) له رحلت څخه پنځوس کاله وروسته دمسلمانانو داحال وچه دکوفي والي زیاد ابن ابیه به مسلمانان مجبورول چه په مجامعو کښې دمنبر په سرعلی او اهل بیتو ته کنځلې وکړي او فحش وو ایي که چا به لدې خبرې انکار کاوه نو په ډېرې بې رحمۍ به وژل کیده حال دا چه قرآن په ډېر صراحت خپل پیروان له کنځلو نه ډېر سخت منع کړیدی که څه هم مقابل لوری کافران او مشرکان وي: (وَلاَ تَسُبُّواْ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللّهِ ......الانعام آیت ۱۰۸).

زیاد ابن ابیه دکوفي والي هغه سړی وچه مورئې (سمیة) له ابوسفیان سره بې نکاحَ شپې تیرولې او رسمي میړه ئې بل څوک و، همدغه وجه وه چه ده ته ابن ابیه ویل کیده او معلوم پلارئې نه درلوده.

ده د دې دپاره چه نسب یې له معاویه سره ګډشي او دهغه وړور وبلل شي په رسمي محفل کښې ئې دا خبره اعلان کړه چه دی د ابوسفیان ځوی دی او دخپلې مورلـه رسمي او قانوني میړه څخه ندی پیدا شوی او داد اخلاقي انحطاط ډیر برجسته مثال دی.

درسول الله (ص) ډېرګران لمسی امام حسین(رض) دزیاد ابن ابیه په امر له اویا تنو ډېرو نژدوخپلوانو، ښځو او ماشومانو سره په کربلا کښې دعمربن سعد بن ابی وقاص په لاس ووژل شوه دا حقیقت ډېر ښه څرګندوي چه په مسلمانانو کښې څومره لوی بدلون راغلی و.

دهمدغه عمر پلار سعدبن ابی وقاص هغه سړی وچه داحد په غزا کښې ئې دخپل سر په سودا په ډېرې ایمانداری، او فداکاری له رسول الله (ص) څخه په ډېرسخت خطرناک حالت کښې تراخره په ډېروزیاتو غشو ویشتلو بې مثاله مدافعه وکړه او په همدغه وجه په ډېرو خاصو اصحابو (عشره مبشره) کښې حساب شو.

د اسلام په تاریخ کښې که څه هم دیزیدیانو توره منحوسه دوره د اخلاقی مفاسدو او ناوړه اعمالو یو طغیاني حالت و چه قهقرائې رجعت ورته ویلی شو مګر دغو ټولو شوموحوادثوونکړی شوه چه د اسلام عمیق معنوي ناثیرات بیخي له مینځه یوسي او د اسلامي اخلاقو جرړې وباسي.

دغه معنوي او ظاهري خزان د اسلام باغ وبڼ سپیره ډاګ کړ او ښاروي ئې پکښې وڅرول مګر له خاورولاندې نیلي ریښې ئې محوه نشوې کړی او په دغه ګلشن کښې کله ناکله ډېر ښه بوټي وټوکیدل چه په دغه جمله کښې عمربن عبدالعزیز دحضرت عمربن خطاب ډېرښه پیروګڼلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمر ابن عبدالعزيز:

دخلافت دعهد وروستى ځلانده ستورى همدغه مبارک شخص دى چه اسلامى روحيه ئې په ډيرښه شان تمثيل کړه.
کله چه ده دخلافت په نامه دسلطنت واګې په لاس کښې ونيولې منبرته وخوت اوداسې ئې وويل:
((......زه په يوه داسې کارکښې له ازميښت سره مخامخ شوم چه مانه غوښتنه او تاسوهم دانتخاب له لارې دا کارماته نه دى راسپارلى دغه دى ماخپل ځان خلع کړاو تاسو اختيار لرئ چه هرڅوک انتخابوئ...))وروسته له دغې خطابې له هرې خوا دا اوازونه اوچت شوه چه مونږته انتخاب کړې تاغواړو او په تاوياړو اې اميرالمومنينه!
وروسته تردې خليفه بياخلک مخاطب کړه او وئې ويل: په دې يوه شئ چه مخلوق ته داسې اطاعت نه ښايي چه هغه دخالق په معصيت کښې وي. که څوک دخداى اطاعت کوي اطاعت ئې واجب دى اوکه له خدايه غاړه غړوي په چاباندې داطاعت حق نه لري. تاسوتر هغه حده زما اطاعت وکړئ ترڅو چه زه دخداى فرمان وړم که هروخت مې دخداى له امر سر وغړاوه نوبيازما امرته غاړه مه ږدئ.
پس لدې نه عمرابن عبدالعزيز سمدلاسه دتيرو مظالموپه ردولو کښې اول له ځانه شروع وکړه کوم مالونه چه ده ته داسلافو اقتدارپه ميراث پريښى وهغه ئې دمسلمانانوبيت المال ته مسترد کړه حتى چه هغه قيمتي ګوته ئې چه په ګوته وه او وليد ورکړې وه هغه ئې هم له لاسه ورواېستله، کومې ځمکې چه يوځاى اوبل ځاى ده ته ورکړه شوې وې ټولې ئې پريښودې يوازې يوکاريزئې چه په سويدا کښې په خپلو پيسو ويستلى وځانته وساته چه په کال کښې ئې يوسل اوپنځوس ديناره کله لږکم کله لږزيات حاصل ورکاوه، اوده خپله ګذاره پرې کوله يعنى له بيت المال څخه ئې هيڅ نه اخيستل اوټول عايدات ئې همدغه و.
يوه ورځ چاورته وويل چه عمرابن الخطاب خوله بيت المال څخه دورځې دوه درهمه اخيستل ته ئې هم بايد واخلې عمرابن عبدالعزيز وويل هغه په خپله څه نلرل ځکه ئې اخيستل زه خودومره څه لرم چه ګذاره مې پرې وشي.
دده ښځه دعبدالملک بن مروان لوروه اوپلارئې څه قيمتي جواهر دتحفې په ډول ورکړى و عمر فاطمې ته وويل: ته اختيارلرې چه په دې دووخبروکښې هره يوه منې اوهغه داچه يا دغه جواهرات بيت المال ته وسپاره يا ماته اجازه راکړه چه له تانه بيل واوسيږم ځکه چه زه اودغه جواهرپه يوه کوټه کښې نشوياتې کيدى.
فاطمې وويل: يا اميرالمومنينه! ماته له دغو جواهرو اوددې څوچنده جواهرونه ته ښه ئې هماغه وچه جواهر هم بيت المال ته وسپارل شوه، په دغه ډول هغه ټول مالونه چه په غير عادلانه توګه له يوه اوبل سره جمع شوي و اودبيت المال حق و بيرته بيت المال ته مسترد شوه او اسلامې عدالت بياقايم شو.
کله چه عمرابن عبدالعزيز وفات شواو يزيد ابن عبدالملک اميرالمومنين شونو خپلې خورفاطمې ته ئې وويل: ته کولى شې چه خپل جواهر له بيت المال نه بيرته واخلې، هغې وويل: مادعمر په ژوند په خپله خوښه بيت المال ته سپارلي دي دهغه له مرګه ئې وروسته هم بيرته نه اخلم. هماغه وچه يزيد هغه جواهرپه خپل اهل وعيال وويشل اوله بيت المال نه بيا شخصي ملکيت اوعين المال ته لاړل.
داؤ دهغه لوړو اسلامې اخلاقو ځينې ممثلين چه حضرت محمد صلى الله عليه وسلم دخپل سيرت اوعمل په وسيله په خپلو پيروانو کښې پيدا کړي ؤ.
هغه محمد (ص)چه مسلمانانو ته له ځانه او له موروپلاره ډير ګران و او ايمان يې پرې راوړى وپه ورځنې ژوند کښې ځانته په کوم شخصى امتيازنه وقايل اوله نورونه ئې څه فرق نه درلوده. همدغه عملي تعليم اوتربيت وچه اغيزه ئې دده په اصحابو او دهغوى په وسيله په تابعينو او تبع تابعينو کښې ثم فثم دسکې دضرب په شان باقي پاتې شوه او انفوسوکښې ئې داسې لوى معنوي بدلون راووست چه ددايمي معجزې حيثيت اوماهيت لري.
دااغيزه کله لږاو کله ډيره داسلام په نخبه اشخاصو کښې دکامل انسانيت مظهر بللى شوچه ځينې نور مثالونه ئې دادي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابوعبیده بن جراح:

درسول الله(ص) په اصحابو کښې ابوعبیده ډیر لوړ مقام اومنزلت درلود ، دی هغه وخت د اسلام منونکی او د پیغمبر (ص) ملګری شو چه د مسلمانانو شمیر لاڅلویښتو تنو ته نه و رسیدلی او د اسلامي سابقې په لحاظ له حضرت عمر نه دمخه دی.

رسول الله (ص) دی په ډیرو خاصو اصحابو (عشره مبشره) کښې شمیرلی و او د امین الامة لقب ئې ورکړي ؤ.

دغه جلیل القدره صحابی د حضرت ابوبکر صدیق په خلافت کښې په شام کښې د اسلامي لښکر وعمومي قوماندان وچه حضرت ابوبکر(رض) دده په ځای خالدبن ولید مقرر کړاو ده ته ئې ولیکل زه په دې ښه پوه یم چه ته په دیني لحاظ له خالد څخه بهتر او افضل یې مګر په جنګ کښې هغه خاص مهارت اوزیرکي لري ځکه مي هغه په تا باندې امیر کړ ته دهغه اطاعت کوه او له امرنه ئې سرمه غړوه.

ابوعبیده چه د نبوي اخلاقو په پیروی خپل نفسي خواهشات محوه کړي ؤ او بې د اسلام له اعتلا نه یې بل مقصد نه درلوده په ډیرې خوښۍ ئې دغه امر ومانه او د خالد لاس لاندې د خدای د پاره جنګیده، حسد اورقابت په ده باندې څه بری ونه موند یعني دی غالب اونفس وشیطان مغلوب و ، همدغه حقیقي مجاهد چه د حضرت عمر په خلافت کښې د لښکر د قاید په حیث په عمواس کښې ؤ اوهلته ډیره سخته وبا ولګیده او د مرګ خطر په هر ان کښې موجود و نو حضرت عمر په امین الامة (ابوعبیده) وویریده ځکه یې یو خط ورو لیږه چه مضمون ئې داؤ:

((زه تاته ضرورت لرم او غواړم څه خبرې درسره وکړم ته د خط له رسیدو سره سم راروان شه او ماته ځان راورسوه)).

ابوعبیده چه خط ولوست پوه شو چه خلیفه دی ځخه د پاره ورغوښتی دی ځکه ئې په جواب کښې خلیفه ته ولیکل: ((زه ستاسو په ضرورت پوه شوم زه د اسلامی لښکر یوتن یم او ځان راباندې له هغوی نه ګران نه دی زه ډیر خوښ یم چه دوی سره د خدای امر اوقضاته منتظر اوسم، امید دی چه امیرالمومنین ما معاف کړی او لښکر سره د پاتې کیدو اجازه راکړي)) ښائي چه ډیر عسکري قوماندانان د محاربې په میدان کښې ثابت قدم پاتې شوي وي مګر د ابوعبیده دغه ثبات اوپه دغسې حال کښې د خلیفه د امرله تعمیل نه معذرت غوښتل ډیر قوي ایمان اوقضاوقدر ته کامل تسلیم غواړي. کیدی شي چه ډیر توریالي اشخاص هم چه له ویستلو تورو څخه نه ویریږي له وبا څخه وویریږي او د دولت دمشر دغه راز له لوړینې ډک امر په ډیره بیړه ومني او شکرونه ئې اداکړي.

خالد بن ولید:

د اسلام دغه مشهور فاتح چه هیڅکله ئې شکست نه وخوړلی او د جنګ په چارو کښې د عزم وتدبیر او ډیر مهارت خاوندو په شام کښې د اسلامي لښکر وقوماندان و چه دوهم خلیفه حضرت عمر(رض) دی عزل کړاو په عوض ئې ابوعبیده بن جراح دلښکرو مشروټاکه نوبیا خالد دیوه سپاهي په حیث د ابوعبیده له قیادت لاندې د دین د اعتلاد پاره هماغسې جنګیده او د مقام ومنزلت د دغه ظاهري تنزیل په ده باندې کوم څرګند اثر ونکړی شو.

د خالد هغه حیرانوونکي فتوحات چه د جنګ په میدانونو کښې ئې په برخه شوي و اوده ته ئې دیوه لوی قهرمان حیثیت ورکړی ښائي چه د تاریخ په اوږدو کښې د نوروهم نصیب شوی وي مګر د نفسي اغیزو او د انساني غرایزو په مقابل کښې د دغه اخلاقي بریالیتوب ډیر نادر او نایابه دی.

امام ابوحنیفه:

د اسلامی اخلاقو په لړکښې د صداقت اوراستکاری، د تقوی اوپرهیزګاری یوښه مثال د دغه مجتهد امام د تجارت قصه ده. ده د خپل معیشت د تامین د پاره د تجارت پیشه غوره کړې وه او حفص بن عبد الرحمن ورسره په تجارت کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شریک و، یو خل امام ابوحنیفه یو څه کالي دپلورلو دپاره خپل دغه شریک ته ولیږل او تاکیدئي وکړچه په دغو کالیوکښې دغه عیب موجوددی په هرچائې چه خرڅوي باید اول ورته دعیب یادونه وکړي اوبیائي پرې وپلورې.
حفص هغه کالي خرڅ کړه مګر دعیب بیانول ئي هیر کړه، د کالیو قیمت په یوه روایت دیرش، زره او په بل روایت پنځه دیرش زره درهمه په لاس ورغله چه هغه ئي امام ابوحنیفه ته وروړل نو امام پوښتنه وکړه چه خریدار دي له عیبه خبر کړ حفص وویل نه هیرمی شوه، امام صاحب روپې وانخستې او حفص ته ئي وویل چه خریدار پیدا کړه هغه هرڅه کوښښ وکړ خریدار پیدا نشو په همدغه وجه امام له خپل شریک سره معامله قطع کړه او هغه پیسې ئي له خپل نور مال سره ګډې نکړې دخدای په لار کښې ئي صدقه کړې.

یونس ابن عبید:

داسړی هم تاجر و او دکان ئي درلودله ده سره دوه ډوله چپنې وې چه یو ډول ئي څلورسوه درهمه ارزښت درلود اوبل ډول دوه سوه درهمه.
کله چه یونس دلمانځه دپاره مسجد ته ولاړ او وراره ئي په دکان کښې ناست و، یو اعرابي راغی د دوه سوو روپو چپنه ئي په څلورسوه واخیسته اولاړه مګرپه لاره کښې یونس په مخه ورغی اوپوښتنه ئي ترې وکړه چه چپنه دي په څو واخیسته اعرابي وویل په څلورسوه، یونس ورته وویل ددې چپنې قیمت دوه سوه دی راشه چه په دکان کښې دوه سوه روپې بیرته درکړم. اعرابي وویل داچینه زمونږ په ښارکښې په پنځه سوه خرڅیږي زه پرې راضي یم یونس وویل که ته راضي یې زه راضي نه یم له ټاکلي قیمت نه زیات څه واخلم هماغه و چه اعرابي ئي بیرته راووست دوه سوه روپې ئي بیرته ورکړې اوخپل وراره ئي ډیر وراټه چه دغه راز معامله بیاتکرارنشي.

ابوبلال:

داسلامي اخلاقو په ممثلینو کښې ابوبلال هم دیادونې وړدی. دی په بصره کښې دخوارجو د طرفداری په تورله څوتنو خوارجوسره بندي شو، بندیوان ددغه زاهد اوعابد بندي معتقد شو او دقرآن تلاوت ئي ډیرخوند ورکاوه څکه ئي اجازه ورکړه چه دشپې خپل کورته ځي او د ورځې راځي اوکله کله به ئي د ورځې هم رخصت ورکاوه، یوه ورځ چه ابوبلال له بندیخانې نه بهر وچاورته وویل چه عبیدالله بن زیاد ستاسو څو تنو بندیانو د وژلو امر صادر کړی چه سبا ته به عملي کیږي. ابوبلال چه دا واوریدل نو په ډیره بیړه ئي ځان بندیخانې ته ورساوه چه دده د نشوالي په وجه بندیوان دحاکم له قهر وغضب لاندې رانشي، ابوبلال چه دبندیوان د احسان په خاطر ځان د مرګ په خوله کښې ورکړ سباته دده ځینې ملګري ووژل شوه او دی تقدیراً معاف کړی شو اوله بندیخانې نه ژوندی راووت مګر کوم مظالم چه ده لیدل تحمل ئي ده ته ډیرګران و او په همدغه وجه له څلویښتو ملګرو سره له بصرې نه بیدیاته لاړ او دا تعهد ئي په خپلو مینځو کښې وکړچه دظلم اوتیري مخه به نیسی، عدل او صلاح ته به خلک رابولي، نه به په چاتعرض کوي نه به دچامال لوټي له فساد نه به ځانونه ژغوري. دقتل اقدام به نه کوي مګر که چادوی وژل نومدافعه به کوي. ابن زیاد چه خبر شونو اسلم بن زرعة ئي له دوه زره تنوسره واستاوه چه ابوبلال له خپلو ملګروسره راولي. اسلم په اسک کښې له ابوبلال سره مخامخ شو او ورته ئي وویل راځئ له مونږ سره لاړ شئ او د ابن زیاد اطاعت ته غاړه کیږدئ. ابوبلال وویل مونږ دیوه فاسق اوظالم اطاعت نه منو اوله تاسو سره نه ځو. هماغه وچه جنګ د اسلم دلښکر له خوا شروع شو او ابوبلال دفاع کوله. دخدای قدرت وچه څلویښتو تنو دوه زره تنوته ماتې ورکړه او ابن زیاد په داسې حال کښې چه اسلم ابن زرعة ئي ډیر زیات وراټه عباد بن احضرئي له څلور زره لښکر سره په ابوبلال پسې واستاوه له دې لښکر سره هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دابوبلال جنګ په همدغه ډول شروع شو یعنی لومړی تعرض دعباد لښکر له خوا و او ابوبلال دفاعي جنګ شروع کړ. دغه سخت جنګ ډیر دوام وکړ او ابوبلال متوجه شو چه دمازدیګر لمونځ قضا کیږي ځکه ئې پیشنهادوکړچه دلمانځه اداکولو دپاره جنګ متوقف کړواوپس له لمانځه بیاپیل کوو. عبادهم داخبره ومنله او دواړه جانبه په لمانځه مشغول شوه مګر عباد په لمانځه کښي یا ډیره چالاکي وکړه یاد اچه لمونځ ئې قطع کړ او جنګ ئې په داسې حال کښي شروع کړ چه ابوبلال اوملګري ئې په لمانځه ولاړو خو دجنګ دپاره ئې لمونځ پرینښود او ادامه ئې ورکړه ځکه څوک په قیام، څوک په رکوع او څوک په سجده شهیدان شوه او په دغه ډول ځلورزه لښکر په څلویښتو تنوبریالی شو.

دا و داسلامي اخلاقو مظاهر چه دنموني اومثال په ډول په مختلفو ساحو کښي وښودل شوه او داڅرګنده شوه چه اسلام دسیاست او اداري په ډګر کښي لکه ابوبکر اوعمر او دجنګ په ډګر کښي لکه ابوعبیده اوخالد ممتاز شخصیتونه جوړکړه، په تجارت اومالي مسایلو کښي ئې خپلو پیروانو ته دصداقت او ایمانداری درس ورکړ او دحق په مجادله اومبارزه کښي ئې علي اوحسین ابراهیمي قرباني ته تیار کړه او دابوبلال دکارنامو په شان ډیري حیرانوونکي کارنامې ئې تاریخ ته وسپارلې.

دصدراسلام نیکان او صالحان به پریږدو ګنهګاران به ئې وګورو چه څنګه خلک و او اسلامي تربیې پرې څه اثرکړی و؟ په اصحابو اولومړنیو مسلمانانو کښي هم ځیني کسان دنفسي خواهشاتو په تقاضا دګناه مرتکب شویدي مګر خپله پټه ګناه ئې دخپل ضمیر اووجدان په حکم ښکاره کړیده او هغه جزائې دځان دپاره غوښتي ده چه اسلام ورته ټاکلې وه.

په دغه جمله کښي دماعز ابن مالک قصه ډیره مشهوره ده. بریده روایت کوي چه ماعز ابن مالک رسول الله(ص)ته راغی اووئې ویل: دخدای رسوله ماله ګناه څخه پاک کړه هغه ورته وفرمایل: لاړشه ! له خدایه بخښنه وغواړه او تایب شه ! ماعز ولاړ اولږه شیبه وروسته بیا راغی اوهماغه څه ئې بیاوویل: رسول الله(ص) هم خپله خبره تکرار کړه او دغه سوال وجواب ادامه پیداکړه ترڅو چه څلورم ځل ماعز بیا راغی او د(تطهیر) مطالبه ئې وکړه. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته داخل وفرمایل: له کومې ګناه نه دي پاک کړم ماعز وویل له زناڅخه پیغمبر پوښتنه وکړه چه مجنون خو به نه وي، ورته وویل شوه نه مجنون نه دی بیائې تپوس وکړ آیا شراب ئې څکلي دي؟ یوتن ورنږدې شو او ویې ویل دشرابو بوی ورڅخه نه ځي. پس له هغه چه ماعز بیاپه زنا اقرار وکړنو رسول الله صلی الله علیه وسلم د رجم حد پرې جاري کړاو دماعز ژوند ختم شو.

دوه یادرې ورځې وروسته رسول الله (ص) وفرمایل: ماعزته دمغفرت دعا وکړئ هغه داسې تایب شو چه که توبه ئې په ټول امت تقسیم شي ګنجایش لري، تردې وروسته یوه ښځه راغله هغې هم له رسول الله (ص) څخه دځان دطهارت غوښتنه وکړه پیغمبر ورته داستغفار اوتوبې توصیه وکړه، هغې وویل ماهم دماعز په شان ردوئې زه له زناڅخه حامله شوې یم.

رسول الله(ص) ورته وویل: ترهغه وخته انتظار وکاږه چه د حمل وضع وشي او دغه ښځه ئې دانصارویوه تن ته وسپارله چه د ولادت تروخته ئې وساتي، کله چه دښځې اولاد وشو هغه سړی راغی اودحمل د وضع اطلاع ئې ورکړه، رسول الله (ص) وفرمایل اوس ئې نه رجم کووچه اولادئې صغیر پاتې کیږي اوڅوک نشته چه شودې ورکړي. دانصارو له جملې څخه یوتن پاڅیده اودطفل درضاعت مصرف ئې په غاړه واخیست پس له هغه رسول الله(ص) د رجم حکم صادر کړ او دغې ښځې هم خپله ګناه پخپلو وینو ووینځله.

ماعز ابن مالک اودغې ښځې ته دخپلې ګناه دغه سزا معلومه وه چه رجم دی مګر سره له دې دواړو اصرار کاوه اوپخپله ئې دغه جزا دځان دپاره غوښتله.

هغه باطني شعور چه اسلام اوایمان په دوی کښي پیداکړی و په دوی حاکم او شرعي حدئې پرې جاري کاوه.

داسلامي اخلاقو له بحثه وروسته داسلامي تصوف بحث ضروري معلومیږي. اسلام، اخلاق اوتصوف یوله بله معنوي ترون لري اویوبحث بل ته منتهی کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کسان چه دین ته په مادي نظر ګوري او د اقتصادي ایجاباتو اوضرورتونو مولودئي ګڼي وایي: دین په دوهمه مرحله کښې یعنې کله چه له خپل مادي اصل اوزماني ضرورت څخه لرې کیږي اوتخذیري حالت پیدا کوي نو تصوف تري جوړیږي او عرفاني شکل اختیاروي. ددوی په خیال تصوف د اسلام ددین منحرف اومحذر شوی شکل دی.
ځیني وائي تصوف د سامي دین یعنې اسلام په مقابل کښې دآریایانو دفاعي عکس العمل دی ځکه چه سامي نژاد په زور اوفشار په دوی باندې اسلام تحمیل کړي او تصوف دهمدغه فشار نتیجه ده.
یوه فرضیه داده چه دتصوف منشا نوي افلاطوني فلسفه ده چه دافلاطون دخیرمحض، ښکلا او مثل له نظریې سره تعلق لري. ځیني کسان دتصوف ارتباط بودائیت اوهندي روحانیت سره ښیي او ځیني ئې له زردشتیت سره تعلق ته ګوته نیسي اوځوک ئې له مسیحیت څخه ماخوذ ګڼي مګر اصلي اوصحیح خبره داده چه په اسلام کښې زهد اوتقوی دتصوف لومړی مرحله ده چه درسول الله صلی الله علیه وسلم په سیرت کښې ئې د اعتدال په حالت کښې وینو دحضرت محمد (ص) زهد اوریاضت، روژې نیول، تهجد اوعبادت کول او له خوندورو خوراکونو څخه ځان ژغورل اونفس خوارول یوداسې حقیقت دی چه څوک ترینه انکارنشي کولی مګر دغه زهد او ریاضت په ده کښې داسې ضعف نه دی پیدا کړی چه دی ئې له جهادونو څخه عاجزکړی وي یائې دده مبارک وجود مقاومت کم کړی وي.
درسول الله(ص) ځینو اصحابو هم زاهدانه ژوند درلود او ریاضت ئې کاوه چه اهل صفه پکښې ښکاره مقام لري.
همدغه زهد او ریاضت د اسلامي تصوف آغاز و چه وروسته ئې ځیني مراحل طی کړه او بالاخره پکښې نورخه هم راګډ شوه او دنورو فلسفو اومذاهبو رنګ ئې واخیست اومسیحی رهبانیت ته نژدې شو مګر بیا هم د اسلامي اصیل تصوف تشخیص اوتمیزکیدی شي او دغه تصوف دعرفاني شخصیتونو او د ډیرو صالحو اومصلحو افرادو په جوړولو کښې موثر نقش لري او داسې رجال ئې وروزل چه دعلم ومعنی او د روحانیت سطحه ئې ډیره اوچته کړه او داسلامي نړی له مفاخرو څخه وګڼل شوه.

اسلامی تصوف

صوفیان په دین کښې دري درجې اومرتبې مني: اسلام، ایمان، احسان.
د لااله الا الله محمد رسول الله شهادت اداکول، لمونځ کول، روژه نیول، زکات ورکول اوحج کول اسلام دی.
د مسلمانی دغه پنځه بنا ددین ظاهري شکل اوصورت دی چه د اسلام ارکان بلل کیږي.
ایمان چه ددین روح ئې بولي په خدای، په ملایکو، په ټولو پیغمبرانو دقیامت په ورځ اودخدای له لوري دخیراو شر په قدرباور لرل دي.
احسان چه ددین حقیقت ئې ګڼي دا دی چه سړی په اقوالو اواعمالو اوپه خاطراتو کښې له خدای سره تعلق ولري او په هرڅه اوهرحال کښې ئې حاضراوناظروګڼي چه مراقبة الله هم ورته وايي.
په دغه باب کښې ددوی سند هغه حدیث شریف دی چه مسلم ئې له سیدناعمر ابن لخطاب څخه روایت کوي اوهغه دادی:
(بَینَمَانَحنُ جُلُوسٌ عندرَسُولِ الله(ص) ذاتَ یَومٍ اذ طَلَعَ عَلَینَا رَجُلٌ شَدیدُبَیَاضِ الثّیَابِ شَدیدُ سُوَادِ الشّعرِ لَایُرٰی عَلَیه اَثَرُ السَفرِولَایعرِفُهُ مِنَا اَحدٌحَتیٰ جَلَسَ اِلی النّبِی(ص) فَاسنَدَ رُکبَتَیهِ اِلیٰ رُکبَتَیهِ وَوَضَعَ کَفّیهِ عَلیٰ فَخذَیهِ وَقَال: یَامُحَمدُ! اَخبِرنِی عَنِ الاسلام فَقَالَ رَسُولُ الله الاِسلامُ اَن تَشهَدَ اَن لا اله الا الله وَاَنّ مُحَمدً رّسُولُ الله وَتُقِیمَ الصّلٰوةَ وَ تُؤتِی الزَکَاةَ وَتَصُومَ رَمَضَانَ وَتَحجَ البَیتَ اِن اِستَطَعتَ اِلیهِ سَبِیلاً.

قَالَ: صَدَقتَ! فَعَجِبنَالَهُ یَسالُهُ وَیُصَدّقُهُ.
قَالَ: فَاَخبِرنِی عَنِ الایمَانِ؟
قَالَ: اَن تُؤمِنَ بِاللهِ وَمَلَائِکَتِهِ وَکُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالیَومِ الاخِرِ وَتُ،مِنَ بِالقَدرِخَیرِهِ وَشَرِهِ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قالَ: صَدَقتَ !
قالَ: فَاخبِرنِی عَنِ الاحسَانِ ؟
قالَ: اَن تَعبُدَ اللہَ کَاَنکَ تَراهُ فَاِن لَم تَکُن تَرَاهُ فَاِنَهُ یَراکَ.
قالَ: فَاخبِرنِی عَنِ السَاعَةِ؟
قالَ: مَاالمَسئُولُ عَنهَا بِاعلَمَ مِنَ السَائِلِ.
قالَ: اَخبِرنِی عَن اَمَارَاتِهَا ؟
قالَ: اَن تَلِدَ الاَمَةُ رَبَّتَهَا وَاَن تَرَی الحُفَاةَ العَرَاةَ العَالَةَ رُعَاةَ الشَاءِ یَتَطاوَلونَ فِی البُنیَانِ. ثُمَ اَنطَلَق... ! فَلَبِثتُ مَلِیّاً ثُم
قالَ یَاعُمَرُ ! اَتَدرِی مَنِ السَایِلُ؟
قُلتُ: اللہُ وَرَسُولُهُ اَعلَمُ.
قالَ: اِنَهُ جِبرِیلُ اَتَاکُم یُعَلِمُکُم دِینَکُم !

یعني مونږ یوه ورځ د رسول الله (ص) په حضور کښي ناست وچه یو سړی راغی جامې ئې ډیرې سپینې وې ویښتان ئې ډیر تورو د سفر ګرد او اثر پرې نه لیدل کیده. زمونږ هیڅ یوه هغه نه پیژانده، پیغمبر ته مخامخ کیناست زنګنونه ئې د هغه په زنګنو ولګول خپل دواړه ورغوي ئې د هغه په ورنو کښیښودل او ویې ویل:

ای محمده ! له اسلامه مې خبره کړه، رسول الله (ص) ورته وویل اسلام دا دي چه دا سې شاهدي اداکړې: اَشهَدُ اَن لاَ اِلهَ اِلا اللہَ وَاَنَ مُحَمَدً رَسُولُ اللہ او مونځ اداکړې، زکات ورکړې د رمضان روژې ونیسې او د بیت الله حج وکړې که دلارې توان ئې ولرې.

هغه وویل: صدقت رښتیادي وویل.

مونږ تعجب وکړ چه هم سوال کوي او هم تصدیق. بیائې وویل له ایمانه مې خبر کړه، رسول الله (ص) ورته وویل: ایمان دادی چه الله او د هغه په ملایکو، پیغمبرانو او د آخرت په ورځ ایمان راوړې او د قدر په خیر و شر مومن اوسې.

هغه صدقت وویل.

بیائې وویل: له احسانه می خبر کړه.

رسول الله (ص) وفرمایل احسان دادی چه د خدای بندګي دا سې وکړې لکه چه ته ئې وینې او که ئې نه وینې نو هغه خو دې وینې. هغه وویل: له قیامته می خبر کړه.

پیغمبر وویل: پوښتل شوی له پوښتونکي څخه زیات عالم نه دی.

هغه وویل: د قیامت له نښو نښانو مې خبر کړه، رسول الله (ص) وویل: چه وینځه خپله بادار ه وزیږوي او چه ووینی پښې ابل، بربنډ، اړ، میږې او اوزې څروونکي کسان چه په کورونو جوړولو او لوړولو کښې زیاتی کوي. وروسته تر دې هغه لاړ او له یو څه درنګ نه وروسته رسول الله (ص) وویل: اې عمره ! پوهیدې چه سایل څوک و ؟

ما وویل: الله او رسول ئې ښه عالم دی. رسول الله (ص) وویل هغه جبریل و، تاسو ته راغی چه دین مو درزده کړي.

له دې حدیث څخه صوفیانو دا مفهوم واخیست چه جبریل علیه السلام د دین تعلیم د اسلام ایمان او احسان په بیانولو مونږ ته راکړ او د غه درې درجې یا مرحلې ئې را په ګوته کړې څوک چه د احسان مقام ته رسیدلی وي هغه به ارومرو مومن او مسلمان هم وي. هغه چه مومن وي مسلم به هم وي مګر هر مسلم به مومن نه وي او نه هر مومن ته د احسان په درجه قایلیدلی شو.

د اسلام او ایمان فرق په قرآن کریم کښې هم په واضح ډول وینو په سورت حجرات کښې دا آیت: (قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا وَلَكِن قُولُوا أَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ الحجرات آیت ۱۴). وویل د عربو بادیه نشینانو مونږ ایمان راوړی وو ایه ! (ورته) تاسو ایمان نه دی راوړی مګر اسلام ته موغاړه ایښې ده مسلمان شوی ئې خو ایمان موزړونو ته نه دی ننوتی.

د دین له دغو درو درجو نه صافیانو درې شیه استخراج کړه: شریعت، طریقت، حقیقت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شريعت د ظواهرو د اصلاح دپاره، طريقت د ضمايرو د اصلاح دپاره او حقيقت د سرايرو د اصلاح دپاره.
لومړنۍ اصلاح په توبه، په تقوی او په استقامت لاس ته راځي، دوهمه اصلاح اخلاص، صدق او طمانيت غواړي، د سرايرو او ارواحو د اصلاح دپاره مراقبه، مشاهده او معرفت په کار دي.
علم هم د صوفيانو په نظر کښې په دوو ډولو دی: يو د وراثت علم بل د دراست علم.
تدريسي علم هغه دی چه په زده کړه او تعليم له استاذ څخه يعني د ځان غوندې انسان نه زده کيږي.
علم وراثت هغه دی چه بې ظاهري وسيلې او واسطې د خدای له لوري د عبادت او ذکر و فکر له لارې د چا په نصيب شي.
د وراثت علم صوفيانو له دې نبوي حديث څخه رايستلی دی:
(مَن عَمِلَ بِمَا عَلِمَ اَورَثَهُ اللّٰهُ عِلمَ مَالَم يَعلَم) په دې حديث کښې ويل شويدی ځوک چه په علم باندې عمل وکړي نو خدای ورته په ميراث د هغه څه علم ورکوي چه دی پرې علم نه لري. همدغه علم ته لدني علم هم وايي چه ذکر يې په دې آيت کښې شويدی: (وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا الکهف آيت ۶۵) دا علم د خضر عليه السلام په برخه وچه موسی عليه السلام ته نه و ورکړ شوی يعنی موسی عليه السلام ته د شريعت ظاهري علم حاصل و او خضر د باطني علم لرونکی وچه قصه يې په قرآن مجيد کښې راغلې ده.
صوفيان وايي: جبريل اول ځل شريعت راووړچه د ټولو دپاره دی کله چه شريعت تقرر وموند نو بيا يې حقيقت د خواصو دپاره نازل کړ چه د دين اعلی مرتبه ده. وايي چه د حقيقت تعليم اول ځل حضرت علی کرم الله وجهه ته وشو چه پيغمبرته ډېر نژدې و او له کوچنيتوب څخه يې د رسول الله (ص) تربيت حاصل کړی و.
د رسول الله (ص) په اصحابو کښې يو شمير داسې کسان وچه اهل سر ګڼل کيده لکه حذيفه يماني، سلمان فارسي او نور چه له حضرت علی (رض) سره يې خاص ارتباط درلود. د تصوف مختلفې طريقې چه نن رايجې دي سلسله يې بالاخر حضرت علی کرم الله وجهه ته رسيږي او سرحلقه دی ګڼل کيږي. اصحاب صفه يعنی هغه اصحاب چه له دنيا سره يې علايق قطع او ځانونه يې زهد وعبادت ته وقف کړي و، د تصوف د لومړۍ مدرسې بنياد دوی کيښود چه رسول الله (ص) يې پالنه کوله او ددوی د حال مراقب و، په دغه جمله کښې ځينې اهل سرهم شامل و.
د اهل سرله جملې څخه حذيفة يماني زيات معروف و او پخپله له ده څخه روايت شويدی چه حضرت عمر ابن الخطاب ده ته وويل:
اې حذيفة ! ماته ووايه چه په ماکښې څه نفاق شته او که نه ؟ دی وايي ماورته وويل: اې اميرالمومنينه ! په تاکښې څه نفاق نشته.
بلې داچه کوم وخت دا آيت د عبيدالله بن ابی له مرګه وروسته نازل شو: (وَلاَ تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا وَلاَ تَقُمْ عَلَىَ قَبْرِهِ إِنَّهُمْ كَفَرُواْ بِاللّهِ وَرَسُولِهِ وَمَاتُواْ وَهُمْ فَاسِقُونَ التوبة آيت ۸۴) او په منافقانو باندې د جنازې د لمانځه اداکول منع شوه، نو حضرت عمربه د ډېر احتياط له مخې د مجهول الحاله کسانو د جنازې له لمانځه څخه ځان ژغوره او ترڅو به حذيفة په دغسې جنازه کښې حضورنه درلود، د جنازې لمونځ به يې نه کاوه، داځکه چه رسول الله (ص) اکثر منافقين هغه ته ښودلي و او په همدغه وجه په صاحب السر ملقب و.
وايي چه حضرت علي به حذيفه له ځينو داسې خبرو څخه منع کاوه چه ځوک به پرې نشو پوهيدلی او خلک به يې په اشتباه کښې اچول.
حسن بصري چه په تصوف کښې د لومړی شخص په حيث پيژندل شويدی د غه زده کړه يې په يوه روايت له حضرت علي څخه او په بل روايت له حذيفة يماني څخه حاصله کړيده وايي چه له حذيفة يماني څخه چا پوښتنه وکړه ته ځينې داسې خبرې کوې چه مونږ له نورو اصحابو څخه نه دي اوريدلي هغه وويل: زه رسول الله (ص) په دغسې خبرو خاص کړی يم نورو به له رسول الله (ص) څخه د خير پوښتنه کوله او ما به د شر تپوس کاوه چه شرڅه شی دی، زه پوهيدم چه ترڅو شر ونه پيژندل شي خيرنه پيژندل کيږي. تصوف او د حقيقت پوهه همدغه د سرله خاوندانو سره په خاص ډول موجوده وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شریعت او حقیقت یا تشریع او تحقیق:

دصوفیانو فهم او نظر په قرآنی آیتونو او نبوي احادیثو کښې دوه جنبې ویني یوه شرعي جنبه بله دحقیقت جنبه چه یو ته تشریع او بلی ته تحقیق وایي. دوی وایي کله قرآن او سنت یو ځای شریعت بیانوی او بل ځای حقیقت یا بالعکس.

کله قرآن تشریعی جنبه ښیي او سنت ئې تحقیقی جنبه توضیح کوي یا سنت تشریعی جنبه او قرآن تحقیقی جنبه بیانوي هغه څه چه دخدای له لوري نازل شویدي رسول الله (ص) ئې په توضیح او بیان مامور دی:

(وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ سورت نحل آیت۴۴) دقرآن دا آیت: (اُدْخُلُواْ الْجَنَّةَ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ نحل آیت ۳۲) یعني پخپل ښه عمل جنت ته ننوزئ تشریعی جنبه لري او په مقابل کښې ئې د رسول الله (ص) دا قول: (لَن یَدخُلَ اَحَدَکُمُ الجَنّةَ بِعَمَلِه).

یعني ستاسو هیڅ یو به پخپل عمل جنت ته داخل نشي تحقیقی جنبه څرګندوي چه د شریعت لاربنود نه هغه او دحقیقت داده.

همدارنګه دا آیت: (وَمَا تَشَاؤُونَ إِلَّا أَن يَشَاء اللَّهُ الدهر آیت ۳۰) تحقیقی خوالري او دا حدیث: (اِذا هَمّ اَحَدُکُم بِحَسَنَةٍ کُتِبَت لهُ حَسَنَةٌ) تشریع ده چه دغه ډول کله سنت قرآن مقید کاندي او کله قرآن سنت مقید کوي. انسان باید دوه سترګې ولري یوه دشریعت دپاره بله دحقیقت دپاره. دآیت او حدیث ترمینځ معارضه هم په دغه صورت له مینځه ځي او څه اشکال نه پاتې کیږي ځکه چه جهتونه مختلف دي.

دقرآن تحقیقی برخه چه مطالعه کړو نو دتصوف او طریقت اساسي ټکي لکه: مراقبه، محاسبه، توبه، انابت، ذکر، فکر، محبت، توکل، رضا، تسلیم، زهد، صبر، ایثار، صدق، مجاهده، دنفس او هوامخالفت، نفس لوامه، نفس اماره، نفس مطمئنه همدارنګه اولیاء صالحین، صدیقین او داسي نور ټول په قرآن کښې موندلی شو، دا آیت: (وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا مزمل آیت ۸). دخدای د ذکر او له ماسوی الله سره مقاطعه په ډیروضاحت اعلاموي او ویلی شو چه تصوف له قرآن څخه اخیستل شوی او ددین له یوه رکن (احسان) سره اصلي او اساسي رابطه لري مګر فهم ئې لکه چه محی الدین ابن عربي وائي د رجال الله کار دی. په ربښتیا چه ددوی فهم او دنورو فهم ډیر تفاوت لري او شعور و ادراک ئې نورو غوندي نه وي.

عبدالقادر جیلانی دقادریه طریقې خاوند وایي ترڅو سړی داعقیده پیدا نکړي چه په ژوند کښې ټول شیان بتان (اصنام) دي ترهغه په روحانیونو کښې نه حسابیږي.

سړی باید له خپلو اعضاؤ او له خپلو حواسو نه ګوښی شي او غیر له خدایه بل وجود ته قایل نشي. ځنګه چه داصنامو او موجوداتو مفهوم ددوی په نزد له نورو نه فرق لري نور مفاهیم هم دصوفیانو په ذهن کښې بل شان دي.

دتوحید دکلمې مفهوم د اسلامي تصوف ددرې مرحلو په اعتبار په دې ډول تغیر موندلی دی.

۱- بې خدایه بل معبود نشته. (په لومړی مرحله کښې)

۲- بې خدایه بل فاعل نشته. (په دوهمه مرحله کښې)

۳- بې خدایه بل موجود نشته. (په دریمه مرحله کښې)

کوم تفسیر چه صوفیانو په کتاب الله او نبوي احادیثو کښې کړیدي دظاهري علم خاوندانو نه دي کړي او نه ئې ورته پام شویدی.

ابن عربي وائي کتاب الله او نبوي احادیث دخلکو دفهم مطابق یو ظاهري مفهوم لري چه لساني عرف پرې دلالت کوي او له دینه علاوه نور مفاهیم دهغو فهمونو د پاره وي چه باطني پوهه ئې په برخه ده.

په یوه حدیث کښې راغلي دي چه آیتونه ظاهر او باطن، حد او مطلع لري تر اوو بطنو یا اویا بطنو پوري. دایت ظاهر، عبارت دی له هغه نافع علم څخه چه صالح اعمال پرې بنادي او معقوله جنبه لري.

باطن ئې الهي عرفان او مطلع ئې هغه معنی ده چه ظاهر او باطن پکښې یو کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام غزالي هم پخپل تفسير جواهر القران کښې د مشابهو آيتونو تفسير کښې باطني مفاهيم بيانوي او بيا وايي: که ته په دغو معناګانو نه ئې پوهيدلی نو په قرآن کښې بې ظواهرو او پوستکونوره برخه نلرې لکه څاروی چه په درمنده کښې له بوسو پرته څه برخه نلري:

(فَاِن لم تَفهَمِ المَعَانِی کَذَالِکَ فَلیسَ لکَ نَصِیبٌ مِنَ القُرآنِ الّا فِی قُشُورِه کَمَالیسَ لِلبَهِیمَةِ نَصِیبُ مِنَ البُرِالّا فِی قِشرِهِ)

څنګه چه غزالي په قرآن کريم کښې ظاهر او باطن بوس او دانه بيلوي مولانا جلال الدين رومي د اسلام لوی صوفي هم پخپل کتاب مثنوي کښې د غه مطلب داسې افاده کوي:

ما ز قرآن مغز را برداشتیم   پوست را با دیگران بگذاشتیم

په شريعت باندې ډېرټينګ صوفيان په اسلامي فقه کښې په احسن او افضل عمل کوي او له رخصت نه عزيمت د ځان د پاره د پيروی وړ ګڼي يو ازې د فرايضو اداکول او له محارمو څخه اجتناب کافي نه ګڼي لايعني هم ترک کوي، په ډير لږ څه قناعت لري د نفس و هوی متابعت پرېږدي له غفلته ځان ژغوري او زړه له ماسویٰ الله نه پاک ساتي.

وايی چه امام احمد بن حنبل له امام شافعي سره ناست وچه يو صوفی (شيبان الراعی) راغی. احمد وويل غواړم له ده څخه څه پوښتنې وکړم. امام شافعی ورته وويل دا کارمه کوه، هغه وويل کوم ئې. امام احمد شيبان ته وويل که څوک څلور سجدې په څلورو رکعتونو کښې هيرې کړي څه پکښې وايې؟

شيبان وويل هغه زړه غافل دی او تاديب ئې واجب دی په دې خبره امام احمد بيخوده شو او لږ غوندې وروسته بيرته په حال شو، دا ځل ئې وويل: که څوک څلويښت پسونه لري زکات ئې څومره دی؟ شيبان وويل: زمونږ په مذهب که ستاسو په مذهب؟ ستا په مذهب خو په څلويښتو پسونو يو پسه دی او زمونږ په مذهب بنده د خپل مالک په مقابل کښې د هيڅ شي مالک نه دی: (إِنَّ اللّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الجَنَّةَ التوبة آيت ۱۱۱).

د صوفيانو اجتهاد د فقهاو له اجتهاد نه فرق لري دوی وايي د اسلام مجتهدين (ابوحنيفه، شافعی، مالک، او حنبل) دي. د ايمان مجتهدين اشعريه يعنی د علم کلام علما دي. د احسان مجتهدين صوفيان او مشايخ دي. که يو روژه دار (صايم) د ورځې څه شی وخوري د شريعت په حکم ئې روژه ماتيږي. که غيبت وکړي نو د طريقت په لحاظ ئې روژه باطله شوه، که ئې په زړه کښې ماسوی الله وګرزيده نو د حقيقت له مخې ئې روژه فاسده شوه.

يو فقيه په اسلامي احکامو کښې ظاهرته ګوري او په ظاهر عمل کوي ځکه وايي چه شروع ظاهرته ګوري، صوفي له ظاهر نه هغه خوا حقيقت په نظر کښې نيسي او حال ته ګوري ځکه ئې صاحب حال بولي. وايی چه مشهور فقيه (ابويوسف) به د کال په آخر کښې خپل مال، خپلې ښځې ته وبانښه چه يو کال ئې پوره نشي او په دغه شرعي حيله له زکات نه خلاص شي دا حکايت چا امام ابوحنيفه ته وکړ هغه وويل: دی د فقهې له علم څخه د غه استفاده کوي او له شرعي حکم نه پخپله پوهه ځان خلاصوی مګر د آخرت ضرر ئې د دنيا له ګټې څخه زيات دی.

په فقه کښې ځينې شيان شرعاً جايز دي مګر ديانتاً جايز نه دي، د فقيه او صوفي فرق په د غسې مسايلو کښې ډير زيات دی. کله يو فقيه له شرعي فرض شوي زکات نه هم ځان خلاصوي او خپل ټول مال په شرعي حيلو له ځان سره ساتي مګر يو صوفي يوازې د زکات ورکړه کافی نه ګڼي خپل ټول مال د خدای ګڼي او د خدای په لاره کښې ئې صرفوي يوازې قوت لايموت د ضرورت په حکم ځانته ساتي او بس. د رسول الله (ص) په اصحابو کښې هم ځينې ؤ چه د لکونو روپو نقد، جنس جايدادونه ئې لرل او يوازې د زکات ورکړه ئې په ځان لازمه ګڼله مګر داسې کسان هم وچه په کور کښې به ئې ډير لږ څه يا هيڅ نه ساتل او ټول مال به ئې رسول الله (ص) ته راووړ چه په جهاد کښې ئې ولګوي يائې د خدای د پاره صدقه کړي چه حضرت ابوبکر صديق به هم همد غسې کول. ابوذر غفاري پدې خبره ډيره مجادله وکړه چه يوازې د زکات په ورکړه سړی نه خلاصيږي بايد ټول مال صدقه کړي او ځانته د يوه کال له عادي او معمولي خرڅ نه زيات څه ونه ساتي. د کنزيعنې د سرو او سپينو ذخيره کول او زياته بدائي ناروا ګڼله او په دی آيت باندې ئې استناد کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ التوبة آيت ۳۴) حضرت علی به هم ویل چه له څلورزرو درهمونه لږ مال نفقه ده او تردې زیات په کنز کښې حسابیږي. سلمان فارسي هم چه څه له بیت المال څخه اخیستل هغه ئې ټول دخدای په لارکښې صدقه کول او خپله نفقه ئې په کار او کسب ځانته پیدا کوله. ده هم په کورکښې دکال له خرځ نه زیات څه نه ساتل. صوفیان دزمان او مکان داختلاف په وجه په مختلفو فرقو ویشل شویدي او هر راز خلک، هر راز خبرې او راز راز عقیدې پکښې پیدا شویدي.

ځینې په فرعي مسایلو کښې غلط شوي او ځینې په اصولو او اساساتو کښې بې لارې شویدی چه علما او فقهائې په اسلام شکمن شوي او یو نیم ئې لادکفر او الحاد په تور په مرګ هم محکوم کړیدي. اشعري، ابن حزم، امام قلعی او ابن الجوزي بغدادي دصوفیانو ډیر شدید مخالفین دي.

امام فخر رازي دصوفیانو ځینو فرقو ته بدوائی. مګر اصحاب حقیقت دلوړې درجې او مرتبې خاوندان ګڼي او فرق پکښې کوي.

ځینې نورلکه لوی مورخ ابن خلدون او ابو المظفر اسفرایني صوفیان عموماً بنه ګڼي او په ډیر بنه نظر ورته ګوري ځینو خبروته ئې بنه تاویلونه پیدا کوي او معذورئې بولي. امام غزالي داسلام لوی صوفي هم وائې ډیر صوفیان غولیدلي او لاره ئې ورکه کړیده ابو الحسن شاذلي هم ویلي دي زمونږ په طریقه کښې نجات موندونکي لږدي او هلاک شوي ډیر دي.

ابو نصر سراج پخپل کتاب (اللمع) کښې اول هغه غلطۍ په ګوته کوي چه په فروعاتو کښې مینځ ته راغلي دي او ضلالت ورته نه ویل کیږي بیا هغه غلطۍ ښیی چه په اصولو کښې پیښې شویدي او د ضلالت موجب ګرزیدلي دي لکه:

۱- د عبودیت او حریت په معنی کښې غلطیدل. ځینې لار ورکي صوفیان داسې پوه شویدي چه ترڅو دخدای او دبنده ترمینځ دعبودیت او بندګۍ رابطه قایمه وي عبد او بنده ورته ویل کیږي کله چه خدای ته وصل شي نو بیا حر او آزاد بلل کیږي او عبودیت له مینځه ځی.

۲- بله لارورکي فرقه هغه ده چه ولایت له نبوت نه افضل ګڼي او هغه ولیان چه دوی ئې مریدان او پیروان دي له انبیاو نه خدای ته نژدې او وړاندې بولي.

۳- حلولیه فرقه پدې عقیده ده چه الله تعالی ځینې اجسام غوره کوي او حلول پکښې کوي په چاکښې چه خدای حلول وکړي دهغه بشری جنبه له مینځه ځي او د ربوبیت شان او مقام ومنزلت پیدا کوي. دوی په دغه عقیده کښې دومره غلو کړیده چه چا پخپله ځان خدای ګڼل او اناالحق ئې ویلی دی.

۴- ځینې دجبر په مسئله کښې هغه حد ته رسیدلي دي چه پخپل حرکت او عمل کښې ځانته په هیڅ اختیار نه قایلیږي او له شرعي حدود نه خپل تجاوز غیر اختیاري ګڼي هیڅ راز ملامتي په ځان نه مني او هر څه کوي ځان ورته ګنهګار نه ښکاري.

۵- اباحیه فرقه هم په دغه جمله کښې ده چه د شرع تغرئې ټول کړی او حرامئې هم حلال ګرزولی دی. دوی وائې خدای زمونږ عمل ته هیڅ احتیاج نلري نو ولې پخپل نفس مشقت راولو. دغه راز خطاګانې او غلطۍ په فروعاتو کښې دي که په اصولو کښې داسلامي تصوف خپل شی نه دي او اسلامي تصوف ورته نشو ویلی.

مذهبونه په اصل کښې یو راز وي او په تطبیق کښې بل راز شي که ښه غور وکړو دفارسي مزدکی مذهب څخه اباحیت دنصرانیت څخه حلولیت، دهندي مذهب څخه د بشریت فنا، داسلامي تصوف په وروستیو مرحلو کښې اسلامي تصوف ته راننوتل او شیعي او سني تصوف هم خپلې نیلي او ریښې یو له بله سره وتړلي.

وائي بایزید بسطامي (ابو یزید طیفوربن عیسی بسطامي چه پلارئې زردشتي او نیکه ئې مجوسي و) د اتحاد او حلول طرفدار دهندوانو دتصوف دعقیدې له تاثیر لاندې راغلي و. او حسین بن منصور حلاج دمسیحیت دحلول څخه متاثر شوی ؤ چه ده (انا الحق) ویل او دهغه وینا وه (لآ اِلٰهَ اِلا اَنَا فَاعبُدُونِی سُبحَانِی مَا اَعظم شانِی) ځینې صوفیان دشریعت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظواهروته په اصلي ارزښت قايل ندي او داسې فکر کوي چه شرع حق ته د رسيدو وسيله ده کله چه عارف حق او حقيقت ته ورسيږي نوبيا وسيلې ته څه حاجت نه پاتې کيږي.
مولانا جلال الدين بلخي هم دمثنوي په دريم دفتر کښي دغه مطلب ته په شاعرانه ډول اشاره کوي او ديوه عاشق داستان رانقلوي چه خپلې معشوقې ته رسيږي او په وصل کښي ورته دخپل عشق هغه سندرې وائي چه په هجران او فراق کښې ئې دهغې په مدح کښې ويلې او دخپل عجز او نياز او اشتياق اظهار ئې پکښې کړيدی. معشوقه مقابلتاً ورته داسې وايي:

گفت معشوق اين اگر بهر من است	گاه وصل اين عمر ضايع کردن است
من به پيشت حاضر وتونامه خوان	نيست باری اين نشان عاشقان

بل ځای همدغه مفهوم داسې افاده کوي:

چونکه بامعشوق گشتی همنشين	دفع کن دلالگان رابعد ازين
هرکه از طفلی گذشت ومرد شد	نامه ودلاله بروی سرد شد

شيخ محمود شبستري هم د شرع ظواهر لکه لمونځ، روژه، حج، دمبتديانو دکمال وسيله ګڼي او داسې وايي:

ولی تا ناقصی زنهار زنهار	قوانين شريعت را نگهدار

د صوفيانو لغزشونه او انحرافات په اصولو کښې دي که په فروعو کښې ډير سببونه لري چه يومهم سبب ئې سياست او سياسی اغراض دي. دفقهاو، متکلمينو اوصوفيانو اختلاف چه اوږد تاريخ لري دسياسی، اجتماعي او اقتصادي اوضاعو او حالاتو په تقاضا کله شديد شويدی او کله ضعيف شويدی.
تصوف په ابتدا يعني دحسن بصري په زمانه کښې ساده او بسيط وچه په لږو خلکو پورې محدود ګڼل کيده. وروسته ئې دآدابو او تعليماتو دايره پراخه شوه او عموميت ئې وموند.
داحرکت په دوهم او دريم هجري قرن کښې دزهد په نامه پيژندل کيده. په څلورم او پنځم قرن کښې ئې دکشف ومعرفت نوم وموند، په شپږم او اووم قرن کښې ئې دوحدة الوجود او د اديانو داتحاد بنه پيدا کړه.

دصوفيانو مقامونه او احوال:

په تصوف کښې اووه مقامه دي او په دې ډول دي:
توبه، ورع، زهد، فقر، صبر، توکل، رضا، په هرمقام کښې صوفي ته يونفسي حالت او باطني تاثير پيدا کيږي چه (حال) ورته وايي اومجموعاً (احوال) بلل کيږي.
احوال لس دي اوهغه دادي: دمراقبې حال، دقرب حال، دمحبت حال، دخوف حال، د رجاحال، دشوق حال، دانس حال، داطمينان حال، دمشاهدې حال، ديقين حال.
دتصوف مقامونه اکتسابي دي او دسالک له اختيار او ارادې لاندې دي. مګر احوال د احساساتو او روحاني انفعالاتو اود نفسي مخصوصو کيفياتو له مقولې څخه دي چه دانسان په اختيار کښې ندي بلکه الهي مواهب دي چه دخدای له لورې دسالک زړه ته نازليږي.
دتصوف طريقې مختلفې او متعددې دي چه ضيا الدين ئې په (جامع الاصول) کښې ٧٣ ښيي. جهاد يا مجاهده، شيخ نيول، او دنفس معرفت ددغو ټولو طريقو مابه الاشتراک يعنی مشترک څيزونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجاهده په لغت کښې د محاربې په معنی ده او په شرع کښې د خدای له دښمنانو سره محاربه ده، مګر د صوفیانو په اصطلاح له نفس اماره سره محاربه، جهاد او مجاهده بلل کیږي. د خدای په لار کښې مجاهده خدای ته د رسیدو ډیره مهمه لاره او وسیله ده.

الله تعالی وایی: (وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا العنکبوت آیت ۶۹) سبل د سبیل جمع ده دلارې او طریقې په معنی چه د طریقت قرآني اساس ئې بللی شو. له نفس سره مجاهده ډیرې لارې لري چه باید شیخ او پیر ئې د مرید د پاره انتخاب کړي لکه چه یو ډاکټر د هر مریض د پاره د هغه له حال سره مناسب بیله بیله دوا تعیینوي.

د تصوف له (۷۳) طریقو څخه ځینې طریقې چه زیات عمومیت لري دا دي.

۱-قادریه:

دا طریقه چه د جنید د مکتب له اغیزې لاندې ده موسس ئې شیخ عبد القادر جیلاني دی چه په ۴۷۰ هجري کښې زیږیدلی او په ۵۶۱ هجري کښې وفات شویدی.

په شرعي علوموکښې د تبحر خاوندو او په ۱۳ علوموکښې ئې لاس درلود.

فقهي فتوی به ئې د امام شافعی او امام احمد بن حنبل په مذهب ورکوله. ډیر کرامات ده ته منسوب دي ځینې ئې دا دي:

دده له مور څخه حکایت شوی چه دروژې په میاشت کښې به ده د ورځې د مور تی نه روده، یوه ورځ چه د خلکو د پاره مشتبه وه چه روژه به وي که بوزه نو د عبد القادر د مور نه تپوس وشو هغې وویل تی نه روي، وروسته بیا خلکو ته معلومه شوه چه هغه ورځ د روژې ورځ وه.

په خپله له ده څخه حکایت شوی چه په افق کښې ئې ډیر عظیم نور ولید چه یو صورت پکښې ښکاره شو او ویل ئې:

اې عبد القادره! زه ستا رب یم او ټول محرمات مې تاته حلال کړه ده ورته وویل: ورک شه! لعینه! لدې وینا سره هغه نور په تورتم بدل شو او هغه صورت لوګی وګرځید چه بیائې ورته وویل:

ما په دغه ډول اویا تنه د طریقو خاوندان ګمراه کړیدی مګر تا نجات وموند. چاله ده نه پوښتنه وکړه ته څنګه پوه شوې چه دا شیطان دی؟

شیخ عبد القادر وویل د حرامو په حلالولو.

وایي یوه ورځ په نظامیه مدرسه کښې ډیر فقها او علما راغونډ او شیخ عبد القادر د قضا و قدر په باب خبري کولې یو مارله چت څخه راولوېد او ټول وتښتیدل یوازې دی په کوټه کښې پاتې شو او خپلې خبرې ئې کولې مار راغی دده له کمیس لاندې ننووت او په جسد باندې ئې تیر شو له ګریوانه ئې راووت بیائې له غاړې نه تاو شو او دده په حال کښې هیڅ تغیر رانغی ماربیرته ځمکې ته ښکته شو او مخامخ ورته په لکۍ ودرید څه غږ ترینه پورته شو مګر څوک چه له کوټې نه دباندې و، یو هم پوه نشو چه څه ئې وویل، مار بیرته لاړ او خلک کوټې ته رانوتل. له ده څخه ئې د غږ په باب پوښتنه وکړه چه څه ئې ویل؟

شیخ په جواب کښې وویل مار راته وویل ما ډیر اولیا په دغه شان ازمویلي دي مګر ستا ثبات مې په بل چا کښې نه دی لیدلی. ما ورته وویل ته یو چینجی یې چه قضا او قدر دی په حرکت راولي او بس.

د شیخ عبد القادر تصوف سني او طریقه ئې په اعتدال، د سنتو په متابعت، حب الخیر، شفقت او تواضع بنا ده.

نهه څلویښت اولاده ئې درلوده چه یوولسو تنوئې دده لار ښودنه او طریقه د آسیا په غرب او مصر کښې خپره کړه.

ده له فقیرانو، صغیرانو، وینځو او غلامانو سره مینه او ناسته ولاړه درلوده مګر د دولت اعیانو او اکابروته هیڅکله نه پاڅیده او نه د وزیر او د سلطان دروازې ته ورته.

۲- رفاعیه:

دا طریقه سید احمد رفاعی ته منسوبه ده چه په ۵۸۰ هجري کښې وفات شویدی. بني رفاعه د عربو یوه قبیله ده چه رفاعی ورته منسوب دي. په ده کښې رحم او شفقت ډیر زیات و او په حیواناتو هم ډیر زهیرو حتی چه کله به ئې د جامو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیښکه پیښو ویده وه او دلمانځه وخت به شو هغه پیښکه به ئې له خپلو جامو نه غوڅه کړه او چه له لمانځه نه به بیرته راغی او پیښو به پاخیدلی وه نو بیرته به ئې په جامو پورې وګنډله.

۳- احمدیه:

احمد بدوي دمصر له لویو اولیاؤ څخه دی چه په ۵۹٦ هجری کښې زیږیدلی دا احمدیه طریقې مرشد دی.
دی هم لکه احمد رفاعي شافعي مذهب ؤ.او دتعلیماتو اساسي ټکي ئې دادي:
د نورو په مصیبتونو به نه خوشحالیږئ، ګوندیو ته به ضررنه رسوئ، دبدیو مقابله په احسان سره کوئ. وږي به مړوئ، بربنډ به پټوئ. په یتیمانو اوضعیفانو به مهرباني کوئ.

٤- دسوقیه:

د ابراهیم دسوقی طریقه ده چه په ٦٧٦ هجری کښې د ٤٣ کالو په عمر وفات شوی دی طریقه ئې په خالص سني تصوف بنا وه او په کتاب او سنت ئې تمسک درلود ، شریعت ئې اصل او طریقت ئې فرع ګاڼه، دټولو خلکو مینه ئې دکمال ضروري شرط او دمرید راس المال شمیره.

۵- اکبریه:

دا طریقه ځکه اکبریه بولي چه شیخ الا کبر (محی الدین ابن عربي) ته منسوبه ده، دا شیخ د وحدة الوجود د مدرسی زعیم (٦۳۸هجری) دی چه له وحدة الوجود څخه وحدة الادیان ته رسیدلی دی. ده ټول دینونه یودین ګاڼه چه هغه دمحبت دین دی. د ده طریقه په څلورو صفتونو او خصلتونو بنا وه. چپوالی، ګوښه توب، لوږه، بیخوبی. په دې طریقه کښې پیرخپل مرید ته امرکوي چه له ټول صغیره او کبیره ګناهونو څخه توبه وباسي پس له هغه ئې بیا لاس په لاس ږدي او ورته وایي چه خپلې سترګې پټې کړه. اول درې ځله پیرلا اله الا الله وایي او مریدئی اوري بیائې مرید وایي او پیرورته غوږ نیسي.
وروسته بیا تبرکاً دا آیت شریف وایي: (اِنّ الذینَ یُبَایعُونَکَ)تر (اَجراًعَظِیماً) پورې پس له هغه مرید هره ورځ سل ځله استغفار، سل ځله لا اله الا الله دزړه په حضور او د معنی په پوهه وایي، بیا سل ځله (الله) ورپسې سل ځله دا درود وایي:
(اللّهُمَّ صَلِّی وَسَلِّم وبَارِک علی'سَیدِنَامُحَمَدِ النَبی الأُمی اِمَامُ الهُدی'وَعَلی'اٰلِهِ وَصَحبِهِ وَسَلِم عَدَدَکُلِّ ذَرَةٍ الَف الف کَرَةٍ)

٦- شاذلیه:

ددې طریقې مؤسس او باني ابومدیان و او ابولحسن علی شاذلي تونسي په خلکو کښې رایجه کړه ځکه ئې شاذلیه بولي. علی شاذلی په ۵۹۳ هجري کښې زیږیدلی او په ٦۵٦ هجري کښې وفات شوی دی.
دا طریقه د علم په طلب او ډیر ذکر بنا ده او مشقت او مجاهده پکښې ډیره بنت نلري.

۷- مولویه:

دمولانا جلال الدین رومي طریقه ده چه په ٦۷۲ هجري کښې په قونیه کښې مدفون شو. ده رقص او موسیقي د ذکر په طریقه کښې شامل کړه او عالمی شهرت ئې وموند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸- نقشبندیه:

شیخ بهاؤالدین محمد بن محمد بخاري چه په شاه نقشبند مشهور و ددې طریقې پیشوا دی. دی بخارا ته نژدې په یو ه قریه کښې په ٦١٨ هجري کښې زیږیدلی او په ۷۹۱ هجري کښې وفات شویدی. نقشبندیه طریقه هم لکه شاذلیه سهله او اسانه طریقه ده چه په مرید باندې ډیرې سختی نه راولي.

۹- چشتیه:

موسس ئې معین الدین چشتي دی.

د تصوف درې مدرسې

۱- د زهد مدرسه ۲- د کشف او معرفت مدرسه ۳- د وحدة الوجود مدرسه.

لومړی مدرسه:

یعنی د زهد مدرسه چه اساس ئې په زهد ایښودل شویدی.

ددې مدرسې ممیزات دادي:

دخدای عبادت، د دنیا له خوندونو او آسوده ژوند سره متارکه، دصالحو اسلافو متابعت او محبت.

په دې مدرسه کښې سړی له خلکو څخه گوښه په خلوت کښې د خدای عبادت کوي. حسن بصری (۱۱۰ هجری) دځینو په قول ددې مدرسې لومړی فرد دی چه زهد ئې دخدای له خوف سره دخپل حیات په هنداره کښې منعکس کړیدی.

رابعة العدویة:

چه په (۱۳٥ یا ۱۸۰ یا ۱۸٥ هجري) کښې وفات شویده زهد ئې دخدای په محبت بنا دی څکه ئې ویل: (وَعِزّتِکَ مَاعَبَدْتُکَ خُوفاًمِن نارِکَ وَلَارَغبَةً فِی جَنّتِکَ بَل کَرامَةً لِوَجهِکَ الکَرِیم وَمُحَبَةً فِیکَ).

ترجمه: ستا په عزت مې دې قسم وي چه ستا د اور له ډاره مې عبادت درته ندی کړی او نه مې دجنت لپاره. بلکه زه ستا دمکرم مخ (رضا) دپاره او ستا دمحبت په خاطر چه راسره دی عبادت کوم.

ددې له وینا ؤ څخه یوه داهم ده چه ویل به ئې: (زمونږ استغفار هم استغفار ته محتاج دی).

ابن خلدون د زهد مدرسه دتصوف دبنا اساس بولي او ددغه مذهب په تشریح او تحلیل کښې وایي:

انسان له نورو حیواناتونه په ادارک بیلیږي او اداراک ئې په دوه ډوله دی:

یو د علومو او معارف ادارک د یقین، گمان، شک، اووهم په صورت. بل د احوالو ادراک لکه خوشحالی، غم، قبض اوبسط، رضا، غضب، صبر، شکراو داسې نور، دا دوه ادراکه اوس دعقلي حیات او شعوري حیات په نامه یادیږي.

د ابن خلدون له بحث څخه دا نتیجه په لاس راځي چه دصوفیانو طریقه په وجداني حیات او دنفس په محاسبه بنا ده چه په دوی کښې ذوقونه او نفسي مواجد پیداکوي او له عقلی حیات نه ئې لرې باسي. د دوی مواجید هغه اذواق او احوال وي چه معروف الفاظ ئې سم تعبیرنشي کولی.

صوفیان وایي انسان دوه ولادته لري یو ولادت ئې هغه دی چه دمورله گیډې څخه دنیا ته راځي او (ثاني ولادت) دیوه نوي معنوي خلق په پیداکولو صورت مومي یعني دژوند دطریقې او سلوک بدلون دتصوف په اصطلاح(ولادت) ثاني دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې مدرسې ځينې غړي:

ابراهيم بن ادهم:

په (۱٦۱ هجري کښې متوفی) دی دبلخ شهزاده و او دوهم زېږنده (ولادت ثانی) يې په دې ډول وه: يوه ورځ ښکارته وتلی و او خپل آس يې په ښکارپسې ځغلاوه چه ناڅاپه ئې دا غيبی غږ ترغوږه شو: ابراهيمه اياته دهمدې دپاره پيدا ئې؟ لږه شيبه وروسته ئې دغه غږ بيا واوريده او د هاتف دغوآوازونو دده حال منقلب کړ، خپل آس او شاهانه لباس ئې يوه شپانه ته وسپاره دهغه کوڅوئې واغوست د بيت الله شريف لورته ئې مخه کړه دنيا ته يې شا کړه مګر دومره کسب اوکار به ئې کاوه چه ځانته حلاله روزي پيدا کړي او نور وخت په طاعت اوعبادت تيرکړي.

سفيان ثوري:

په (۱٦۱ هجري کښې متوفی) دی په ټوله معنی دعلمي شخصيت خاوند و او په زهد کښې ئې نظريه په دې ډول ؤ: زهد دانه دی چه سړی زيږ او شړل لباس واغوندی او دښو خوراکونو له خوړلو ځان وساتي بلکه اميدلنډول او له طول امل نه ځان ژغورل زهد دی. يو سړی به مال لري او زاهد به وي بل به فقير وي او دنياته به ئې رغبت زيات وي يعنی زاهد به نه وي.

دی پدې عقيده وچه ډېر وښځولرل زهد ته څه زيان نه رسوي ځکه چه علی رضی الله تعالی عنه په اصحابو کښې ډير زاهد و مګر څلور ښځې او نولس مينځې ئې درلودې. ده حکام بدګڼل اوله وينا وڅخه ئې يوه داده: ((که يو شرطي يعني امنيت ساتونکی (دنن په اصطلاح پوليس) موو ليد چه ويده دی اولمونځ ترې قضاء کيږي لمانځه ته ئې هم مه پاڅوئ ځکه چه بيا خلکو ته زيان رسوي اوخوب ئې بهترد‌ی.)) له ده څخه چا پوښتنه وکړه که څوک خپل عيال ته دنفقې پيدا کولو دپاره په کار لګياوي او جماعت ته په حاضريدلو سره په هغه کارکښې نقصان پيښيږي نو څه به کوي؟ سفيان ثوري ورته وويل: مونځ دې بې جماعته وکړي.

ذوالنون المصري:

(په ٦۹۷ هجری کښې متوفی) دی که څه هم د زهد د مدرسې غړی دی مګر لومړی سړی دی چه په تصوف کښې ئې دمعرفت دمذهب تمهيد کيښود. دی دسنتو په متابعت کښې ډير ټينګ و اودشريعت له احکاموئې هيڅکله غاړه نه غړوله مګر معاصرين ئې پرې بدګمانه و او دکفر و زنديقتوب تور پرې ولګول شو ځکه دی دمحاکمه کيدو دپاره له مصر نه بغداد ته راوستل شو او خليفه متوکل ته ئې وړاندې کړ.

هغه ترينه پوښتنه وکړه هغه څه چه ستا د کفر و زنديقتوب په باب ويل شويدي ته پکښې څه وايې: ذوالنون غلی و او هيڅ ئې نه ويل دوهم ځل بيا ترينه دغه پوښتنه شوه، ده وويل: که انکاروکړم نومسلمانان به مې دروغجن کړی وي او که تصديق ئې وکړم نوځان به مې دروغجن کړی وي څه چه ستا زړه وي هغه وکړه زه دځان دپاره څه مرسته نه غواړم هماغه وچه متوکل پريښود او دغه تورئې بې حقيقته وګاڼه.

ابو القاسم جنيد:

(په ۲۹۷ هجری کښې متوفی) دی اصلاً د نهاوند دی او په عراق کښې زيږيدلی دی.

دی له ډيرو لويو صوفيانو څخه و او دکتاب الله او سنت ډير ټينګ پيرو و چه په تصوف ئې هيڅ راز طعن نه دی ويل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه حریت چه ځینې نور صوفیان ئې په معنیٰ کښې غلط شویدي دی پرې ډیرښه پوهیدلی دی او ډیره ښه معنی ئې ورته پیدا کړیده. دی وایی له ماسویٰ الله نه د زړه آزادي حریت دی.

اتحاد او حلول:

کله چه عربي امت د غزاګانو او فتوحاتو په وسیله له نورو ملتونو او مدنیتونو سره ګډون وموند اوله نورو ثقافتونو سره اشنا شو نو مسیحی، زردشتی، مزدکي او مانوي مذهبونو شیعي حرکت او د هند بودائي تعلیم فنا (نیروانا) په اسلامي تصوف کښې خپله اغیزه ښکاره کړه او ځینې نوې خبرې را پیدا شوې.

په دریم هجري قرن کښې د اتحاد او حلول فکر مینځ ته راغی چه د کشف و معرفت مدرسې او بیا د وحدة الوجود د مدرسې باعث او موجب ئې ګڼلی شو.

ابن خلدون وایي: دصوفیانو اسلاف دحجاب د کشف طرفدار نه و، دوی حتی الامکان د اتباع او اقتداء رعایت لازم ګاڼه او له شرعي حدود څخه ئې تجاوز نه کاوه مګر څه چه را تلونکي دي هغه راځي او څوک ئې مخه نشي نیولی.

دین او مذهب هم د تطور لاره په مخکښې لري او له یوه حاله بل حال ته انتقال کوي.

په ۲٤۳ هجري کښې حارس محاسبي خپله رساله (رعایة حقوق الله) د طریقت د معاملو په توضیع کښې ولیکه چه د خدای په مینه کښې استغراق د خدای د معرفت وسیله ګڼي د دې رسالې خطي نسخه په اکسفورډ کښې موجوده ده چه مارګریت سمیت په ۱۹٤۰ م کښې نشر کړه.

امام غزالي د کشف او معرفت د مدرسې زعیم د خپلې طریقې په وضع کولو کښې په همدغه رساله تیکه کوي. هغه فلسفي اساس چه د کشف او وحدت نظریات پرې بنادي خلاصه ئې دا ده:

الله تعالی(ج) انسان په خپل صورت پیدا کړ (خَلَقَ آدَمَ عَلیٰ صُورَتِه) او انساني نفس دومره وسعت لري چه عالم پکښې ځای شي، په عالم احاطه وکړي او د کل صورت پکښې متجلی شي. الله تعالی په ټولو شیانو احاطه لري او په ده باندې هیڅ شی محیط ندی.

عالم انسان کبیر دی او انسان عالم صغیر دی.

علی ابن ابیطالب چه ځینې نور مورخین ئې لومړی شخص ګڼي چه رسول الله (ص) په تصوفي علم خاص کړیدی د غه مفهوم ته په دې ډول اشاره کوي:

وتحسب انک جرم صغیر وفیک انطوی العالم الاکبر

وایي چه عارف په هرځای او هرڅه کښې خدای لټوي او په دغه ریاضت کښې هغه استعداد او هغو حقایقو ته هم متوجه کیږي چه د ده په نفس کښې دي. دلته ده ته یو دهشت او غرور پیدا کیږي او له خولی ئې (انا الحق) او (مَافِی الجِهَةِ غَیرَالله) را اوزي چه حلولیون همدغه کسان دي.

غزالي وایي: نصرانیانو مسیح ته وکتل او د خدای نور ئې پکښې په ځلیدو ولید لکه څوک چه ستوری په هنداره یا اوبو کښې ووینې او ګمان وکړي چه ستوری په هنداره یا په اوبو کښې دی.

دوی هم په همدغسې غلطۍ کښې واقع شوه او وغولیدل. حلولیون د هندوانو د تصوف د فنا او اتحاد له تاثیر لاندې هم راغلي دي. او فکر کوي چه په نفس کښې د حیواني قواؤ وژل اوله بشري طبیعت نه ځان خلاصول فنا ده.

په اسلامي تصوف کښې د کشف او وحدت د تعلیماتو په ضمن کښې د اتحاد او فنا مذهب او د اجنبي تصوف اغیزه لیدلی شو مګر بیا هم اسلامي صفت پکښې غالب دی چه اساس ئې دغه قدسي حدیث دی: (مَاتَقَرَّبَ اِلیَ عَبدِی بِشَئٍ اَحَبَّ اِلیَّ مِن اَدَاءِ مَا فَرَضتُ عَلَیهِ وَلَایَزَالُ عَبدِی یَتَقَرَّبُ اِلَیَّ بِالنَّوَافِلِ حَتیٰ اُحِبُّهُ وَمَن اَحبَبتُهُ کُنتُ لَهُ سَمعاً وَبَصَراً وَیَداً وَ مُؤَیِّداً) د اتحاد او حلول صحیح تفسیر د اسلامی تصوف په نظر هغه دی چه (جمع او فرق) ورته وایي.

هرکله چه پاک خدای انسان په خپل صورت خلق کړ او انساني نفس په عالم باندې د احاطې قابلیت ومونده نو فنا له هغو صفاتو نه ځان خلاصول دي چه د کشف و معرفت مخه نیسي او د هغو صفاتو ساتل دي چه انسان د هغه علم اهل ګرزوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه خدای يې ورپه برخه کوي. د اتحاد او حلول په خاوندانو کښې بايزيد بسطامي دهند وانو د تصوف په فنا متاثر شوی ؤ او حسين بن منصور حلاج د مسيحت د حلول د عقيدې له اغيزې لاندې راغلی و.

بايزيد بسطامي (ابويزيد طيفوربن عيسیٰ بسطامي) په يوه قول په (٢٦١ هجري) کښې او په بل قول په (٢٣٤ هجری) کښې مړشوی دی چه پلارئې زردشتي او نيکه ئې مجوسي ؤ ده ته ډير اقوال منسوب دي چه دصوفيانو په اصطلاح (شطحات) بلل کيږي. (لااله الا انا فاعبُدُونِي سُبحَانِي مَا اَعظَمَ شَانِی).

ابومغيث حسين بن منصور حلاج په ٢٤٤ هه په فارس کښې زيږيدلی او په عراق کښې لوی شويدی. مشايخ دده په باب اختلاف لري، ډيرئې ردوي او لږئې قبلوي. دی دحلول او اتحاد ډير مشهور سړی دی. دده آرا غامض او تياره دي، د انالحق وينا ده ته منسوبه ده، ځيني کسان ئې له دغي وينا سره بيا هم د اولياؤ او شهداؤ په ډله کښې شميري.

غزالي دده يو شمير اقوال راغونډکړيدي اودی ئې دسلفو او د اهل ستنو له عقيدې نه مخالف ګڼلی دی.

دخليفه مقتدر په عصر کښې چه دده د محاکمه کولو د پاره دفقهاو يو هيئت تشکيل شو دهيئت ځينو غړو دده د تکفير په فتوی کښې خپل تردد ښکاره کړ ځکه چه آرا ئې غامض و او يقيني فتوی صادرول ئې مشکل کار وګاڼه.

وايي چه دده محاکمي موجب څلور اتهامه و:

١- دده تعلق له قرمطيانو سره.

٢- انا الحق ويل.

٣- دده په الوهيت باندې دده دپيروانو عقيده.

٤- دحج په باب دده مخالف نظر.

وايي حلاج دبيت الله الحرام حج فرض نه ګاڼه او په پټه ئې قرمطي مذهب ته خلک رابلل.

دده له وژل کيدو نه نهه کاله وروسته قرمطيانو په مکه حمله ويوړه او حجر الاسود ئې ترينه په اختطاف ويووړ. حلاج په کيميا او تصوف کښې دتاليفاتو خاوند دی او معتزله ؤ ته ئې تمايل درلود.

ده ځان په غموض او خفا کښې په کراماتو او خارق العاده اعمالو کښې پټ کړی و چه دده نفوذئې په بغداد کښې دده په اتباعو باندې قوي کړي و. حتی چه دخدايي حد ته ئې رسولی و او دده په باب دا عقيده موجوده وه چه مړه ژوندی کولی شي، غيب کشفولی شي او په يوه وخت کښې ځان څو ځايه ښکاره ولی شي.

ده د فارسيت سياسي غايه درلوده او په سِر و اخفا کښې ئې د شيعه ګانو جمعيت سره قوي ارتباط درلود. ده له محی الدين ابن عربي او دهغه له شاګرد ابن فارض څخه دري قرنه دمخه د اديانو د وحدت آواز اوچت کړ او په دغه برخه کښې دقدامت حق لري.

دوهمه مدرسه (کشف و معرفت):

ددې مدرسي زعيم ابو حامد محمدبن محمد غزالی په (٤٥٠ هه) کښې زيږيدلی په طوس او نيشاپور کښې ئې خپل تعليم سرته رسولی دی. په شرعي علومو په منطق فلسفه او حکمت کښې استاذ شو اودبغداد په نظاميه مدرسه کښې دمدرس په حيث ومنل شو.

دهغه وخت خلک ئې فضليت، فصاحت، دقت او حسن کلام ته حيران پاتې وه او ډير شهرت او محبوبيت ئې په برخه شو.

څلور کاله ئې په دغه ډول تيرکړه. او د ٤٨٨ هجري د رجب په مياشت کښې يو شاذ او نادر نفسی حالت ور ته پيښ شو چه ژبه ئې کلي شوه او له تدريس نه محروم شو. قوائې ضعيفه شوه او طبيبانو ئې څه علاج ونشو کړی.

دی له بغداد نه شام ته لاړ. دوه کاله ئې هلته په عزلت، خلوت، رياضت او مجاهده کښې دنفس په تزکيه تير کړه او دخدای په ذکر ئې زړه روښانه شو. بيا له دمشق نه بيت المقدس ته لاړ او پس له هغه دحج په نيت حجاز ته لاړ او يوولس کاله ئې خلوت ته دوام ورکړ چه په دغه موده کښې ورته ډيرڅه کشف شوه. دی وايي دتصوف لومړی شرط له ماسویٰ الله نه د زړه کامله تصفيه او بيا دخدای په ذکر کښې کامل استغراق او بالاخره په کلي ډول فنافی الله کيدل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی دانساني ادراک په باب وايي: انسان ته خدای د ادراک قوه ورکړه چه د موجوداتو له عالمه اطلاع حاصله کړي. ادراک د غه اطلاع د حواسو په وسیله حاصلوي او انسان له محسوساتو سره اشنا کوي. له ادراک نه پورته ذوق دی چه انسان ته د تمیز قوه بخښي او په د غه وسیله له محسوساتو نه علاوه ذوقي پوهه پیدا کوي چه هغه د حس په وسیله لاس ته نه راځي له ذوق نه پورته عقل دی چه د امورو ادراک پرې کیږي او د واجباتو، مستحیلاتو، جایز او ناجایز پیژندګلوي ورپورې تړلې ده.

په دغه سلسله کښې هغه څه چه په عقل پیژندل کیږي په ذوق ئې پیژندنه نشي کیدی او هغه څه چه ذوق یې درک کوي حواس ئې درک نشي کولی، په حواسو کښې هم څه چه په غوږونو محسوسیږي سترګې ئې احساس نه کوي او هغه چه په سترګوئې احساس کوو په لمس ئې نشو کولی. له عقل نه پورته یو بل حالت دی چه هلته نورې سترګې د غیب لیدو ته پیدا کیږي او دغه ادراک د عقل د پاره میسر ندی.

همدغه ادراک دی چه د کشف او معرفت په نامه یادیږي او له عقله ماورا دی.

دغزالي په نظر ښتیني خوبونه (رویای صادقه) هم د غیب کشف دی. د جذب هغه خاص حالت چه انسان پکښې لکه مړی بیهوشه وي او احساس ترینه زایلیږي د غیب کشف پکښې صورت مومي. هغه قوه چه د غه د معرفت ادراک پرې ولاړ دی غزالی ترینه په قلب او روح یانفس تعبیر کوي.

د علم په باب وايي: علم یا تعلیمي وي یا الهامي.

تعلیمي علم هغه دی چه په اکتسابي ډول د زده کړی په وسیله حاصلیږي او الهامي علم د قلب په تصفیه او د نفس په تزکیه د الهی کشف په وسیله پیدا کیږي. تعلیمي علم له خارج څخه د حواسو له لارې راځي او الهامي علم په قلب هغه وخت تجلی کوي چه قلب له ماسوی الله نه بالکل پاک شي او د خدای په ذکر او فکر کښې دومره مستغرق شي چه د فنافی الله مرتبې ته ورسیږي.

دغزالي په نظر د رسول الله (ص) لومړنی حال همدغه و چه د حرا غارته ئې مخه وکړه او په خلوت کښې ئې دزړه معامله یوازې له خدای سره وه. غزالي په دې عقیده دی چه په حس باندې کامل اعتماد په کار نه دی او محسوسات له غلطۍ نه په امان کښې نه دي.

سترګې او نظر چه یوه قوي حاسه ده دیوه دیواله سیوری ځای په ځای ولاړویني او غیر متحرک ئې ګڼي مګر یو ساعت وروسته د تجربې او مشاهدې له مخی معلومیږي چه له پخوانه اوږد شوی او حرکت ئې کړیدی. دا حرکت دفعتاً او بغتتاً ندی پیښ شوی بلکه په تدریج سره ذره ذره امتداد مومي او په ځای نه دریږي مګر نظرئې په هر آن کښې احساس نشي کولی او ظاهراً ورته ځای په ځای ولاړ ښکاري. یو ستوری زمونږ په نظر کښې دیوه دینار په اندازه کوچنی معلومیږي مګر هندسي دلایل داثابتوي چه له ځمکې نه لوی دی.

دغه ډول حکمونه چه د حس حاکم ئې کوي د عقل حاکم ئې ردوي او غلط ئې ګڼي. چه د حس دغه حال دی د عقل به ولې نه وي، کیدی شي چه له عقلي ادراک نه هغه خوا یو بل حاکم وي چه د عقل احکام رد کړي او غلطي ئې څرګنده کړي.

تاسو په خوب کښې څه وینئ او هغه درته واقعیتونه ښکاري چه هغه وخت پکښې هیڅ شک نلرئ کله چه راویښ شئ پوهیږئ چه هغه محض خوب او خیال وا و حقیقت نه و نو هغه څه چه په ویښه د عقل او حس په وسیله واقعیت ګڼئ ښائي په تاسې یو بل حالت راشي چه د غه ویښتوب مو نسبت هغه حالت ته لکه خوب داسې وي او هغه وخت پدې پوه شئ چه د غه عقلي توهمات مو هم یو خوب او خیال و.

صوفیان فکر کوي بلکه یقین لري چه که څوک له خپلو دغو حواسو څخه غایب شي داسې حالات پرې راځي چه د غه معقولات ورته واهي معلومیږي.

ښایي چه مرګ هم دغسې حالت وي او نسبت دغه ژوند ته هغه ویښتوب وي لکه چه رسول الله (ص) فرمایي: (النـاسُ نیام فاذا ماتُوا انتبهوا) خلک ویده دي کله چه مړه شي نو راویښیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام غزالي فلاسفه په دري ډلو ويشي: دهريون، طبيعيون، الهيون. دهريون هغه بولي چه دخالق له جودنه منکر دي او په ماده ايمان لري. ددوی په زعم عالم هميشه بی صانعه بنفسه موجوددی چه تل ترتله حيوان له نطفې نه او نطفه له حيوانه پيدا کيږي.

طبيعيون هغه دي چه دخدای (مدبرقوت) په وجود قايل دي مگر له بعث او حسابه منکردي، جنت، دوزخ او قيامت نه مني.

نه طاعت ته په ثواب قايل دي او نه معصيت ته په عذاب.

الهيون ديونان فلاسفه دي چه ارسطوئي وروستی امام دی او ابن سينا اوفارابی ددوی فلسفه عربي ته رانقل کړيده.

غزالي په تفصيل سره دالهيونو په فلسفه کښې بحث او مناقشه کوي.

په طبيعی فلسفه کښې هغه څه قبلوي چه له دين سره منافات نلري او په ځينو معينو مسايلو کښې ورسره مخالفت لري چه هغه ئي په خپل کتاب (تهافت الفلاسفه) کښې بيان کړي دي. په همدغه کتاب کښې غزالی د الهيونو (١٧) مسئلې ردکړيدي. کله چه حجت الاسلام امام غزالی له فلاسفه وسره خپله مناقشه پای ته رسوي، دباطنيه فرقې له تعليماتو سره منافشه شروع کوي.

باطنيه فرقه دفاطمي شيعه گانو يوه شعبه ده چه د دعوت شاته ئي سياسي غايه موجوده وه، ده د باطنيه فرقې په ردکښې پنځه کتابه (المستظهري، حجة الحق، مفصل الخلاف، الدرج المرقوم بالجداول، القسطاس المستقيم) وليکل چه له ډير دقت نه ئي پکښې کاراخيستی دی او ډير موفق دی.

يو امريکائی عالم (پروفيسرماکدونالد) په خپل کتاب (تطورالفقه الاسلامی) کښې وايي: غزالي تراوسه څنگه چه ښائي هغسي چاندی پيژندلی.

دقاهرې په جامعه کښې دتصوف استاذ (دوکتورمحمد مصطفی حلمي) دغزالی په باب وايي: دغزالي په شخصيت کښې جلال او قوت په مذهب کښې عمق او دقت په هغه اندازه وچه په خپل عصر او په خپلو معاصرو ئي استيلاوکړه او هغه اهل سنت ئي هم له تاثيرلاندي راوستل چه وروسته ترده راغلل.

هغه لوی خطرچه تصوف ته پيښ واو د زنديقتوب په نظر ورته کتل کيده يعنی له کتاب الله اونبوي سنتو څخه مخالف بلل کيده اودشيعه گانو، اسماعيليانو اوباطنيه ؤعقايد پکښې را گډشوي و غزالی ئي مخه ونيوله او تصوف ته ئي نوی ژوند وبانبه، دخلکو ښه نظرئي ورته جلب کړ او دصحيح دين په ښودنه ئي ددين لوی خدمت سرته ورساوه.

ده وکړی شوه چه خپل رسالت دايمان په حرارت دبيان په بلاغت د اسلوب په براعت اوقوي حجت پای ته ورسوي او اوسني تصوف ته نجات ورکړي.

دريمه مدرسه (وحدة الوجود):

دتصوف وروستی مرحله د وجدة الوجودمرحله ده. په دي مرحله کښې مجازي وجود په مطلق حقيقي وجود کښې محوه کيږي او ماسوی الله له مينځه ځي ځکه دتوحيد دکلمي معنی هم تغييرکوي يعنی لا موجودالا الله د لااله الا الله معنی ده.

د وحدة الوجود معتقدين وايي ماده بالذات وجود نلري اوله الهی قوت څخه وجود کسبوي.

دمادي وجود، د ادراک په قوي پوري تړلی دی که ادراک نه وي دموجوداتو تفصيل او تحديد به هم نه وي دوی وايي همدغه الهی قوه ده چه له ذري نه نيولی ترلوړو موجوداتو پوري هرشي کښې وجود لري نو الله تعالی په هرشي کښې دی او هرشی له ده څخه دي.

ابن دهقان ددغه مذهب په تائيد کښې وايي ددي مذهب دخاوندانو وينا دحکماؤ له هغه قول سره شباهت لري چه درنگونو په باب وايي د رنگونو وجود په رڼا پوري تړلی دی که رڼا ورکه شی درنگونو موجوديت له مينځه ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه دمحسوساتو وجود دحسي ادراک د وجوداغیزه ده لکه چه دمعقولو او موهومو موجوداتو وجود دعقلي ادراک وجود سره تعلق لري اهل وحدت له علم الیقین نه پورته دعلم دپاره په دوو لوړو مرتبو قایل دي چه علم عین الیقین اوعلم حق الیقین ئي بولي.

علم یقین داسې مثال لري لکه مسلمان چه د تواترپه وسیله دا علم لري چه په مکه کښې بیت الحرام وجودلري چه کعبه ئي بولي.

هغه څوک چه بیت الله ته لاړشي او په سترګوئې ووینی نوعلم الیقین ئې په علم عین الیقین بدل شي اوعقلي علم شهودي علم شي او ذوق هم پیدا شی.

همدغه سړی چه دکعبې له لیدو وروسته الله تعالی (ج)ته ددي بیت په نسبت اوکیفیت اونوروخصوصیاتو کښې عمیقه او دقیقه پوهه حاصله کړي نودغه علم ته دحق الیقین علم ویل کیږي.

په بل عبارت علم الیقین هغه دی چه له صحیح دلیل څخه لاس ته راشي او څه شک اوشبه پکښې نه وي. دعین الیقین علم هغه دی چه په کشف اومشاهده پیدا شي، دحق الیقین علم هغه وخت په زړه کښې ځای نیسي چه سړی دمشهود امر په باطن اوحقیقت پوه شي. په دغه اساس په یوه شي باندې علم لرل درې مرتبې لري چه په هره مرتبه کښې یقین موجودی مګر لومړی یقین نسبي دی، دوهم افتراضي اودریم حقیقي دی چه اهل وحدت ئې مطلوب ګڼي.

دوی په نورو مواردوکښې هم دغو درو مرتبو ته قایل دي. دتقوی په باب وایي: دعوامو تقوی په ژبه ده، دخواصوتقوی په ارکانو ده او خاص الخاصه تقوی د زړه ده.

همدارنګه: دعواموصدق په اقوالو کښې، دخواصو صدق په افعالوکښې اوخاص الخاص صدق په احوالوکښې دی.

ایمان هم درې ډوله دی: دقول تقلیدي ایمان، دفهم استدلالي ایمان، دمعرفت شهودي ایمان چه مقلدین ئې په خوله اظهار کوي د استدلال خاوندان یې په ذهن کښې تصورکوي او عارفان ئې د اسرارو له مخې مشاهده کوي.

دمقلدمؤمن، دمستدل مؤمن او دعارف مؤمن ایمان دمومن به په لحاظ یو دي او اختلاف ئې یوازې په ظهورکښې دي.

محی الدین ابن عربی: (په ٦٣٨ هجري کښې متوفی)

د وحدة الوجود د مدرسې زعیم همدغه شخص دی چه مستشرقین ئې د اسلام ددیني فلسفې لوی عبقری مفکر ګڼي اوصوفیانو ده ته دشیخ الاکبر لقب ورکړی اوپه خاتم الاولیا هم شهرت لري.

دبحث اوتحقیق خاوندان وایي: ددې مدرسې له برکته داسلامي تصوف تعلیمات تکمیل شوه اوتصوف قایم بالذات علم وګرځیده چه په اروپا ، آسیا او افریقا کښې ئې دصوفیانو طریقې خپرې کړې.

ددې مدرسې پیروان عالم دالله تعالی دوجود مظهربولي چه ددې مظاهروشاته یو حقیقت موجود دی لکه چه دعقایدو او مذاهبو ترشاهم یوحقیقت وجودلري چه له نفس سره جهاد اوخدای ته د رسیدو وخته ده. کوم حقیقت چه دشریعت له ظواهرونه هغه خوا ځای لري هغه دشریعت باطن اودشریعت روح دی.

دوی دالله تعالی په کتاب اونبوي احادیثو کښې ظاهر او باطن ته قایل دي. په همدغه اساس ابن عربي قرآن کریم تفسیر کړی چه له ظاهري تفسیرڅخه پکښې انکارنه دی شوی مګرنوي مفاهیم ئې کشف کړي دي. علم حقیقت ئې له علم شریعت څخه بیل ګڼلی چه شریعت لکه ونه او حقیقت ئې میوه بولي.

شعراني په دغه موردکښې وایي: تصوف په شرعی احکامو باندې دعمل کولو لب لباب دی.

چاچه تصوف مستقل عمل ګڼلی اوچاچه دشرعي احکامو له علم سره یو ګڼلی دواړه حق په جانب دي اومثال ئې داسې دي لکه چه علم معاني اوبیان څوک مستقل علم بولي او څوک ئې دنحوي دعلم جز بولي.

ابن عربي وایي: دکتاب الله او سنتو تفسیرچه متصوفین ئې کوي له ظاهر څخه ئې عدول مه ګڼئ آیت اوحدیث دخلکو دفهم مطابق یو ظاهري مفهوم لري چه انساني عرف پرې دلالت کوي مګر دنورو فهمونو دپاره نورمفاهیم هم پکښې شته چه دهرچا نه نصیب کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یوه نبوي حدیث شریف کښې هم راغلي دي چه هرآیت ظاهراوباطن، حداو مطلع لري تراووا ویا بطنو پورې. په دغه اساس یو ولي اوصوفي هیڅکله نوی شریعت نه راوړي بلکه په کتاب او سنت کښې نوی فهم راوړي.

ابن عربي ټول موجودات په حقیقت کښې یو شی ګڼي چه هغه دالله تعالی حق وجود دی یعني الهي حقیقت ئې حقیقي وجوداو عالم ئې دهغه ظاهري وجودګڼي.

دابن عربي د وحدة الوجودنظریه داهل کلام له ډیرومناقشو سره مخامخ شوه چه دی ئې دخپل اصلي وطن اندلس په پریښودو مجبورکړچه لومړی مصرته لاړه او بیاله یوه ښارنه بل ته اوله بل نه بل تـه ورتـه چه بالاخره پـه دمشق کښې په ۶۳۸ هجري کښې وفات شو.

ابن عربي خپل مذهب دکامل انسان په حقیقت بنا کړچه د ده دتعلیماتو محوروه. دی په هرموجودکښې دخدای یو صفت متجلي ګڼي او یوازې انسان ته په دې حیث قایل دی چه ټول الهی صفات پکښې هغه وخت تجلی کوي چه دخدای پاک په وحدانیت مستغرق شي، دانسان کامل اصطلاح له همدې څخه نشات کړیدی او اساسی ځای ئې نیولی دی.

ابن عربي په خپل کتاب (فصوص الحکم) کښې وایي: چه حضرت محمد (ص) پـه انساني نوع کښې اکمل موجود دی ځکه اول او آخر ګڼل شویدی. دی هغه وخت نبي وچه آدم بین الما والطین ؤاو وروستی نبي (خاتم النبیین) هم دی دی.

پدې کتاب باندې ډیرو متصوفوفیلسوفانو شرحې اوتعلیقات لیکلي دي، پـه دغـه موضوع کښې لـومړنی مرجع همدغه کتاب دی.

دا مشهوره ده چه ابن عربي په سلهاؤکتابونه اورسالې لیکلي دي چه ډیرئې ضایع شویدي. دا دوه کتابونه (فصوص الحکم - فتوحات مکیه) د وحدة الوجود اوانسان کامل په موضوع کښې لومړنی اهمیت لري.

ځینې مسیحي ایمه ؤ د ابن عربي پیروي کړې او دانتې دایطالیا مشهورشاعر پـه خپلو ځینو اثاروکښې دده مدیون اومرهون دی.

دغه اسلامي صوفي فیلسوف په خپلو ځینو نظریاتو اروپائي فیلسوفان مسحورکړي چه پـه راس کښې ئې (سپینوز - اوهګل) واقع دي.

سید جمال الدین افغان هم دابن عربي دوحدة الوجود دمدرسې له اتباعوڅخه دی اودهغـه شاګرد شیخ محمد عبده هم ددغې مدرسې پیرووچه (رسالة الواردات) لومړی تصنیف ئې په وحدة الوجود باندې بحث کوي.

شیخ محی الدین ابن عربي دوحدة الوجود د مدرسې باني د یوه واحد حقیقت پـه لټه کښې هغه حد تـه ورسیده چه د ټولو ادیانو حقیقت ئې یوګڼه او ددوستۍ اومحبت د واحد دین اساس ئې کیښود چه ډیرپیروان ئې پیدا کړه.

دده دا بیتونه دغه مفهوم ډیرښه اداکوي چه وائي:

لقـد کنـت قبـل الیـوم انکرصـاحبی | اذا لـم یکـن دینـی الـی دینـه دان
فاصـبح قلبـی قابـل کـل صـورة | فمرعـی الغـزلان ودیرالرهبـان
ومعبـد اوثان وکعبـة وطـایف | والـواح تـوراة ومصـحف قـرآن
ادیـن بـدین الحـب کیـف توجهـت | رکائبـه فللحـب دینـی وایمـانی

مطلب ئې دادی چه پخوا بـه کـه دچادین زما دین تـه نزدې نـه و نـو زه بـه ئې منکر وم. اوس مې زړه هرصورت قبلوي دغزلانورشو، درهبانانودپاره دیر، دبتـانو دپاره معبد، دطواف کوونکو دپاره کعبـه، دتـورات الـواح اودقرآن مصحف زما زړه دی. هرې خواته چه مخه کوم دین می دمحبت دین دی او ایمان مې هم محبت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولانا جلال الدين:

دمولويه طريقي خاوندهم دمذاهبو او اديانو اساس يوګني او په دي عقيده دی چه دمختلفو او راز راز دينونو داختلافاتو منشا دا ده چه دمختلفو هيوادونو اوښارونو خلک يود بل په ژبه نه پوهيږي او په لفظي نزاع اخته دي.
دامفهوم مولانا په مثنوی کښي په سمبوليک او کنائي شکل دمختلفو هيوادونو د څوتنو په هغه داستان کښي بيانوي چه يو دينار ئي درلود او ټولو غوښتل چه انګور پري واخلي مګر په ژبه سره نه پوهيدل اوهرچا په خپله ژبه دانګورو مفهوم په بل لفظ اداکاوه او په الفاظو ئي مشاجره وه ترڅو چه يو داسي سړی پيدا شو چه د ټولو په ژبو پوهيده او دغه منازعه ئي دانګورو په اخيستلو له مينځه يوړه.
تصوف د مختلفو مدارجو اومراحلو په طی کولو دمعرفت او حقيقت ډير پلټونکی ځانته جلب او جذب کړه او ډيرنوي معاني او مفاهيم ئي په اسلامی عرفان کښي خوندي کړه. دوکتور(مارتن لنبخر) چه دقاهري په جامعه کښي دانګليسی استاذ و او داسلام له منلو وروسته(ابوبکر سراج الدين) وبلل شو وايي: زه تصوف اسلام ته جذب کړم کوم مثالي انسانيت او ذوقي اداب چه په تصوف کښي شته په بل ثقافت کښي نشته.
ابن سينا د بلخ مشهور فيلسوف هم په اخرعمر کښي تصوف ته مخه کړه او په خپل کتاب (اشارات) کښي ئي مهمه برخه تصوف ته تخصيص کړه.
ابن خلدون مشهورمورخ اولوی محقق په تصوف کښي د ډير عميق او دقيق نظرخاوند چه عرفاني اونفسياتي تحليلات ئي ډيرلوړمعنوی ارزښت لري تصوف ته په ډير درانه نظر ګوري.
دغه راز ډير محققين او مفکرين په هرځای او هروخت کښي شته چه تصوف دانساني کمال د روحي رشد او عرفاني بلوغ اساس بولي او ډيره نمانځنه ئي کوي.

دتصوف په باب ځيني آيتونه او حديثونه:

په تيرو بحثونو کښي داڅرګنده شوه چه تصوف له قرآن کريم اوسنتو څخه ماخوذ دی حتی چه تصوفي اصطلاحات هم په قرآن کريم کښي ذکر شويدي داهم وويل شوه چه د تصوف شروع له زهد او رياضت څخه شويده او د رسول الله(ص) اصحاب لکه حضرت علي او اصحاب صفه په زهد ډير ټينګ و او پخپله حضرت محمد (ص) په روژونيولو ، په لوږوتيرولو او په قيام الليل دزهد او رياضت عملي تعليم خپلو اصحابو ته ورکړيعنی دتصوف لومړی مدرسه دصدر الاسلام يادګاردی او د پيغمبر زاهدانه اوفقيرانه ژوند ئي ډيربنه سرمشق دی.
ځيني آيتونه اونبوي احاديث چه دتصوف ددوهمي مدرسي (کشف ومعرفت) بنيادټينګوي او دباطني علم اساس بلل کيږي هغه هم په خپل ځای کښي توضيح شوه لکه دعلم وراثت او دعلم لدني بحث اومذاکره يانور. د دغو ټولو اسنادو اومدارکو په نظر کښي نيولو سره ځيني نور آيتونه اونبوي احاديث هم شته چه ظاهراً له تصوف سره معارض ښکاري يا تصوف مقيد کوي.
د تصوف په لومړی مدرسه يا په زهد او نوافلو باندي څه اساسي اعتراض نشته تش دومره ويل پکاردي چه زهد اونفلي عبادت بايد د اهل وعيال دنفقي پيداکولو اونورو حقوقو مانع نشي اونه دځان د دومره ضعيفه کولو موجب شي چه د ژوند فعاليت غيرممکن وګرځوي، په دغه مورد کښي داحديثونه د ذکر وړدي:
١- عبدالله بن عمر وايي: زه له رسول الله(ص) سره مخامخ شوم هغه راته وفرمايل: هغه ته ئي چه وايي شپه په قيام او ورځ به په صيام تيروي، ماوويل هو ! ماداويلی دي. رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: (فقُم ونَم وَصُم وَ افطِر وَصُم مِن کُلِ شَهرٍثَلاثَةَ اَيَامٍ وَلَکَ مِثلُ صِيَامِ الدَهرِ) يعنی دشپي يا څيږه او ويده کيږه روژه کيږه او بوزه کيږه. په هره مياشت کښي دري ورځي روژه نيسه اودابه ستادپاره داسي وي لکه د ټول عمر روژه. ابن عمر په ځواب کښي وويل: زما طاقت تردي زيات دی. رسول الله (ص) وويل نويوه ورځ روژه اوسه او دوه ورځی بوزه ابن عمر بياوويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

تردي مي هم طاقت ډيردی. رسول الله (ص) وویل یوه ورځ روژه اویوه ورځ بوزه اوسه، دا د داؤدعلیه السلام روژه او اعدله روژه ده.

هغه بیا خپل طاقت زیات وښود اورسول الله (ص) وفرمایل تردي افضله اوبهتره بله روژه نشته.

۲- ابي برده روایت کوي چه د عثمان بن مظعون ښځه د رسول الله صلی الله علیه وسلم بیبیانو ته ورغله چه هیئت او سر و صورت ئي ښه نه و بیبیانو ورته وویل: په تاڅه شویدی؟ په قریشو کښي خو ستا ترمیړه بډای سړی بل نشته، د عثمان ښځي وویل هغه شپه په قیام تیروي او ورځ په صیام مونږ له هغه نه څه بهره نه لرو. بیبیانو چه د غه حال رسول الله (ص) ته وواېه اوهغه عثمان بن مظعون ولیده ورته ئي وویل: آیا تا په ماپسي اقتدا نده کړي؟ هغه وویل څنګه نه؟ رسول الله (ص) وفرمایل: ته د ورځي روژه اود شپي ولاړ اوسي؟

عثمان وویل هو ! زه همدغسي کوم. رسول الله (ص) وفرمایل:

(لاتصفعل اِنّ لِنَفسِکَ عَلَیکَ حَقّاًوَاِنّ لِجَسَدِکَ عَلَیکَ حَقّاً وَاِنّ لِاَهلِکَ عَلَیکَ حَقّاً فَصَلِّ وَنَم وَصُم وَاَفطِر) یعنی داسي مکوه، نفس دي هم په تاحق لري جسد دي هم دربانديِ حق لري او اهل دي هم. مونځ هم کوه، ویده کیږه هم روژه هم نیسه، اوخوره ئي هم. د کشف ومعرفت په باب دا سوال پیدا کیږي چه دصوفیانو دا ادعاچه دوی دتصوفي مقاماتو او احوالو په طی کولو د غیب په کشفولو بریالي کیږي له ځینو آیتونو سره ظاهرآموافقت نلري ځکه چه دغیب علم په خدای پاک پوري خاص دی او پیغمبرانو ئي هم دعوه نده کړي په دغه مورد کښي دا آیتونه دملاخطي وړدي:

۱- (قُل لاَّ أَقُولُ لَكُمْ عِندِي خَزَآئِنُ اللّهِ وَلا أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلا أَقُولُ لَكُمْ إِنِّي مَلَكٌ إِنْ أَتَّبِعُ إِلاَّ مَا يُوحَى إِلَيَّ - سورت انعام آیت ۵۰) ترجمه: و وایه نه وایم تاسوته ماسره د خدای خزائي دي او نه وایم په غیب پوه یم او نه وایم تاسو ته زه ملک یم پیروي نه کوم مګر د هغه څه چه وحی راته شوي وي.

پدي آیت شریف کښي دا څرګنده شویده چه پیغمبرعلم غیب نلري مګرچه وحی ورته وشي، په وحی کښي دغیب کشف شامل دی او کیدی شی چه د وحی په وسیله غیبي پوهه ورته حاصله شي.

۲- (وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لاَ يَعْلَمُهَا إِلاَّ هُوَ - سورت انعام آیت ۵۹) دغیب کلی ګاني له خدای سره دي بې له هغه څوک پرې نه پوهیږي.

۳- (قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ -سورت نمل آیت۶۵) ووایه ! په غیب باندې نه پوهیږي هغه چه په اسمانو نو او په ځمکه کښي دي مګر الله پاک (ج).

ټول علم غیب یوازي دخدای پاک سره دی او بالذات په ده پوري اختصاص لري چه بې له الهي خښه چاته نه نصیب کیږي. که الله پاک وغواړي نوځیني بندګان په ځینو غیبي چاروخبروي مګرهغه ته عالم الغیب نه ویل کیږي.

له علم الغیب څخه مراد محض ظن اوتخمین نه دی او نه هغه علم چه له قراینو اودلایلو څخه حاصلیږي بلکه هغه علم دی چه په قرینه او دلیل بنا نه وي. نو دغه راز آیتونه چه په ظاهري نظر دصوفیانو د کشف دشهودله اصل سره منافي معلومیږي څه حقیقی مخالفت ورسره نلري. څوک باید دافکر ونکړي چه تصوف له قرآنی نصوصو سره مخالفت لري اوضد واقع کیږي.

دغه راز آیتونه چه دغیب علم په الله تعالی پوري مختص ګڼي اوهغه آیتونه چه د وحی او الهام په صورت غیبي پوهه د خدای له لوري انسان ته د ورکړي قابله ګڼي یوله بله مخالفت نلري او څه تضاد پکښي نشته. الهامي پوهه چه خدای پاک ئي دچا په برخه کوي او په دغه وسیله انسان ته کشف الغیب حاصلیږي معنی ئي دانه ده چه انسان ته بالذات علم الغیب حاصل شویدی بلکه دالهي علم یو جزئي پرتو دی چه انساني قلب ته د القا په صورت رانقل شویدی او عالم الغیب یوازي خدای پاک دی اوبس. الله تعالی ته هم عالم الغیب په دي لحاظو وایو چه غیبي شیان زمونږ له نظر دي که داسي نه وي نوخدای پاک ته خو هیڅ شی غایب نه دي. لکه چه تصوف دزماني په تیریدو مختلف مراحل طی کړي او په هئیت او ماهیت کښي ئي تغیرراغلي دي. په صوفیانو کښي دغه بدلون لاډیر محسوس او مشهوردی. دنن ورځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

صوفي دپرون صوفي ندی بلکه ضدئې دی. دپرون صوفي ابراهيم ادهم دجاه وجلال په بها صوفي توب حاصل کړ او دنن صوفي په صوفيتوب ددنيا جاه وجلال حاصلوي.
هغه صوفي ځان دخدای باله او داصوفي خدای دځان بولي. صوفي اوس هم وړينې جامې اغوندي او پخوائې هم اغوستې مګر دا وړی او هغه وړی ډير تفاوت لري.
چيرته هغه شړله زيږه صوفيانه شړی چيرته دا د پت نفيس وړين ټوکر چه بې بډايانوئې بل څوک نشي اغوستی. تصوف او متصوف هم لکه دنن او پرون صوف وګڼئ. صوفي اوس هم پرهيزګار دی او پخوا هم و خو دا پرهيزاو هغه پرهيز يونشو ګڼلی. هغه له خوندنو او مزو پرهيز کاوه او دی له بيخونده اوبې مزې شيانو پرهيزکوي.
هغه ځان خواراوه او دی خلک خوار وي. دپرون صوفي دباطن صفائي درلوده او د نن صوفي په زيره او جامو کښې ظاهري صفائي لري. هغه صوفي هم بی نيازه و او دی هم. خو هغه داستغنا په وجه او دی د ډيرې غنا په وجه. هغه دنيا ته شاکړه او ده په شاکړه.
پخوا به هم صوفيانو زياته شپه په وينه تيروله او اوس ئې هم تيروي. فرق تش همدومره دی چه هغوی په طاعت او عبادت مشغول و او دوی په عيش وعشرت.
دپرون صوفي لکه ديوجانس دسکندر سيوری په خپل سر نه قبلاوه. مګردنن صوفي ئې ظل الله ګڼي او سرپرې ماتوي.
لکه چه اوسنی صوفي پخوانی صوفي نه دی دغه شان ددې وخت مسلمان هم دصدر اسلام له مسلمان څخه ډيره فاصله لري. يو زراوڅو سوه کاله بعد څه کمه فاصله نه ده. اسلام اوس ديوه رسم په حيث رسيمت لري او په عمل کښې ئې يوازې د عبادت جنبه عادت ګرځيدلی ده. داسلام شرعي احکام په اسلامي ممالکو کښې د تطبيق وړ نه ګڼل کيږي او اصلي منظوريې له نظره لويدلی دی او اوسنی دماغ داسې فکرکوي چه اسلام بايد په اجتماعي نظام کښې څه دخل ونلري او د ذهني موجود په حيث ديوې غيرعملي مفکورې په شان وساتل شي.
اوس په اکثرو اسلامي هيوادو کښې اسلام سياسي شوی او د سياسي مصلحت پاسباني کوي.
ډيرو اجتماعي نظامونو د تاريخ په اوږدو کښې دسياسي اسلام حمايت او رعايت ترهغه حده کړی چه دسياست او سياسي اقتدار په ګټه و او هغه اسلامي روحيه ئې وخت په وخت وژلې ده چه شخصي اقتدار او مطلق العنانۍ سره ئې مبارزه او مجادله کوله.
هو ! دا روحيه ئې وژله مګر د دغه مرحوم جنازه ئې په ډيرو شاندارو مراسمو خاورو ته سپارله او معابد او زيارتونه ئې ډير مجلل جوړول له اجيرو او مجبورو ملايانو ئې دخپلو غوښتنو مطابق فتواګانې اخيستې او تحريفونه، بدعتونه ئې په اسلام کښې راګډول.
همدغه وجه ده چه په اسلامي احکامو کښې متضاد حکمونه او متناقض مسائل راپيدا شوه او دصحيح او غلط تشخيص له هرمشکل نه مشکل کارشو. سربيره په دې ځينو نامسلمانه استعماري قدرتونو اسلام کښې له جعل کاری نه کاروا خيست او جعلي اسلام ئې په مختلفو شکلونو استعمال کړ، او د عمل په ژبه ئې دا وښودله چه له اسلام نه هرڅه جوړيدی شي حتی چه دکفر خدمتګارهم.
قاديانيت دجعلي اسلام يوه ځرګنده نمونه ده.
په اسلام کښې دمختلفو فرقو او مختلفو عقايدو ظهور د خلفای راشدينو نه وروسته شروع شو او علاوه د شيعه او سني په دښمنۍ نورې فرقې او تفرقې هم راژوندۍ شوې.
د امويانو او عباسيانو په وخت کښې دمتکلمينو معارضې او مجادلې تودې شوې او په دوو فرقو وويشل شوه چه يوه معتزله او بله اشعريه يا اشاعره بلل کيږي. دهمدغو دوو فرقو له اختلافونو او استدلالونو څخه علم کلام را پيدا شو او عقلي دلايل په ديني مسايلو کښې دخيل شوه چه شک او ترديد ورسره ملګرې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

متکلمین او علم کلام

د لومړي هجري قرن په آخرکښې مسلمانان په اسلامي عقایدو کښې لکه: توحید، تجسم، جبرواو اختیار، معاد، ایمان، اوداسې نور له اختلافاتو سره مخامخ شوه او د هري عقیدې خاوندانو د خپلې عقیدې د اثبات دپاره عقلي دلایل پیداکول ددغو دلایلو راغونډول، تصنیف او تالیف دعلم کلام اساس وګرځید او د عقل مذهب په دین کښې حلول اونفوذ وکړ چه معتزله پکښې ډېره درنه برخه لري.
حسن بصري چه د تصوف د لومړۍ مرحلې په سرکښې واقع دی او د دغې مدرسې مدرس ئې بللی شو یو شاګرد ئې (واصل بن عطا) ؤ چه په یوه مسئله کښې له خپل استاذ څخه مخالف شو او په مسجد کښې ئې له هغوی نه بیل ځای ونیوه او اعتزال ئې اختیار کړ چه استاذ ئې هم دده په باب وویل: (اعتزل واصل عنا) یعني له مونږ څخه لیرې او بیل شو.
واصل بن عطا لږ څه وروسته دخپل استاذ د یوه بل شاګرد عمروبن عبید په ملګرتیا یوه نوې ډله جوړه کړه چه (معتزله) وبلل شوه یعني دصوفي شاګرد معتزلی شو او معتزله فرقه ئې تاسیس کړه. معتزله دمتکلمینو هغه فرقه ده چه (قدر) نفی کوي او له اهل سنتو سره په ځینو عقایدو کښې اختلاف لري او له کراماتو او معجزاتو څخه منکردي او په آیتونو تاویل اوتفسیر نه مني.
لومړۍ مسئله چه واصل بن عطا له خپل استاذ حسن بصري سره پکښې اختلاف درلود هغه دګناهګارانو مسئله وه. مسلمانان هغه وخت په دغه مسئله کښې دوه ډلې ؤ. ځینو دکبیره ګناهونو مرتکبین کافرګڼل ځینو نورو فاسقان بلل. حسن بصري ورته منافقان ویل چه له کافرانو نه ډیر بتر دي.
واصل بن عطا پدې خبره کښې له استاذسره مخالف شو او ویې ویل دوی نه کافران دي او نه مؤمنان بلکه بین المنزلتین منزلت لري او د کفر او ایمان په برزخ کښې واقع دي.
دغه دمنزلت بین المنزلتین عقیده معتزله ؤ په نورو مواردو کښې هم تطبیقوله لکه دحضرت عثمان (رض) قتل، دجمل اوصفین واقعه اوداسې نور او دا د امویانو په ګټه وه ځکه دوی هم داعتزال مذهب ته راواوښتل.
دمعتزله فرقې په مقابل کښې دمتکلمینو بله فرقه اشعریه یا اشاعره وه.
دمعتزله فرقې یو تن (ابوالحسن بن اسماعیل اشعري) چه له عبدالوهاب جبائی معتزلی څخه ئې زده کړه کوله دیوه خوب دلیدو په وجه له معتزلي مسلک څخه وګرځیده او له فلسفي روش څخه ئې درسول الله صلی الله علیه وسلم سنتو او اسلامي سني فقهې ته مخه کړه او حنبلي مذهب ئې اختیار کړ. ده وویل زه دخدای په کلام او د پیغمبر په سنتو یعني په هغو احادیثو تمسک کوم چه اصحابو او دحدیثو امامانو ئې روایت کړی دی.
اشعریه یا اشاعره فرقه همدغه ابوالحسن اشعري ته منسوبه ده چه دمعتزلی شاګردو. اشعریه په حقیقت کښې دکوم نوي مذهب پیروان ندي بلکه په اصولو کښې د هماغه څه تابع دي چه اصحاب حدیث پرې عقیده لري.
علم کلام چه دیني مسایل په عقلي دلایلو ثابتوي او معتزله فرقې د اشاعره ؤ په خلاف دغه علم ته ډیره توسعه ورکړه منبع ئې یوناني فلسفه ده.
متصوفین دغه علم ته ښه نظر نلری او ځینې ئې که ډیر مخالف ندي ډیر موافق هم ندي. امام غزالی وایي: (قرآنی دلایل لکه غذا هر انسان ته ګټه لري او دمتکلمینو دلایل لکه دوا رنځورانو ته په کار ده.)
ابن عیاد هم علم کلام لکه طب ګڼي او وایي چه د صحت خاوندان ورته څه ضرورت نلري.
جنید مشهور صوفی یوه ورځ په لاره تیریده چه هلته متکلمین ناست و. ده پوښتنه وکړه چه دغه کسان څوک دي؟ چا ورته وویل داهغه خلک دي چه دخدای تنزیه او له عیبونو څخه پاکوالی په عقلی دلایلو ثابتوي. جنید وویل: (نَفیُ العَیبِ حَیثُ یَستَحِیلُ العَیبَ عَیبُ) یعني هلته چه عیب محال دی د عیب نفی کول هم عیب دي. امام شافعي او امام احمد حنبل د سني فقهې امامان سفیان ثوري او اکثرو محدثینو دغه علم تحریم کړی دی. لکه چه دمخه وویل شوه په اسلام کښې معارضې مباحثې او مناظرې څه په خپله دمسلمانانو ترمینځ او څه دنورو مذاهبو د پیروانو له خوا د امویانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوعباسیانو په وخت کښې زیاتې شوې او کله چه خلیفه منصور عباسی فرمان صادر کړچه دجهان علمي او مذهبي کتابونه په عربي ترجمه شي نو د دغو ترجمه شووکتابونو په لوستلو دمسلمانانو په عقایدوکښې نوره ګډوډي هم راغله او دعقلی دلایلو بازار تود شو.
د هارون الرشید پلار خلیفه مهدي چه دنوي پوهې ټینګ طرفدار و امر ئې وکړچه اسلامي پوهان داسلام دمخالفانو په ځواب کښې کتابونه ولیکی او اواعتراضونه ئې ردکړي. ابو الهذیل (۱۳۱ -۱۳۵ هجري) لومړی سړی وچه په علم کلام کښې ئې ډیر کتابونه ولیکل.
له خلیفه مهدي نه وروسته د ده ځوی هارون الرشید په ابتداء کښې علم کلام ته په بدنظر کتل او له متکلمینو سره ئې رویه سخته وه مګر ډیر ژرئې په یوه خبره علم کلام ته نظرښه شو او علاقه ئې ورسره پیدا شوه. خبره دا وه چه د هند مهاراجا یو خط هارون الرشید ته ولیکه چه مسلمانانو خپل دین د توري په زور په خلکو ومانه که چیرې داسلام اثبات په دلیل اوبرهان کولی شئ یوعالم راولیږئ که زه ئې قانع کړم اسلام به ومنم.
هارون الرشید یوفقیه ورولیږه او دمهاراجا له خوا دمباحثې دپاره یونماینده وټاکل شوچه فقیه ته ئې وویل: ستاسو خدای قادر دی که نه؟ فقیه وویل: هو ! دخدای یوصفت قدیردی اوکامل قدرت لري.
د مهاراجا نماینده وویل: آیادځان په شان خدای پیدا کولی شي او دخپل مثل په پیدا کولوهم قادر دی.
فقیه جواب ورکړ: چه دا راز بحثونه په علم کلام پورې ارتباط لري اومونږ دغه علم اودغه راز بحثونه بدګڼو.
هارون الرشید وروسته تر هغه متکلمین راوغوښتل او له هغوی څخه ئې معمربن عباد دمباحثې دپاره انتخاب کړ. د مامون په وخت کښې علم کلام د رشد مرحلې ته ورسیده او معتزلهؤ د هغه مهارت له مخې چه په فلسفه کښې ئې درلود دعلم کلام علمي تدوین ته ئې اقدام وکړ.
وائي چه دعلم کلام نوم په دغه علم ځکه کیښودل شوچه یو مهم بحث پکښې په الهی کلام باندې ؤاو ډیرې خبرې په دې باندې کیدې چه قرآن مخلوق دی او که نه دی؟ ځینې وائي دفلسفې یو شاخ منطق دی اوکلام دمنطق په معنی دی ځکه د دغه علم نوم علم کلام کیښودل شو.
دا نوم د عباسیانو په وخت کښې وضع شواو پخوا ترهغه کلامي بحثونه (فقه الدین) بلل کیده د (فقه العلم) په مقابل کښې. په همدغه وجه د امام ابو حفیفه هغه کتاب چه په عقایدوکښې ئې ولیکه (فقه الاکبر) و بلل شو.
په علم کلام کښې دمعتزله او اشعریه ځینې مهم اختلافونه دادي:

وعد او وعید:

الله تعالی په خپل کتاب کښې ډیرځایونه نیکانوته د اجر اوثواب وعدې ورکړیدي اوګنهکاران ئې په زجراوعذاب ویرولي دي دعدالت تقاضاهم همدغه ده چه انسان دخپلو ښو کارونو په مقابل کښې ښه ومومي اود بدیو سزا ورکړه شي.
دلته دا سوال پیدا کیږي چه آیا په خدای باندې د وعدو او وعیدونو په ځای کول حتمی اولازمي امردی که نه دی. یعنی الله تعالی په عدل مکلف دی او که نه؟
اشاعره وایي: په خدای پاک باندې څه واجب ندي هغه فعال مایشا دی اوکولی شي چه مطیع او فرمانبردارته سزا ورکړي. اوګناهګارته د رحم اوکرم له مخې اجرونه ورکړي.
امام غزالي وایي: الله تعالی ټول کافران بخښلی شي او ټول مومنان معذب کولی شي ځکه چه خدای دټولو او د هرڅه مالک دی نو په خپل ملک کښې هر راز تصرف کولی شي.
معتزله وایي: دمطیع دپاره اجر او دګنهګار دپاره (چه بې توبې مړشي) زجر په خدای واجب دي. که داسې نه وي نو پاک خدای به په هغه څه کښې چه مونږ ته ئې خبر راکړی دروغجن شي (العیاذبالله) او دا کار له عدل او انصاف نه هم لرې دی
او پاک خدای په خپله وایي: (وَمَا أَنَا بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ سورت ق آیت ۲۹) یعنی زه په بندګانو ظالم نه یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احباط:

په طاعت او عبادت او په ښو عملونو د ګناهونو محوه کيدل او په بدو عملونو او ګناهونو د نيکئ له مينځه تلل هم اختلافي مسئله ده.

په قرآن کريم کښې دا هم راغلي دي: (إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّـيِّئَاتِ سورت هود آيت ۱۱۴) يعنى حسنات سيئات له مينځه وړي.

له بلې خوا دا هم په قرآن کريم کښې ځوځايه راغلي دي چه شرک او کفر نيک عملونه ضايع کوي او له مينځه ئې وړي مګر په صورت حجرات کښې د پيغمبر په حضور کښې په جګ او از غږيدل او داسې په جهر غږيدل لکه چه مسلمانان په خپلو مينځو کښې يو له بل سره غږيږي دا کار هم چه شرک او کفر ندی بيا هم د اعمالو احباط (حبط کول) او ضايع کيدل ګڼل شويدي.

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَن تَحْـبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنتُمْ لَا تَشْعُرُونَ الحجرات آيت ۲) معتزله د احباط په باره کښې وايي: که يو مومن د ګناه مرتکب شی نيک عمل ئې له مينځه ځي او په ښه عمل باندي بد عملونه مينځل کيږي نو په دغه اساس د انسان وروستی عمل اعتبار لري او محوه شوی عملونه په حساب کښې نه راځي.

اشاعره وايي: ښه او بد عملونه ځانته حساب لري او محاسبه کيږي. د اشاعره و په نزد د تيرو اعمالو محوه کيدل يعنى (احباط) په انکار پوري ارتباط لري او د کفر په صورت کښې پخوانی نيک عملونه له مينځه ځی او بس. لکه چه الله تعالی فرمايي: (لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ سورت زمر آيت ۶۵) يعنې که ځوک مشرک شي نو عمل ئې حبط کيږي. اشاعره وايي: د مومن او مسلمان حسنات او سيئات تلل کيږي که بدي ئې زياته وه داسې به وي لکه چه هيڅ نيکي ئې نه وي کړي که د نيکئ پله ئې درنه وي بې ګناه به وګڼل شي دا ځکه چه اکثر په لږ و غالب وي او اقل له مينځه وړي.

صاحب المواقف وايي: د چانيکي او بدي که مساوي وي امکان لري چه ثواب په عقاب رجحان ولري.

شفاعت:

د شفاعت مسئله هم له اختلافي مسائلو څخه ده چه دواړه فرقې پکښې اختلاف لري.

اشاعره وائي: پيغمبر د کبيره ګناه د مرتکبينو شفاعت کوي چه له عذابه يې خلاص کړي او انجات ورمومي.

معتزله وايي: د شفاعت معنى دا نه ده چه د عذاب مستحق له عذابه خلاص شي بلکه د اجر او ثواب خاوند ته د اجر او ثواب زياتول د شفاعت معنى ده او پيغمبر د هغه چا شفاعت کوي چه د ثواب مستحق وي چه خدای ئې په اجر کښې زياتول وکړي او درجه ئې لوړه کړي.

په قرآن کريم کښې دا واضحه ده چه د کافرانو شفاعت نشي کيدی او نه شفاعت څه فايده ور رسوي: (فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشَّافِعِينَ المدثر آيت ۴۸) همدغه معنى افاده کوي.

په ځينو آيتونو کښې شفاعت د خدای په اذن پورې موقوف ګڼل شوی لکه په دې آيت شريف کښې: (مَن ذَا الَّذِي يَشْـفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِه البقره آيت ۲۵۵) يعنې ځوک دی هغه چه د خدای په نزد شفاعت وکړي مګر د هغه په اذن. په بل آيت کښې راغلي دي: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَنفِقُواْ مِمَّا رَزَقْنَاكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لاَّ بَيْعٌ فِيهِ وَلاَ خُلَّةٌ وَلاَ شَـفَاعَةٌ -البقره آيت ۲۵۴) په دې ايت کښې مومنانو ته ويل شويدي چه خپل مالونه د خدای په لاره کښې نفقه کړئ پخوا تردې چه هغه ورځ راشي چه نه پکښې خريد او فروش شته نه دوستی او نه شفاعت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پیغمبرانو عصمت:

د انبیاؤ په معصومیت کښې هم د نظر اختلاف موجود دی.
معتزله وايي: کیدی شي چه انبیا د نبوت نه دمخه دلویو او وړو ګناهونو مرتکب شوي وي او وروسته له نبوته هم د وړو ګناهونو مرتکب شي، یعنی دوی پس له نبوته انبیا له کبیره ګناهونو نه معصوم ګڼي.
اشاعره وايي: پخوا له نبوته دا امکان موجود دی چه انبیا دلویو او وړو ګناهونو مرتکب شي او وروسته له نبوته هم کیدی چه سهواً دلویې ګناه مرتکب شي مګر په قصدي او عمدي ډول غټه ګناه نه کوي یعنی له کبیره ګناه نه په قصدي صورت له نبوت نه وروسته معصوم دی.

معجزه او نبوت:

معتزله لکه چه د اولیاؤ له کراماتو څخه منکردي دغه شان د انبیاؤ له معجزو ښکاره کولو نه هم انکار کوي او نه ئې مني.
اشاعره وايي: نبوت یو مقام دی چه د خدای له لوري دخلکو د هدایت دپاره چاته ورکول کیږي او پیژندنه ئې پدې کښې کیږي چه خدای په خپل قدرت د معجزې ښکاره کولو توان پیغمبرته ورکوي.
دوی معجزه د نبوت شرط ګڼي او د معجزې دپیژندلودپاره دا شرطونه تعیینوي:
دخدای فعل دې وي، خارق العاده دې وي،.بل څوک دې هغه کار ونکړی شي. دنبوت دمدعي لخوا دې عملي شي. له دعوې سره دې موافق وي، د پیغمبرانو او د دهٔ دعوې په ضد دې نه وي.
د معجزې په خارق العادة توب کښې ځینې پوهانو ویلي دي چه که د خارق العاده کارمعنیٰ دا وي چه د طبیعت د نظام او د فطرت د اصولو په خلاف د علت او معلول له سلسلې نه بهر وي دا راز کار هیڅ ممکن ندی او که دغسې نه وي نو خارق العاده ویل ورته څه معنیٰ لري او نه ښائي چه د معجزې اساسي شرط وګڼل شي.
د اشعریانو مشران لکه امام رازي او امام غزالي چه د متکلمینو دغسې ایرادونوته متوجه شوه نو د خرق عادت قیدئې لغوه کړ لکه چه په شرح مواقف کښې لیکل شویدي: (وَالمُعجِزَةُ عِندَنَا مَایَقصُدُبِهِ تَصدِیقُ مُدَعِي الرِسَالةِ وَاِن لَم یَکُن خَارِقاً لِلعَادَةِ) یعنی زمونږ په نزد معجزه هغه ده چه دنبوت د مدعي تصدیق پکښې مقصود وي که څه هم خارق العاده نه وي.
امام فخر رازي وايي: په نبوت باندې باورلرونکي دوه ډوله دي:
یو هغه چه معجزه د پیغمبرۍ شرط ګڼي بل هغه چه وايي مونږ باید اول په دې پوه شو چه ښه او بد عقاید او کارونه کوم دي او بیا وګورو څوک چه خلک یوه دین ته رابولي په خبرو او تعلیماتو کښې ئې دنیکۍ او حقیقت څومره اثرشته او دا بلنه خلک تر څه اندازې له باطلو نه حق ته راګرځوي که چیرې دا یقین حاصل شي چه هغه پیغمبردی نو بیائې اطاعت لازم او واجب دی.
امام رازي وايي: (دمعجزې نفی له قرآن څخه صراحتاً معلومیږي چه فهم ئې مشکل ندی)
الله تعالی په سورة انعام کښې وايي: (وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ سورت انعام آیت ۴۸) یعني نه لیږو پیغمبران مګر زیري ورکوونکی او ویروونکی.
دا مطلب په قرآن کریم کښې څو ځله مکرر راغلی چه د پیغمبرانو کار د خلکو خبرول دي چه د ښو عملونو په مقابل کښې د ښه پاداش زیری ورکړي او د بدو کارو له عواقبه څخه ئې وویروي. دپیغمبرانو وظیفه همدغه ده او نور دخلکو کار دی چه مني ئې که ردوي ئې. په دین کښې اکراه نشته او حضرت محمد ته د خدای له لوري ویل شویدی چه ته دخلکو په مسلمانولو مکلف نه ئې څه چه تا ته وحی کیږي هغه خلکو ته رسوه او بس.
په دغه اساس معجزې ته هیڅ ضرورت نه پیدا کیږي چه د رسالت شرط ئې وګڼو ځکه الله تعالی حضرت محمد (ص) ته وايي: (قُل لاَّ أَقُولُ لَكُمْ عِندِي خَزَآئِنُ اللّهِ وَلا أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلا أَقُولُ لَكُمْ إِنِّي مَلَكٌ إِنْ أَتَّبِعُ إِلاَّ مَا يُـوحَىٰ الى –

(c) ketabton.com: The Digital Library

سورت انعام آیت ۵۰) یعنې ووایه نه وایم تاسو ته چه ما سره د خدای خزانې دي او نه وایم چه په غیب پوه یم او نه وایم تاسو ته چه زه ملک یم پیروي نه کوم مګر د هغه شي چه وحی ئي را ته شویده.
هر کله چه پیغمبر د خدای له لورې مامورد ی چه خلکو ته ووایي چه ما سره نه خزانې شته، نه علم غیب او نه زه ملک یم بلکه تاسو غوندې بشر یم او د وحی پیروي کوم نو بیا د معجزې لرلو سوال څنګه پیدا کیدی شي.
په سورة اعراف کښې هم پاک خدای حضرت محمد (ص) ته داسې امر کوي: (قُل لاَّ أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلاَ ضَرًّا إِلاَّ مَا شَاء اللّهُ وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لاَسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ إِنْ أَنَاْ إِلاَّ نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ سورت اعراف آیت ۱۸۸).
یعنی ووایه ! مالک نه یم د ځان د پاره د نفع او نه د ضرر مګر هغه چه د خدای رضا وي که زه په غیب پوهیدلی هرګوره به مې ډیر جمع کړي وٌ، د منفعت له جنس څخه او نه به رسید له ما ته هیڅ بدي.
نه یم زه مګر ویرونکی او زیری رسوونکی د داسې قوم د پاره چه ایمان لري. دغه راز واضح بیانونه چه په قرآن کریم کښې راغلي دي امام رازي حق لري چه ووایي قرآن معجزه په صراحت نفی کړیده. له معجزې نه خو معتزله چورمنکردي او اشاعره هم پکښې دوه ډلي دي چه یوه ډله ئې د نبوت شرط نه ګڼي یائې خارق العاده توب لازم نه ګڼي او په دغه صورت کښې د معجزې مفهوم له مینځه ځي او یوه مشکله موضوع د حل لاره پیدا کوي. که چیرې معجزه نفی نشي بلکه خارق العاده کار او د نبوت شرط وګڼل شي او دا تکی هم ورسره شي چه بل څوک هغه کار ونکړی شي نو بیا علاوه په عقلي او علمي استحاله چه د طبیعت او فطرت د اصولو خلاف د علت او معلول سلسلي نه بهر څه نشي کیدی دا مشکل هم پیښیږي چه اشاعره د پیریانو او شیاطینو په وجود او د انسان په بدن کښې ددوی په حلول او نفوذ هم عقیده لري او دا منی چه د بنیادم په وجود کښې د پیریانو حلول ددې باعث کیږي چه له دغه شخص نه خارق العاده چارې ځرګندې شي او د تعجب وړ وي. نو په دغه صورت کښې به د یوه پیریاني او سحرکار فرق چه د نبوت ادعا وکړي له رښتیاني نبي نه په څه شان وشي؟ له بلې خوا هغسې کسانو لکه: عبدالله بن مقنع، حکم بن عطا مزدک چه پخپل وخت کښې حیرانوونکي خارق العاده کارونه کړیدي یا اوس د مسمریزم او هیپنوتیزم په اساس صورت مومي له معجزې نه به ئې څنګه بیلوو او تشخیص به ئې کوو.
عبدالله بن مقنع دوه میاشتې د نخشب په شاوخوا کښې ځلانده سپوږمۍ له ځانه راوېستله چه ترڅلورو فرسنګو پورې ئې ځمکه رڼا کوله.
مزدک هم څه داسې وسیله پیدا کړې وه چه د اور له مینځ څخه به ئې خبرې کولې. بله دا چه که ووایو چه بل څوک دې هغسې کارونه کړی شي که ددې خبرې معنی داوي چه د معجزې د وقوع په وخت کښې دې څوک ونکړی شي نو بیا باید عبدالله بن مقنع پیغمبر وګڼل شي ځکه چه هغه وخت بل چا دغه کارنشو کولی او که مقصد داوي چه د جهان ترآخره څوک ونکړی شي دا پیشګوئي به څوک څنګه وکړي چه دا کار په وروستیو زمانو کښې څوک نشي کولی. هغه شفاګانې چه د عیسیٰ (ع) معجزه وه اوس د هپنوتیزم او مسمریزم په وسیله کیدی شي چه لکه معجزه کوم خاص علت نلري د همدغسې ملاخطاتو په وجه د متکلیمنو مهم اشخاص: امام غزالي، امام فخررازي، ابن رشد، راغب اصفهانی او شاه ولی الله یا معجزه د رسالت شرط نه ګڼي یائې له خارق العاده توب څخه مجزا کوي او د عقلي استدلال په حیث ئې د نبوت له موضوع سره مربوطوي. داؤ د معتزلیانو او اشعریانو ځینې مهم اختلافونه چه په علم کلام کښې مطرح شوه او له حسن بصری صوفي سره د هغه د شاګرد واصل بن عطا اختلاف ئې اصلی منشا او مبدا وه. په دغو اختلافاتو پسې نور هم ډیر اختلافونه راروان وو او په مختلفو نومونو، مختلفې فرقې په اسلام کښې راپیدا شوې چه مظاهر ئې ډیر ځرګند او ښکاره دي.
هماغسې چه په عیسوي دین کښې پروتستان (په پاپ باندې عقیده نه لرونکي) کاتولیک (د پاپ پیروان) او ارتدکس (په دین کښې رښتوني او د صحیح دین پیروان) پیدا شوه په اسلام کښې زیات شمیر مذهبونه او مسلکونه مینځ ته راغلل او د اسلام تطبیق د زمان او مکان د اختلاف په وجه مختلف شکلونه او صورتونه پیدا کړه. قرآن کریم که

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه هم په اصلي صورت محفوظ پاتې دی او تحريفات ئې په متن کښې نه دي راغلي مګر د تفسير او تاويل له لارې پکښې راز راز تعبيرونه وشوه او د متضادو افکارو د استدلال ماخذ وګرځيده.
د اسلام دين چه تقريبا څوارلس سوه کاله د مخه دنيا ته راغی او اوس پرې ډيرې پيړۍ تيرې شويدي، ډيره اوږده زمانه ئې طی کړيده او په دې کښې شک نشته چه د زمانې د غومره ډير تغير د ژوند په ټولو خواو کښې ډير بدلونونه راوستي دي او دين هم له دغو تغييرونو څخه مصئون نه دی پاتې.
ځينې پوهان وايي د اسلام دين د نورو اديانو په شان يوه اجتماعي پديده وه چه پخپل وخت کښې د ترقۍ او تکامل په لور يو قوي او مفيد حرکت و او ډير اصلاحات ئې وارد کړه مګر څومره چه توليد او توليدي وسايل ژر ژر تغير کوي اجتماعي روابط او سازمانونه ئې نه کوي او اديان څه موده وروسته نشي کولی چه ځان د توليد له څرنګوالي سره مطابق کړي په همدغه وجه بالاخره د ترقياتو په مخکښې سد کيږي او دا ضرورت مينځ ته راځي چه بايد مذهبي اصلاحات شروع شي او د مذهب او توليد ترمينځ نسبي تطابق مينځ ته راشي خو سره له دې بالاخر خبره هغه ځای ته رسيږي چه بيا اصولاً دين له توليد سره هيڅ مطابقت نه کوي او له مينځه ځي دا خبره چه هر څنګه وي، وي به دلته د بحث وړ دا خبره ده چه ايا د اسلام دين د زمانې تغييرته څه اعتنا کړيده او که نه؟ آيا په ديني او شرعي احکامو کښې ئې د اجتماعي بدلون په وجه سازش او تطابق ته لاره خلاصه پريښې ده که تړلې يې ده؟
په اسلامي فقه کښې خو د مذهب امامانو ځان ته د اجتهاد دروازه بيرته کړه او د زمان او محل په اعتبار ئې داسې احکام وضع کړه چه ضرورت ئې تقاضا کوله.
د عموم البلوی اصطلاح په همدغه وجه مينځ ته راغله او: (اَلضَّرُورَاتُ تُبِيحُ المَحضُورَات) يعنی ضرورتونه ممنوعات مباح کوي يو مهم اصل وګڼل شو. (ګرضرورت بود روا باشد) په ديني او شرعي احکامو کښې اجتماع او قياس وروسته له آيت او حديث څخه دوه مهم اصله ګڼل دا ثابتوي چه فقهاؤ له عصر او زمانې سره تطابق او د نوو احکامو استنباط او استخراج ضرور ګڼلي او دغه اصل ئې منلی دی.
په همدغه اساس اسلامي سني فقه د څلورو مذهبو د امامانو په اجتهاد تدوين شوه او د خلکو د احتياج مطابق په شرعي احکامو کښې ډيره اضافه وشوه او ډير نوي مسايل په عباداتو او معاملاتو کښې مينح ته راغله او بيا لوئي لوئي فتاوې راووتې او له اصولو او کلياتو نه جزئيات استخراج شوه.
په شيعی فقه کښې خو اوس هم د اجتهاد سلسله جاري ده او مجتهدين د اجتهاد حق لري مګر په سني فقه کښې د اجتهاد دروازه وتړل شوه او د راتلونکو وختونو ايجابات او مقتضياتو ته ونه کتل شوه ښائي د اجتهاد د دروازې تړلو يوه وجه داوي چه په اخره زمانه کښې دآخرې زمانې ملايان د دنيائي ګټو د پاره غلط حکمونه صادرنکړي او په دين کښې له سمې لارې نه منحرف نشي که دا کار په همدغه لحاظ هم شوی وي بيا هم ويلی شو چه په دين کښې د زمانې همدغه تاثير چه پخوا اجتهاد جايز و او اوس ناجايز دی ډيرلوی تغييردی او ډير زيات اهميت لري که د آخري زمانې د ديانت کمزوري د اجتهاد بندولو دليل کيدی شي نو بيا داخري زمانې د نوو ايجاباتو او مقتضياتو د پاره د نوو احکامو ضرورت ولې د اجتهاد د دوام موجب نشي کيدی. که څوک دا وايي چه د اجتهاد حق يوازې په څلورو امامانو (ابو حنيفه، شافعی، مالک او حنبل) پورې منحصر و نو ددې انحصار دليل به څه وي؟
هغه وخت چه دغو امامانو دفقهي مسايل راويستل په هماغه وخت کښې هم ددوی په معاصرينو او شاګردانو کښې داسې کسان و چه مخالفت ئې ورسره کاوه لکه: (زفر، محمد او ابو يوسف) او د دغه اجتهادي مخالفت د دين مخالفت نه ګڼل کيده پخپله د څلورو مذهبو يو له بله اختلاف دا ښيي چه عقلاً ممکنه ده چه څلور واړه مذهبه د مختلفو او متضادو احکامو لرلو سره بيا هم څلور واړه حق وګڼل شي او په يوه کښې هم څه غلطي نه وي. په همدغه وجه دا منل شويده چه يو مذهب به صحيح وي او نور دا اجتهادي سهوې په وجه معاف وګڼل شي يا به په يوه مذهب کښې ځينې احکام صحيح وي او په ځينو کښې به اشتباه پيښه شوې وي: (اَلشَّيخُ تَارَةً يُخطِي وَتَارَةً يُصِيبُ) شيخ کله خطا کيږی او کله حق ته رسيږي يعني دا نشی کيدی چه ټول مجتهدين په ټولو اجتهادي احکامو کښې له سهو او خطا څخه مصئون وي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستۍ زماني دايجاباتو او مقتضياتو رعايت په اسلام کښي معتبرګڼل شوی او پخپله دخدای په کتاب کښي داسي آيتونه شته چه د زماني د تغيير په وجه د ديني احکامو تغيير رابښيي او په دي مو پوهوي چه ديوه وخت احکام په بل وخت کښي د شرايطو او حالاتو په بدلون منسوخ شويدي.

سربيره په دي د خلفای راشدينو په وخت کښي هم ځيني مثالونه شته چه د وخت په بدلون د احکامو بدلون ثرګند وي. د رسول الله (ص) په زمانه کښي د اسونو زکات نه اخيستل کيږي مګر حضرت عثمان پخپل خلافت کښي د اسونو زکات واخيست او دليل ئي دا ؤ چه هغه وخت اسونه لږ و اودجهاد دپاره و مګر اوس ډير شويدي او تجارتي مال ګرزيدلي دي چه بايد زکات ئي واخيستل شي. همدارنګه رسول الله (ص) د قرآن کريم په حکم مولفة القلوب د بيت المال په مال کښي د برخي خاوندان ګڼل او دوی ته ئي برخه ورکوله مګر حضرت عمر (رض) پخپل خلافت کښي مولفة القلوب ته څه نه ورکول او ويل ئي هغه وخت مسلمانان ضعيف و او د قلوبو تاليف ته ئي ضرورت درلود چه اوس ئي نلري.

په سورة انفال کښي الله تعالی خپل نبي ته امرکوي چه مومنان جنګ ته وهڅوه او ترغيب ورکړه چه که ستاسو شل تنه صابران وي په دووسووغلبه مومي اوکه له تاسو نه سل تنه وي په زرو کافرانو باندي بريالی کيږي: (يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُواْ مِئَتَيْنِ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّئَةٌ يَغْلِبُواْ أَلْفًا مِّنَ الَّذِينَ كَفَرُواْ سورت انفال آيت ۶۵)

وګورئ ! په دي آيت کښي مسلمانان مکلف شويدي چه يوتن دلسوتنوکافرانو په مقابل کښي وجنګيږي خو څه موده وروسته چه حالات بدليږي يوبل آيت نازليږي او مومنانو ته وايي اوس خدای تخفيف درکړ او پيتۍ موسپک شو. خدای پوهيږي چه په تاسو کښي ضعف راغی که اوس ستاسو سل تنه صابران وي په دوو سوو غالبيږي او که زر تنه له تاسو څخه وي په دوو زرو تنو باندي د خدای په اذن غلبه حاصلوي او خدای دصابرانو ملګری دی:

(الآنَ خَفَّفَ اللّهُ عَنكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّئَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُواْ مِئَتَيْنِ وَإِن يَكُن مِّنكُمْ أَلْفٌ يَغْلِبُواْ أَلْفَيْنِ بِإِذْنِ اللّهِ وَاللّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ - سورت انفال آيت ۶۶) دلته يومسلمان د دوو تنوکافرانو په مقابل کښي په مقاومت مکلف دی او د زماني په بدلون په ديني تکليف کښي ډير کموالی راغلی دی د هجرت په آغازکښي مسلمانان لږ ومګر ديني جذبه او روحيه ئي ډيره قوي وه چه يوبه د لسو په مقابل کښي جنګيده اوبريالی کيده، حتی چه زرتنه مسلمانان له اتيا زره کافرانو سره جنګيدل او د موته په غزاکښي دري زره مسلمانان د دووسوو زرويعنی دوو لکو په مقابل کښي پايدار پاتي شوه، د هجرت له اغاز نه څه موده وروسته چه لومړنی مسلمانان بوډاګان اوضعيف شوه اونوی نسل د پخوانيو مهاجرينو او انصارو په شان معنآ اوروحآقوي نه و او نه هغه کامل يقين ورسره و نو يو تن د دووتنو په مقابل کښي په جنګ مامورشو يعني د رسول الله (ص) په حيات کښي د ډيروخت په تيريدو په يوه قرآني حکم کښي دغومره فرق او تغيير راغی اوعلت ئي هم د زماني تغيير وښودل شوځکه د تخفيف دآيت شروع په (الآن) باندي وشوه.

د اسلام ژوره، باريکه اوصحيحه مطالعه چه اجتهادي پوهه هم ورسره ملګري وي ډاډ راکوي چه اسلام په هروخت کښي د عصر له احتياجاتو سره مناسب احکام وضع کولی شي او يوازي د اسلام اجتماعي عدالت دا استعداد او ظرفيت لري چه بشري سعادت تامين کړي اوبس.

پای

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library